اسلام
او
سیکولرزم

تألیف
مطیع اللہ عائل

مکتبہ اسلامیه
کانسی روډ، کوټه

اسلام او سیکولرزم
تألیف مطیع اللہ عائل

اسلام

او

سیکولرزم

تألیف

مطیع الله عاقل

د طبع او ترجمې حقوق
د مؤلف سره محفوظ دي

ددې کتاب د ترلاسه کېدو ځای مکتبة إسلامية
نزد مسجد نور کانسي روډ کوټه .

نوري کتاب خانه بازار ارګ قندهار
افغانستان

مکتبه طيبه بالمقابل جامعة العلوم الاسلاميه
بنوري ټاؤن کراچي

*

د چاپ کال ۱۴۱۶ موافق ۱۹۹۶م .
خطاط ، عُمَير *
قيمت ، پنځوس کالداري .

* من نور القرآن الكريم *

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۝ ۱۰۹ البقرة

ترجمه : خوښوي ډېر له أهل د كتاب څخه دا چه وګرځوي دوى تاسي پس له ايمان راوړلو ستاسي كافران د حسد له سببه چه له ځينو نفسونو د دوى پيدا شوى دى وروسته له هغه چه ښكاره شو دوى ته حق چه رسول قرآن او د إسلام دين دى .

تفسير : يعني ډېر يهود او نصارى داهيله لري چه په هر ډول وكولاى شي تاسي له مسلمانى څخه واړوى او په كفر او نفاق كې مو داخل كړي حال دا چه دوى ته دا خبره ښه ښكاره ده چه د مسلمانانو دين ، قرآن او وروستنى نبي صلى الله عليه وسلم قول حق او رښتيا دى . * تفسير كابلى ص ۷۲ / ج - اول

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ ۝ ۸۹ سورة النساء .

ترجمه : دوست ګڼي دوى كه تاسي هم كافران شئ لكه چه كافران شوى دى دوى نو شئ به تاسي او دوى ټول سره برابر په كفر كښي نو مه نيسئ تاسي هيڅوك له دوى نه دوستان . * تفسير كابلي ص ۵۱۳ / ج - اول

* مِنْ نورِ الحَدِيث النبوي (ص) *

عَنْ عبدِ اللهِ بنِ عَمرٍو رضي الله عنه قال .... قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم لَيَأْتِيَنَّ على أُمَّتِي مَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً قَالُوا مَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي : رواه الترمذي : مشكوٰة ص ۳۰ ج - اول .

ترجمه : د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت شویدی ده وويل چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم وفرمائل خامخا راځي پر أمت زما هغه چه راغلي وه پر بني اسرائيلو (برابر به شي له دوي سره) لکه برابر والی د بوټ چوټی له بلی چوټی سره تر داسی حده که ؤ له دوی څخه يو څوك چه ورغلی ؤ مور خپلی ته په علانيه سره ضرور به وی زما په أمت کی داسی څوك چه کوی دا کار او بني اسرائيل سره جلا شول پر دوا ويا دلو او سره جلا به شي زما أمت پر درو اويا دلو ټول د دوی په اور کښی دی بيله يوې دلی څخه ، دوی (صحابه ؤ) وويل څوك دی هغه دله ؟ يا رسول الله نبي كريم صلى الله عليه وسلّم وفرمائل هغه کسان دی چه زما او زما د أصحابو پر لار دی .

☆ إهداء ☆

١☆ دحق دلارې مسافرانو ته :

٢☆ دقرآني نظام غوښتونکو مفکرينو ته :

٣☆ د إسلامي نظام عملي کونکو مجاهدينو ته :

٤☆ د إسلامي علومو زده کونکو طالبانو ته :

فهرست

عنوان	صفحه
مقدمه ...	۱
*** سکولرزم**	
۱* د سکولرزم تعریف او مرحلې ...	۱۰
۲* دین او مذهب څه ته وائي؟ ...	۱۱
۳* د دین معنیٰ د قرآن له نظره ...	۱۳
٤* دین یو إنساني ضرورت دی ...	۱٦
۵* د دین أهمیت په ټولنه کې ...	۲۰
٦* د سکولر حکومتونو أقسام ...	۲٤
۷* د إسلام نه مخکې نصراني ټولنې ته یوه کتنه ...	۲۹
۸* رهبانیت ...	۳۳
۹* د رهبانیت لمړنی مشر ...	〃
*** د سیکولرزم د مېنځ ته راتللو سببونه**	
۱* أول سبب د حکومت او مذهبي مشرانو ترمېنځ د قدرت کشمکش ...	۳۸
۲* دوهم سبب دین او مذهب د هوس او دنیا طلبۍ ذریعه جوړول ...	٤۰
۳* دریم سبب په راهبانو او مذهبي مشرانو کې د عیاشۍ او دنیاداري عادت زیاتېدل ...	٤۳

عنوان — ها ء — صفحه

٤* په دين او مذهب کې فرقې جوړول ... ٥١

٥* د دين مذهب او علم، تمدن، ترقۍ ترمنځ تضاد ... ٥٩

٦* د ديني او مذهبي مشرانو لخوا د ټولنې د خرابېو اصلاح نه کول ... ٦٩

په إسلامي ټولنه کې د سيکولرزم د منځ ته راتللو سببونه

١* د خلافت عثماني نړېدل ... ٧٤

٢* لمړنۍ جنګ جهاني ... ٨٠

٣* پر ترکيه باندې د مصطفى کمال اتاترک حکومت ... ٨٤

٤* د ملل متحد د إدارې جوړېدل ... ٩٠

د ملل متحد د إدارې أغراض او مقاصد *

١* ماده ١ - جزء - ٢ - * ... ٩٤

٢* د إسلامي قانون سره أول تضاد ... ٩٦

٣* د إسلامي قانون سره دوهم تضاد ... ١٠٥

٤* د إسلامي قانون سره دريم تضاد ... ١١٧

پر إسلامي ټولنه د سيکولرزم ناوړه اغېزې *

١* په نظام سياست کې ... ١٢٤

٢* په نظام تعليم کې ... ١٢٩

٣* د إسلامي بيت المال موارد ... ١٤٩

٤* د إسلامي بیت المال مصارف ... ۱۸٤
٥* پر إسلامي نظام مالیات باندی د سیکولرزم منفي أثرات ... ۲۱۳
إسلام او سیکولرزم * ۲۱۷
۱* د حکومت إثبات د قرآن له نظره ... ۲۱۸
۲* د حکومت إثبات د حدیث له نظره ... ۲۳۲
د إسلامي سیاست او سیکولر سیاستونو ترمینځ توپیر او فرق ... ۲٤۲
خاتمه ... ۲۵۵
مأخذونه ... ۲٦۳
تقریظونه ... ۲٦٦

بسم الله الرحمن الرحيم

* مُقدّمه *

الحمد لله رب العٰلمين ، والصلوٰة والسلام علیٰ سيد المرسلين محمدٍ ، وعلیٰ آلـه وأصحابه أجمعين ،،،،

أما بعد * نن عالم إسلام خپل د تاريخ پر هغه خطرناکه دوراهي باندی ولاړ دی چه خپل د کاميابۍ دلاري په باره کی د تذبذب ښکار دی ، او په افسوس بايد ووايو چه نن د مسلمانانو په سترګو کې د کاميابۍ زاويه بدله شوېده او إنسان په خپل داسی دورکې ژوندکوی چه ورو ورو د وروسته غاړې پرې کوی ،

هغه خطه چه تر پرون پورې د أمن او أخوت ځانګووه نن د نفرتونو او دشمنيو ځاله جوړه شوېده او دهری دروازې ترشا د نفرت ، تعصُّب ، او إنسان وژنې منحوس مخ پټ دی ،

نن بوسنيا په داسې وينو ژاړی چه پاکي هم شی نشان بې ځې پاته وی او د کشمير په شـپلوکې د موت

آوازونه راپورته کیږي .
افغانستان دخپلو تولو قربانیو سره سره د نا امیدۍ اوښکې تویوي، دجاهلیت د دورې تول خویونه پکښې لیدل کیدای شي، که په غور و رته وکتل شي داسې معلومیږي لکه د جاهلیت د دورې چه بیرته ابتداء شوې وي کوم چه دعیسوي سنې په (۷) صدۍ کښې عرب خوځه په تولنه کې خورشوي وو ،
دتولنې هر شې په غلط ځای وو، لیوه د پسو چوپان وو ظالم ته دخصوماتو دحل او فصل کولو لپاره وظیفه ورسپارل شوې وه ، په هغه تولنه کې مجرم خوش قسمته او اسوده وو، او نیک سیرته په زحمت او تکلیف وو، ښه اخلاق او نیکي کول لوی جرم وو، حماقت او بداخلاقي لوی هنر بلل کیدل ، شراب خوري بدمستي ، بداخلاقي ، سودخوړل ، چور چپاول ، دمال محبت او هوس پرستي وخپل انتهاء ته رسیدلې وه ، سنګدلي او بې رحمي تردې حده رسیدلې وه چه ژوندۍ انسانان به ئې په کور کښل ، او د

وخت مشرانو به د دولتي مالونه خپل ملك او رعايا به يې
مريان تصور کول او د وخت عالمانو او درويشانو د
خپلو ځانو څخه خدايان جوړه کړي وه، خلکو ته
به يې د خپله ځانه د حلال او حرام حکمونه ورکول
او د خداى ج د عبادت پر ځاى يې د خپل ځان احترام
ډير ضروري باله، يعني يو سړي ته د خداى ج د
احکامو پرېښولو سزا نه ورکول کېدل او ديو عالم
(راهب) په بې احترامي سزا ورکول کېدله، او په
مختلفو طريقو، حيلو او بهانو به يې د خلکو مالونه
خوړل او په مختلفو لارو به يې خلك د خداى ج د دين د زده-
کړې څخه راګرځول: لکه څرنګه چه الله عزّوجلّ
د دوى دغه اعمال په لاندني آيت کى مؤمنانو ته داسي
تشريح کوى او فرمائي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ
أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ؛

د بل څخه به يې زکاتونه او خيراتونه اخستل او خپله
يې نه ورکول، لکه چه الله جلّ جلاله فرمائي:

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ؛

خلاصه دا چه د قبل الاسلام ټول عادات او اخلاق د اوسنیو خلکو په ټولو طبقو کی لیدل کیږی ، داسې معلومیږی لکه چه تاریخ یو ځل بیا راګرځیدلی وی،

ترېږوړن پورې مسلمانانو دا رو پا تقلید صرف د فیشن په حد کې کاوه ، لکن نن نې د مغوی ټول خیالات ، افکار او عادات د ژوندانه په ټولو ارخونو کې لیدل کیږي ؛

نن چه په اروپا کی هره نعره پوره کیږی په ټوله اسلامی نړی کی د مغې ګردان کیږی او د مغوی د اسلام دښمنۍ ټول پلانونه د تطبیق په حال کی لیدل کیږی : د مثال په ډول په سیاست کی لادینیت او ظلم په اقتصاد کی سود او احتکار په تعلیم کی د نر او ښځی مخلوط نظام په ابلاغ عامه کی عریانیت او فحاشی په دینی ډلو کی پاپایت او رهبانیت ، د دینی او سیاسی ډلو بیل بیل تنظیمونو جوړول او د مغوی ترمینځ جګړې او فساد

جوړول؛ د نشنلیزم، مارکسیزم او سکولرزم آوازونه د مسلمانانو د اولادونو د خولو څخه راپورته کول: دا ټول د اسلام د دښمنانو هغه پلانونه دي، د کوم په باره کې چې الله عزّوجلّ فرمائي:

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا ؛

خوښوي ډېر د اهل کتابو څخه لکه یهود او نصارٰی دا چې دوی تاسې پس له ایمان راوړلو ستاسې، کافران وګرځوي؛

دا هغه ارو یاده چې د طارق بن زیاد او موسیٰ بن نصیر رحمهما الله ترقد مولاندې وه او دا هغه ارو یاده چې پر هغوی د خپلو راهبانو او د کلیسا د مشرانو له خوا د هر قسم علم حاصلولو بندیز و او د مسلمانانو د خراغ څخه ئې رڼا واخسته،

او بل موږ یو چه د تاریکیو د ژورې کندې و خواته روان یو او د کومک لپاره و دوی ته لاس غځوو،

موږ هغه مسلمانان یو چه نورو خلکو به موږ ته وکتل مسلمانان کیدل به او زموږ د لاس محتاج وه، موږ به

ددوی حفاظت او ددوی ترمينځ فيصلې کولې ، لکن
چه مسلمانانو دين محمدی ص په عملی توګه پرې اينې
دی او د اسلام څخه بې د نورو مذاهبو په شان صرف
د څو عباداتو او معتقداتو مجموعه جوړه کړيده په
هغه کی هم سره اختلاف لري او ډ ونډانه په نور
نظام کی د پردیو افکار خپلوی ، کله د سکولرزم او
کله د کمونيزم او کله د نشنلیزم او داسي
نوري ناري وهي :
خپل اسلام مو میر کړی دی په ذهنی ډول مو د بل
حکمرانی تسليم کړيده حالانکه په قرآن کريم کی
د مسلمانانو لپاره واضح او صريح هدايات موجود دی
الله عزوجل فرمائی :
كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ
وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ :
تاسي ياست ای امته د محمد صلی الله علیه وسلم خير د
امتو چه ايستل شويدی د پاره د خلکو چه حکم
کوی تاسی و هرچا ته په نيکی سره او منع کوی

تاسې هر څوک د بدۍ څخه او ایمان لرئ په الله باندې ؛

نن د غه قرآن پاک په لیکلې شکل، سره د ټولو تفسیرو او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم احادیث په لیکلې شکل او د امامانو اجتهاد و نه ټول زموږ په مینځ کې موجود دی او په هر ملک کې په زرهاوو مدرسې او په لکونو کسان د اسلامي علومو درس او تدریس کوي او په لکونو کسان روزانه د دین تبلیغ هم کوي بیا څه وجه ده چه موږ د ناکامۍ او ذلت ژوند تیروو او په هر ځای کې پس پاتې یو ؛

وجه صرف دا ده چه موږ ځانو ته مسلمانان وایو، وجه دا ده چه موږ خپل ځانونه او د خپلو ځانو حیثیت هیر کړیدی او د حکمرانۍ حق مو د ښمنانو ته سپارلی دی خپل ځانونه مو د هغو محتاج کړیدي ؛ دین ته د کمال عقیده لرو خو بیائې هم په مکمله توګه نه پر ځان عملي کوو او نه ئې پریږدو، نه ئې په انفرادي ژوند کې عملي کوو او نه په اجتماعي ؛

که موږ د خپل ژوند او د ټولنې د امورو په غور مطالعه وکړو او د قرآن په رڼا ورته وګورو موږ به خپله د سکولرزم او یا لادینیت ډیرې علامې په نظر راشي او که د خپلو د ښمنانو د ښمنۍ تاریخ مطالعه کړو خپله به اعتراف وکړو چه موږ د خپل دین خدمت نه کوو بلکه د مغوی داهدافو تطبیق په شعوري یا غیرشعوري توګه کوو، ځکه موږ د لادینیت او یا سکولرزم د مفهوم سره بالکل نا اشنا شوي یو، په عین دین کې لادینیت ته لاره هواروو .

زما د غه بحث د لیکلو یوازنې سبب داوو چه یوه ورځ مې د یوه اسلامي ملک په جریده کې د هغه ملك د یو مسلمان وزیر دا بیان تر سترګو تیر شو چه ویلي یې وه الله پاك نعوذ بالله سکولر دی ځکه چه فرمائي رب العلمین داسې نه وائي چه رب المسلمین، او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم نعوذ بالله سکولر دی ځکه د هغه په هکله ویل کیږي

رحمة للعلمين داسي نه وائي چه رحمة للمسلمين؛

ما دا فکر واخیستی چه خلك څومره د سکولرزم دمفهوم سره نا اشنا شویدی، نو ځکه مي دا بحث ولیکی اوپدې کې زه د خپل توان په اندازه او د مختلفو کتابو په حواله صرف دغه یو څو ټکی تشریح کوم چه سکولرزم څه ته وائي او دین څه ته وائي او د سکولرزم تاریخ ته لنډه کتنه کوم د سکولرزم قسمونه او اسباب بیانوم، او د اسلام او سکولرزم ترمینځ تضاد ته اشاره کوم تر څو دا ثابته شي چه سکولرزم نه یو دین دی او نه یو نظام حیات دی بلکه دا مغه خطا ایستونکې ناره ده چه خلك د دین څخه لا دینیت ته را بولي او یا د دین او دولت بیلتون ته وائي تر څو عام مسلمانانو ته فائده شي او ما خپل دیني مسئولیت رفع کړی وی،

الله جل جلاله دی دغه خدمت د قبول وړ وګرځوي او الله جل جلاله دی وکړي چه مسلمانان نفع ځنی واخلي او خپل اصلي دین ته را وګرځي.

ومن الله التوفیق،   مولوي مطیع الله (عائل) ۱۳۷۲/۳/۲۹

* سکولرزم *

سکولرزم یوه لاتیني کلمه ده ، معنیٰ ئې ده لادینیت ، په اصطلاح کې د دین او دولت جلاکولو ته وائي ، او یا د هغه تحریك نوم دی چه د دین او دولت د جلاکولو لپاره کوشش کوي ،

معنیٰ دا چه هر هغه څوك یا هر هغه حکومت چه دین او د انسان د ژوند د نظام سره جلا کوي وه د هغه شخص یا حکومت ته سکولر ویل کیږي او د هغه جلاکولو ته ئې سکولرزم ویل کیږي ؛

د جلاکولو معنیٰ ئې دا ده چه دین د فرد یو شخصي کار دی صرف په عبادت خانو پورې اړه لري په تولنیز امورو کې او یا د حکومت په چارو پورې هیڅ تعلق نه لري .

* د سکولرزم مرحلې *

سکولرزم د معنیٰ له نظره او یا د استعمال له نظره پر دوو مرحلو ویشل کیږي ؛

لمړې مرحله څه نرمه یا معتدله ده چه هغه دین د

دانسان یو شخصي کار بولي او صِرف په عبادا تو او معتقدا تو پورې اړه لري، دغه مرحلې ته نشنلزم او سېکولارزم ویل کیږي؛

دوهمه مرحله ئې هغه بدترینه مرحله ده چه په هغه کې د دین، مذهب او الله ﷻ نه بالکل انکار کیږي او وائي چه د دین، مذهب او الله ﷻ هیڅ حقیقت نشته صرف همدغه دنیا ده، دغه مرحلې ته کمونیزم او یا چپ لاسی ویل کیږي؛

معلومه شوه چه نشنلزم او کمونیزم د سکولرزم دوه ښاخونه دي؛ (۱)

* دین یا مذهب څه ته وائي *

د دنیا مفکرینو د دین مختلف تعریفونه کړي دي خو هیڅ یوئې د بل سره سر نه خوري او نه په مغو کې داسې تعریف شته چه جامع او د دین ټولو برخو او تصوراتو ته شامل وي؛ څه تعریفونه ئې د

(۱) مباحث فی الغزو الفکری؛ قندیل محمد قندیل ص ۶۶ - ۶۷

غیر اسلامي پوهانو له نظره په لاندې ډول دی :

۱ = پروفیسور تیلر د دین تعریف داسې کوي ، پر روحاني هستیو باندې ایمان لرلو ته دین وايي :

۲ = کانټ وايي ، هره فریضه خدايي حکم ګڼل دین څخه عبارت دی :

۳ = پروفیسور جیمز ایچ لیوبا ، په خپل یو کتاب کې د دین مختلف تعریفونه رانقل کړیدي کوم چه د دین په یوه نه یوه جزء باندې احتواء کوي چه ددغه تعریفو څخه څه په لاندې ډول دي :

الف : دین د هغه احساس نوم دی کوم چه د یو مقدس ، اوچت او نالیدلی ذات وجود د انسان په زړه او دماغ کې پیدا کوي :

ب : دین یو روحاني او رواني حالت دی کوم چه د هغه بنیاد په دې عقیده لرل دي چه په انسان او کائناتو کې یو تر بله کاملاً یو رنګي او هم آهنګي حکومت کوي :

ج : دین د هغه پلتنې نوم دی کوم چه انسان

ئي دژوندانه دحقيقي مقاصدو ترلاسه کولو لپاره کوي.

دا سلامي پوهانو په نظر کي دين دهغولارښوونو او حکمونو نوم دی کوم چه وخت په وخت الله ج دخپلو پيامبرانو په ذريعه خپلو بندګانو ته رالیږلي دي ترڅو هغوئ ددغو لارښوونو په سيوري کي حرکت وکړي او ددنيا او آخرت دژوندانه نيکمرغي او سعادت ترلاسه کړي (۱).

* ددين معنیٰ دقرآن له نظره *

ددين لفظ په قرآن کريم کي په مختلفو معناؤ راغلی دی چه ځيني په لاندي ډول دي ،

الف : دين په معنیٰ دطاعت او عبوديت لکه پدې آيت کي؛
وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ : (۲)

ترجمه : څوک دی ډیرغوره له جهته ددين ترهغه چا چه ايښی ئي وي خپل مخ خاص دالله ج حکم ته په داسي

---

(۱) اسلام اور مذاهب عالم - اسرار الرحمن بخاري ، ص ۸-۹-۱۰

(۲) سورة النساء ، آية ۱۲۵

حال کې چه دې نیکوکاروي او متابعت ئې کړې وي ؛ دلته دین په معنیٰ د بنده متابعت او عبودیت کولو دی .

ب ؛ دین په معنیٰ د جزاء او حساب ؛ لکه په دې آیت کریمه کې ، مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ؛ (۱)

ترجمه ، چه مالك دی د ورځې د جزاء او حساب .

ج ؛ دین په معنیٰ د عقیدې او ملت ، لکه په دې آیت کې لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ؛ (۲) ترجمه ؛ ستاسو خپله طریقه او عقیده ده په عبادت کې د غیرالله او زما خپله طریقه او عقیده ده په عبادت کې د الله تعالیٰ .

د ؛ دین په معنیٰ د شریعت او قانون ، لکه په دې آیتونو کې ، اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ ؛ (۳)

ترجمه ؛ شریعت او قانون د انسانانو لپاره د الله عَزَّوَجَلَّ په نزد اسلام دی .

---

(۱) سورة الفاتحه (۲) سورة الکافرون

(۳) سورة آل عمران ؛ آیة ۱۹

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ : (۱)
ترجمه : او مغه څوك چه د اسلام څخه پرته بل قانون غواړي هيڅكله نه څني قبليږي :

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ، (۲) ترجمه : نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو شريعت او قانون مكمل كړی :

اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ : (۳) ترجمه : تاسو دا شريعت قائم كړي او عمل پرې وكړی او پدې شريعت كي تفرقه او اختلاف مه كوئ. (۴)

د پورتنيو معناؤ په نظر كې نيولو سره ويلای شو چه د قرآن په نظر كې دين يو مفهوم كلي دی چه د انسان په ژوندانه پوري مربوط ټول اړخونه شامل دي كه د دنياوي كه د آخرت ، كه معتقدات وي كه عبادات كه معاملات وی كه سياسيات ، انفرادي وي كه اجتماعي

(۱) سورة آل عمران ، آية ۸۵ (۲) سورة المائدة : آية ۳ :
(۳) سورة الشورى : آية ۱۳
(۴) محاضرات فى الثقافة الاسلامية ، أحمد محمد جمال ص ۳۴-۳۵

دا باید تول د هغه قانون او شریعت مطابق وي
کوم چه مالك حقیقي د انسانانو لپاره غوره کړي
او نعمت ئې بللئ دی ؛ او د هغه چا د رضا لپاره وي
چه مالك د وړځي د جزاء دی ؛ او پاڼې نیت عمل په
وکړي چه زما سره حساب کیږي او جزاء راکول
کیږي او دا تول طاعت او عبادت بولي .

* دین یو انساني ضرورت دی *

کله چه انسان د نیا ته راغلی نو دا ضروري خبره
ده چه په دغه د نیا کې دا وسیدلو طریقه زده کړي
او د دا تللو حکمت وپیژني او د خپل آخرني حال
او عاقبت څخه ځان خبر کړي ،
کله چه الله عزّ وجلّ لمړنی انسان آدم علیه السلام
د نیا ته راولیږی نو پر ځکه باندي دا وسیدلو په هکله ئې
ورته وفرمائل ، قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم
مِنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ : (١)

---

(١) سورة البقرة ، آیة ٣٨

ترجمه : موږ وویل چه تاسي کښته شئ ټول په
راځي تاسي ته زما له طرفه د ژوند تیرولو هدایات
که چا زما د هدایا تو پیروي وکړه په هغه به هیڅ قسم
ویره او خفګیان نه وي ؛

معلومه شوه چه پر ځمکه باندي د ژوند تیرولو
طریقه انسانانو ته د انسانانو خالق وربښي ، دا چه
څرنګه ئې وربښي د هغه په هکله فرمائي ؛
وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا اَنِ اعْبُدُوا اللهَ (۱)
ترجمه : په تحقیق سره موږ په هر امت کي رسول
رالیږلی دی او د هغوی په ذریعه مو خلکو ته
ویلي دي چه تاسي د الله جل جلاله عبادت کوی ؛

د الله عزّوجلّ هدایات به د ضرورت مطابق او
د وخت مطابق ور سول ته د وحي په ذریعه رائلل
لکه څرنګه چه فرمائي ؛
وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحٰى ؛ (۲)

(۱) سورة النحل ؛ آیة ۳۶ (۲) سورة طٰهٰ ؛ آیة ۱۳

ترجمه : الله عزّ و جلّ خپل رسول ته فرمائي چه ما ته غوږ کړي يئ او زما وحی ته غوږ ونيسه :

معلومه سوه چه خپله رسول ته هم دا اجازه نشته چه د الله جلّ جلاله د هدايات او وحی په خلاف د خپل ځان څخه هدايات ور کړي بلکه رسول پدې امر کوی چه ته انسانانو ته ووايه چه بيله وحی څخه د بل څه اتباع نه کوی ، لکه څرنګه چه فرمائي :

اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰى اِلَيَّ وَمَا اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ : (۱)

ترجمه : زه متابعت نه کوم مګر د هغه څه چه ما ته د الله جلّ جلاله له طرفه څخه وحی کيږي ، او زه نه يم مګر ويرونکی ښکاره : او په بل آيت کی فرمائي :

قُلْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰى اِلَيَّ : (۲)

ترجمه : ته ورته ووايه چه زه ستاسو په شان

(۱) سورة الأحقاف ، آية ۹ (۲) سورة الكهف ، آية ۱۱۰

بشريم ماته وحي كيږي زه مغه وحي تاسو
ته رسوم .
او دا چه نخه لپاره راغلى دى د مغه په هكله
الله جلّ جلالُه فرمائى ؛
وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ؛ (۱)
ترجمه ؛ ما نه دي پيدا كړي پيريان او انسانان
مګر د عبادت لپاره ؛ د الله جلّ جلاله په ټولو
هدايا تو باندي عمل كولو ته عبادت وائي ؛
او دا چه د انسان عاقبت او آخر به څه وى ، د مغه
په هكله الله جلّ جلالُه فرمائي ؛
قُلِ اللهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهُ ؛ (۲)
ترجمه ؛ ورته ووايه چه الله جلّ جلاله مخلوقات
پيدا كوي او بيرته يې راحشر كوي ، او په بل آيت كي
فرمائي ؛ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيْدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا
إِنَّا كُنَّا فَاعِلِيْنَ ؛ (۳) په بل آيت كي فرمائي

(۱) سورة الذاريات ؛ آية ٥٦ (۲) سورة يونس ؛ آية ٣٤
(۳) سورة الأنبياء ؛ آية ١٠٤

اَللهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ : (۱)

په پورتنیو آیتونو کې الله عزّوجلّ انسانان د عاقبت څخه خبروي چه بیرته ماته راځئ، او زه به حساب در سره کوم چه څومره مو زما په هدایاتو عمل کړیدی.

* د دین اهمیّت په ټولنه کې *

کـه د الٰهي ادیانو په غور سره جائزه واخستل شي دا خبره معلومیږي چه د دین اساس او بنیاد د الله ج توحید او یو کنل دي، ټولو رسولانو د توحید او د الله ج د پیژندلو تعلیم ورکړیدی، یدې هکله قرآنکریم داسې فرمائي:

وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْ اِلَيْهِ أَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا فَاعْبُدُوْنِ : (۲)

ترجمه: له تا څخه مو مخکې هیڅ رسول نده لیږلی مګر دا چه هغه ته مو وحی کړې وه

(۱) سُورة الروم : آیة ۱۱ (۲) سُورة الأنبياء : آية ۲۵

چه له ماڅخه پرته بل هيڅ معبود نشته ، نو خاص زما عبادت وکړي .

د الله جلّ جلالهُ د واحد او لاشريك منلو څخه څه ګټي په لاس راځي ؟ څه يې په لاندي ډول دي :

۱ * اتحاد : د توحيد عقيدهٔ د انساني نسل د اتحاد بنسټيزه ډبره ده ، دا مغه بنياد دی چه پر مغه باندې ديو والي د نکه ودانی جوړيدلای شي ، د توحيد عقيدهٔ انسانيت ته دا درس ورکوی چه ټول بني آدم بايد د وحدت او محبت په فضاء کي يو تر بله سره ژوند تير کړي .

۲ * د أمن قيام : د توحيد عقيدهٔ د نړيوال أمن راوستلو ضامنه ده ، دا ځکه چه د توحيد د عقيدې خاوندان ټول الله جلّ جلالهُ يو د بل ورونه بللي دي او د عقيدې ورور ولی ديو والي ، محبت ، او مساوات مکمل پيغام د ځان سره لري ؛ نفرت ، کرکه دښمني او تعصب ختموي ؛ لکه څرنګه چه الله تعالیٰ فرمائي : إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ

قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا ، (١)

ترجمه : تاسو د یو بل دښمنان واست، د الله ج د دین او توحید
دعقیدې په سبب تاسو ورو نه جوړ سواست ،
نو کله چه د ښمني او تعصب د دنیا د قومونو څخه
ورکه او لیرې شي ملت د أمن د قائمولو لپاره هیڅ
کومه ستونځه نه پاته کیږي .

٣ * علمي پرمختیا ؛ د توحید عقیده د ساینس او نورو
علومو د پرمختیا ضامنه ده، ځکه مغه انسان ته
دا درس ورکوي چه دې أشرف المخلوقات دی
او د کائناتو هر شی د ده د موسائې او ګټې اخستلو
لپاره پیدا شویدی ؛ لکه څرنګه چه فرمائې :

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا : (٢)

ترجمه : او الله تعالیٰ هغه ذات دی چه په ځمکه
کې ئې هر څه ستاسو د منفعت لپاره پیدا کړیدي،
دا درس د کائناتو د هر شي د مسخر کولو

---

(١) سورة الأنعام : آية ١٠٣ (٢) سورة البقرة : آية ٢٩

لپاره دانسان توجه را اړوي او انسان د کائناتو د عناصرو د خواصو په معلومولو کښې سرګرم پاتې کيږي او په نتيجه کې مختلف علوم او ساينس ترقي او پرمختيا کوي .

۴ * إنساني فلاح او نيکمرغي : دين يوا ځې او يوا ځې هغه قوت دی چه دانسان د روحاني او مادي کاميابيو ضامن دی ، هغه داسې اصول او مقررات ټاکلي دی چه إنسان پر هغې سم روان شي د پوره نيکمرغي او برياليتوب په درشل کې به ودريږي .

۵ * عقل ته لارښوونه : دانسان عقل کوتاه او نيمګړی دی ، دين دانسان د عقل د لارښوونې لپاره فاميلي عمراني ، سياسي او اقتصادي أصول وضع کړيدی ترڅو انسان د هغو أصولو په رڼا کی د ژوند هر ډول مسائل حل کړي :

کـه چيرته دانسان په وړاندې دغه أصول نه وای نو خدای خبر چه هغه به د هلاکت او تباهي کومې کندې ته لويدلی وای ؛ همدا وجه ده

چې اسلام انسان ته د هوښیار عقل څخه په کار اخستلو باندې زیات امر کوي . (١)

* د سکولر حکومتونو أقسام *

کله هم د پورتنی تحقیق او د سکولرزم د تعریفونو او مرحلو د تقسیم څخه معلومیږي چې سکولرزم په دین باندې په مکمله توګه عمل نه کولو او یا د دین څخه انکار کولو ته وائي ، مغه که په انفرادي توګه وي یا اجتماعي ، په سیاسي او اقتصادي چارو کې وي او که په اخلاقي ، او یا د ژوندانه په نورو اړخونو کې وي

معنیٰ دا که یو سړې یا دیوې کورنۍ او یا دیو دولت مشر یا خو د دین څخه بالکل انکار کوي او یا دین صرف د عباداتو او معتقداتو په ساحه کې مني خو د ژوندانه په نور نظام کې دین ته مداخله نه ورکوي و دغه سړي یا د کورنۍ او دولت مشر ته هم سکولر ویل کیدایشي ؛ لکن په اوسنی عصر کې سکولرزم

(١) اسلام اور مذاهب عالم ـ اسرار الرحمٰن بخاري : ص ١٠-١١-١٢-١٣

دداسي دولتي نظام نوم کېږي‌دلی دی چې مغه یا
خو ددین څخه إنکار کوي او یا دین ته په دولتي
امورو کې مداخله نه ورکوي ؛ نو ځکه دوی سکولرزم
د دولت او یا حکومت په سطحه و څو اقسامو ته
ویشي چې څرنګ په لاندي ډول دي ؛
۱ * سکولر حکومت نه یوازي دا چې لادین او بې مذهبه
وي بلکه په مغه کې پر دین او مذهب باندې بندیز
لګول کیږي ، حتیٰ په شخصي توګه هم پر دین
باندې دعمل کولو إجازه نه ورکول کیږي لکه په
إلحادي او کمونستي هیوادو کې .
۲ * په سکولر دولت کې نظام حکومت ، نظام إقتصاد
نظام زراعت ، نظام دفاعي ، نظام بانکي او داسې نور
چارې به پر لا دیني اصولو ولاړې وي ؛ خو دا ضروري
نه ده چې پر مذهب باندې بالکل بندیز ولګوي بلکه په
یوه سکولر حکومت کې هم خلک کولای شي چې په
شخصي ډول خپل مذهبي او دیني رسومات پوره کړي
او یا خپل شخصي امور دخپل دین او مذهب د اصولو

مطابق اداء کړي، لکه ډهند په حکومت کې .

٣ * سکولر حکومت به د دین اومذهب په مکله بې طرفه وي، یوخاص مذهب ته به برتري او ترجیح نه ورکوي، بلکه دین به د ټولنې دافرادو خپله شخصي نظریه بولي؛ معنی داچه هرفرد کولایشي چه د کوم دین پیروي کوي حکومت به په مغه کی مداخله نه کوی، اما په قانوني اوتعلیمی أمورو کې به د یوخاص دین پیروی نه کیږي لکه په امریکا یابرطانیه کی.

۴ * سکولر حکومت به د دین اومذهب په معامله کی بې طرفه وی، پدې معنی چه په ټولنه کې چه هر څومره ادیان اومذهبونه وی وټولوته به داحترام په سترګوګوري، نه یوازې دا بلکه دټولو سره به مادي کومک هم کوي اوپه ټولنه کی به دهردین خلکو دخپل دین مطابق تعلیمی اداري خلاصولای شي، او نور رسومات لکه ازدواج، ولادت، هدیرې اوفاتحې، عنعنات اومراسم دخپل دین مطابق ترسره کولایشي

لٰکن په دولتي چارو کی به هیڅ مذهب ته دداخلیدو اِجازه نه ورکول کیږي .

۵ * سکولر حکومت کولایشي چه خپل ځان وه یو خاص دین ته منسوب کړي، لٰکن خپل دغه مذهب د دولتي وسیلو په ذریعه پر نورو نشي مسلّط کولای اوبل داچه د دولت په هغه امورو کي چه په عامو خلکو پوري اړه لري لکه قانونِ تعلیم او اقتصاد او داسي نورو کی به وه دین ته د مداخلې حق نه ورکوي، داقسم سکولرزم په أکثره إسلامي او نصراني هیوادو کی رواج لري :

په پورتنیو قسمونو کی کولای شو چه لمړي قسم ته ډیر سخت او آخرني قسم ته ډیر نرم سکولرزم ووایو. (۱)

باید ووایو چه په دنیا کی بڅه ناڅه ادیان د سکولرزم سره چلیدلای شي: ځکه هغوی به صرف دیوڅو عباداتو او معتقداتو مجموعه وي، په ځان کی به د

(۱) اردو اور سکولرزم ـ اقبال خان ص ۹-۱۰

ژوندانه نور نظامونه نلري : خو اسلام د سکولرزم
د پورتنیو قسمونو څخه دیوه سره هم نشي چلیدلای
ځکه اسلام یو مکمل دین دی چه په هغې دانسان
د دنیا او آخرت د ژوند مربوط ټول اصول او نظام
موجود دی :
اول دا چه اسلام خپلو اتباعو او مننوکو ته هیڅ اجازه
نه وي کوی چه غیر د اسلامي او الٰهي قانون څخه
بل دین او یا د بل چا نظام د ځان لپاره غوره کړي
ځکه الله عزَّ وجلَّ و خپلو منونکوته داسی خطاب
کوي :
وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ : (۱)
یعنی : که څوک د اسلام څخه پرته په بل دین کي خپله
کامیابی لټوي چه هغه یا خود انسانانو جوړ شوي
دین ، مذهب یا قانون وي او یا سماوي دین وی خُود
خپلو خواهشاتو مطابق په هغه کي تحریف شوی وي

(۱) سُورة آل عمران : آیة ۸۵

هغه هیڅکله نه څني قبلیږي ، او که چیرې بیا هم زما دغه حُکم ونه مني او عمل پرې ونه کړي په آخرت کې به ډېر په تاوان کې وي.

د اسلام نه مخکې نصراني ټولنې ته لنډه کتنه

په هره ټولنه کې چه د دین او مذهب أصلي روح او صورت بدل شي إنساني فکر ونه پکښې ګډ شي او هر دیني مذهبي سړی د مذهب تشریح د خپلو کټولپاره د خپل فکر مطابق کوي ، نو دغه دین بیا د انسانانو لپاره د فائدې پرځای ضرر من شي او په دغه ټولنه کې د دین مذهب په هکله د وهمیاتو جراثیم پیل شي او طبعي خبره ده چه عام خلق د مذهب په هکله بې اعتناء او بې پروا شي ، او دغه دین د وهمیاتو مجموعه بولي او د خپل ذهني سکون لپاره مختلفې لارې لټوي او مختلفې نظریې قبلوي ؛

هم دا شان د اسلام تر راتلو نه مخکې چه د عیسیٰ علیه السلام دین چه د عیسائیت ، مسیحیت او نصرانیت په نامه یادیږي او په اروپا کې یو اکثریتي مذهب وو او بلا کبرې

د خپلو پوهانو او راهبانو د عمالو په وجه او یا د هغوی
د مختلفو او غلطو تشریحاتو له امله داسی تحریف او
تغیر شو چه نور د انسانانو د لارښوونې توان نشو
پکښې پاته، د وحدانیت عقیده ئې په تثلیث بدله
شوه، الهی احکام په شخصی افکارو بدل شول، او
راهبانو او پوهانو د ټولنې د اصلاح کولو پرځای د
ریاضت او عبادت په نامه غرو، شیلو او هدیرو
ته مخ ونیوی او یا په چهل خانو او عبادت خانو کې
بندیان شول بس هر څه چه به راهبانو ورته ویل
هغه دین وو، دا لاڅه د راهبانو په خپلو مینځو کې
اختلاف هم وو یوه به یو څه ویل او بل به بل څه
یوه به یو شی ته حلال وایه او بل به ورته حرام وایه
لکه څرنګه چه الله عزَّ وجلَّ مسلمانانو ته د دوی د غه
حالت داسی بیانوی :
إِتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّنْ
دُونِ اللهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا
إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلٰهًا وَّاحِدًا لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ

سُبۡحٰنَهٗ عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ ، (۱)

ترجمہ : نیولی وه دغوکتابیانو خپل عالمان او عابدان
خدایان بیله الله جل جلالهٗ څخه چه متابعت ئې
کاوه په تحلیل او تحریم کې او مسیح زوی د مریمې رض
ئې هم په خدائې نیولی وُو چه د الله زوی ئې باله، حال
دا چه امر ندی شوی دوی ته په توراة او انجیل کې
مګر دې چه عبادت وکړي دوی دیوه معبود
چه نشته هیڅ برحق معبود مګر خو همدی دی
پاکې ده الله لره له هغه شی نه چه شریکوی دوی
هغه د الله سره .

مطلب دا چه د دوی علماؤ او مشائخو چه به هره مسئله
د خپله ځانه جوړه له هغوی به هغه سند ګڼله، که
به ئې حلال وته حرام او یا حراموته حلال هم ویله،
او داسې خیال به ئې کاوه چه بس همدغه موږ د
الله تعالیٰ له پوښتنې څخه ژغوري او الٰهي کتابو ته

(۱) سورة التوبة : آية ۳۱

د مراجعې کولو او قبلولو سره ئې مېنځ علاقه او معامله نه درلوده او يوازې د احبارو او رهبانو په حکمونو به ئې عمل کاوه، او د دغو عالمانو او عابدانو حال او قال، عمل او کار داسې وُو چه د لږ دنيوي مال د فائدې او د جاه او رتبې په مقابل کې به ئې شرعي حکمونه بدلول. (۱)

د دغو اعمالو او اختلافاتو او د رهبانيت د مېنځ ته راتلو څخه سکولرزم او يا لادينيت سرچشمه اخلي، خو تر ټولو نه غټ عامل او سبب ئې رهبانيت دی چه مغه بيا په ټولنه کې د ډېرو خرابيو سبب وګرځيد او خلک ئې د لادينيت کندی ته وغورځول؛

دا چه رهبانيت څه ته وائي او څه ډول مېنځ ته راغلی او د کومو خرابيو سبب وګرځيدی، مغه په لاندې ټکو کې په لنډ ډول تشريح کوو؛

(۱) تفسير کابلی: ص ۱۱۶۷ – ۱۱۶۸ ج = دوهم

* رهبانیت *

رهبانیت دعربي ژبي لفظ دی ـ الرهبانية مصدر
الراهب واصلها من الرهبنة بزيادة الالف :
رهبانیت دراهب مصدر دی درهبنة څخه دالف په
زیادت سره اخستل شویدی :
یوه معنائې ده خوف ویره اوبله معنائې ده عبادت ،
اوپه اصطلاح کې ، دنصارا وُو هغه خاص قسم عبادت
ته ویل کیږي چه ددنیا دکارو څخه لاس واخلي
اوټول نعمتونه پریږدي اوخپل داهل اوکورنۍ څخه
جلاشي اوټولو مشکلاتو ته غاړه کیږدي . (١)

* درهبانیت لمړني مشر یا بنیاد ګذار *

درهبانیت لمړی بنیاد ایښودونکی یو بې سواده
خوان (انطوني) وُو اوپه مذهب عیسائي وُو ، هغه
ددنیا څخه لاس پر سر کړ اوخپل ټول ملکیت څخه
ئې لاس واخیستی اوخپله کورنۍ ئې پریښودله

(١) معجم الوسیط : ص ٣٧٦ ج - اول * لسان العرب : ص ٤٣٧ ج - اول

صحراته ولاړی او ملته ئې چهل خانې او ریاضت شروع کړی او ډیر ژر د هغه شهرت په مصرکې وشو او هغه د روحانیت لویه سرچشمه جوړه شوله، او بیا د هغه په تقلید په زرګونو خلکو د رهبانیت ژوند غوره کړی او انطونې ئې د خپل مرشد او لارښود په حیث ومانه. او کله وخت چه دا تحریك مخ په زیاتې دوشو نو د کلیسا مشرانو هم د دې تحریك حمایت وکړی او دا تحریك ئې نور هم په منظمه توګه وچلاوه او خانقاوې ئې جوړې کړې چه په هغو کې به راهبانو چهل خانې کولې او د تنهائی ژوند ئې تیراوه او هر قسم ذهنی او جسمانی تکلیفونه به ئې د ریاضت په نامه برداشت کوله او د دنیا د نعمتونو څخه به ئې پرهیز کاوه، او په څلورویشتو ساعتونو کې به دوی صرف ۱۲ ګرامه خوراك کاوه او د غوښو خوړلو څخه بالکل منع وه.

رفونس، چه یو مؤرخ دی وائې چه یو وخت داسې راغلی چه د مصر نیمائی خلګو د رهبانیت ژوند

غوره کړي : کله چه د أَنطُونِي پیروان په روم کې مخ په زیاتې دو ، په همدغه وخت کې (هلیرین) په شام کې د رهبانیت ژوند غوره کړي او دوُولس ۱۲ کاله ئې د دنیا د ټولو نعمتو څخه خپل ځان محروم کړي تر څو ئې دومره مقبولیت حاصل کړي چه ویل کیږي کله چه به دی یوې خواته په سفر تلی نو دریې زره نفره به ورسره وه .

پدې شکل تر پنځمې عیسوی صدۍ پورې په لکونو راهبان د روم څخه برطانیه ته او د برطانیه څخه حبشې ته نقل شوله . (۱)

بالآخره په رهبانیت کې دومره غلو او افراط پیدا شو چه په اوسنی زمانه کې د هغوی مثال پیدا کول ډیر مشکل دی : د تاریخ اخلاق یورپ ، څخه څو نمونې د مثال په ډول لیکم :

۱ * د (میکریس اسکندر وي) په هکله مشهوره ده چه

(۱) اسلام اور مذاهب عالم : إسرار الرحمٰن بخاری ص ۱۸۲-۱۸۳

شپږ میاشتې مسلسل د ختو په لشو کې لغ پروت وُو او زیاتره اندازه داو سپنې زنځیرونه ئې پرځان راتاو کړي وه .

۲ * دیوسیس په هکله ویل کیږي چه دري کاله ئې په یو وچ ځاه کې ځان په زنځیرو نو بند کړی وُو.

۳ * دیوُحَنَا په هکله ویل کیږی چه دري کاله مسلسل ئې په ولاړه عبادت کاوه - کله چه به ستړی شونویو شی نه به ئې په ولاړه تکیه وکړه :

څه زاهدانو به هیڅ لباس نه اغوستی او د ستر د پټولو لپاره به ئې د خپلو ویښتانو څخه کار اخیستی او د چارپایانو په شان به په غرونو، شیلو، غارو او هدیرو کې ګرځیدله . (۱)

د همدغه شان رهبانیت په هکله الله عزّوجلّ په قرآن کریم کې داسې فرمائي :

وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ

(۱) انسانی دنیا پر مسلمانوں کی عروج وزوال : ابوالحسن علی الندوی کی ص ۲۵۳-۲۵۴

وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَّرَحْمَةً وَّرَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ؛ (۱)

معنیٰ دا چه الله عزّوجلّ فرمائي چه ما یو رسول تر بل رسول وروسته رالیږی تر څو نوبت د حضرت عیسیٰ علیه الصلوٰة والسلام را ورسیدی او بیا مو مغه ته انجیل ورکړي چه په مغه کی وصیتونه وه، او بیا مو د مغو کسانو په زړونو کی چه د دغه دین پیروي ئی کوله رأفت او رحمة ورواچوی ؛

د رأفت معنیٰ ده د شر دفع کول او د رحمت معنیٰ ده د خیر جلبول .

او کوم چه رهبانیت دی هغه دوی پخپله پیدا کړي دی موږ پر دوی نه وُو فرض کړي ؛ د (اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ) دوې معناوی دی - یوه معنیٰ ئې دا ده چه الله عزّوجلّ فرمائی : مګر موږ پر دوی دا الله رضاء

(۱) سُورة الحدید ؛ آیة ۲۷

فرض کړې وه :

دوهم دا چې دوی پخپله د الله ج د رضاء لپاره داسې طریقه غوره کړه .

د (فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا) په آيت کي الله عزّوجلّ د دوی دوې بدۍ بیانوي ، یوه دا چې دوی دغه دین چې موږ ورته رالیږلی وو حق رعایت ونکړی بلکه په دین کي ئې نوې بدعت کار پیدا کړې چې موږ پر دوی نه وو فرض کړي چې هغه دغه رهبانیت دی : دوهم دا چې دوی دغه دین مکمل حفاظت ونکړه ، ډیر ژر هغه طریقه چې دوی د الله ج د رضاء لپاره وسیله بلله هغه د دوی د ضلالت او ګمراهی ذریعه جوړه شوه . (۱)

* د سکولرزم د مینځ ته راتلو سببونه *

۱ * د حکومت او مذهبی مشرانو ترمینځ د قدرت کشمکش .

په یوولسمه عیسوی صدۍ کې د حکومت او

(۱) تفسیر المراغي ، أحمد مصطفیٰ المراغي صـ ۱۸۵ ج - نهم

دکلیسا د پاپانو ترمینځ پر قدرت باندې کشمکش په ډېر شدت پیدا شو، ځکه کې یوه طرفه پر کلیساؤو پاپائي نظام په پوره ډول مسلط وو، خو بله طرفه پر سیاست او حکومت باندې د سرمایه دارانو او زمین دارانو قبضه وه، او دغه دواړې ډلې د حریت آزادۍ دشمنې وې؛

په بنکاره خو د دواړو د قدرت توازن یو برابر وو ځکه د حکومت د مشرانو ترڅنګ د سردارانو، افسرانو او فوځیانو یو لوی قطار ولاړ وو چې همیشه دخپل امیر د حکم د عملي کولو لپاره تیار ولاړ وه، د بلې خوا د کلیسا د مشرانو (راهبانو) ترڅنګ هم د ملنګانو پیروانو او معتقدینو لوی لوی قطارونه ولاړ وه او د عامو خلکو پر سرونو باندې د مذهبي مشرانو یوه اوږده سلسله مسلطه وه چې د کښته راهب څخه نیولې تر هغه لوی پوپ پورې او پوپ خپل ځان د عیسیٰ علیه السلام نائب باله، د ده څخه مخالفت کول لویه ګناه او جرم تصور کیدی، د ده

هرلفظ د قانون حیثیت درلودی . (۱)

په هغه کشمکش کې خلک د مذهب او سیاست او یا کلیسا او حکومت په غلامۍ اخته شوله ، ځکه هر یوه خلک خپل په ګټه استعمالول او د قدرت په جنګ کې به مړه کیدله ، کورونه او مالونه به ئې تالا کیدله تر څو خلک په تنګ شول او داسې د حل لاره بلل چه دین او دولت سره جلاشي .

۲ * دین او مذهب د هوس او دنیا طلبی ذریعه جوړول .

کله چه د راهبانو د رهبانیت لمنه پراخه شوله د خانقاؤ او دربارو بازار ګرم شو نو خلکو د هغه دربارو ته د شکرانو ، خیراتو او نذرانو په نامه مالونه ، پیسونه ، غوایان او داسې نور شیان راوړل او هغه بیا په دغه دربارو کې په خلکو خوړل کیدل :

په دغه وخت کې ډیرو خلکو د محنت او کار ځنه

(۱) اسلام اور مذاهب عالم : اسرار الرحمن بخاری ص ۱۸۹

دخلاصون په غرض د رهبانیت ژوند غوره کړي
او څه خلک به صرف دخپلې کهالې اولتې په خاطر
دعبادتخانو او خانقاؤ خادمان جوړ شوله او یا دکار او
روزګار څخه دخلاصون په خاطرۍ دځان څخه
راهب او یا دراهبانو خادم جوړ کړي ؛
پدې شکل دعیسائیت دین صرف دلتهانو اوبیکارانو
دمعاش ذریعه وګرځیدی ؛
اوبل دا چه کله به په دغو دربارو کې مذهبي رسومات
اوکلنی غونډی چه دمذهب دتبلیغ او اشاعت لپاره
به کیدلی او یا په خپلو مینځو کې دمحبت او اخوت
دزیاتیدو لپاره به کیدلی هغه ټولی په عیش او
تفریح او جشن بدلی شولې ؛ معنیٔ دا چه په هغه
مجلسوکې به دسروزاو نورو تفریحي شیانو د
برابرولو اهتمام کیدی ؛ لکه دقوالیو په نامه .
اوبل دا چه هغه مذهبي ضیافتونه او میلمستیاوی
چه دعیسائیانو په مینځ کې به داخوت دپیدا کولو
لپاره کیدلې ، دشراب نوشی او بدکاری په اډو

بدلې شولې ؛

د شهداوو د یادونې ورځې او یا نورې فاتحه خوانۍ د مغوې د یاد تازه کولو پر ځای د شهوت پرستۍ، بې حیائۍ او بدکارۍ په مرکزو بدلې شولې : ځکه په دغه مجلسو کې نر او ښځو کډون کاوه : لکه په اوسني عصر کې چه په ځه دربارو کي د عرس او یا نور ځه په نامه باندې کیږي ؛

په همدغه شکل دین او مذهب د هوس او شهوت پرستۍ لویه ذریعه جوړه شوه ، ځکه پېر خلک به داسې وه چه بل ځای به د ومره د عیش او هوس زمینه نه ورته برابریدل لکه په دغه دربارو او عرسو کې : نو ځکه به عامو خلکو دا فکر کاوه چه دا خو صرف د عیاشۍ او بې حیائۍ دربارونه دي، پدې کې هیڅ د دین د تبلیغ او دعوت او ذکر سلسله نشته ، نو به ئې د دغه دین په هکله قسم قسم توهمات او بیزارۍ ښکاره کوله ، تر څو چه دلادینیت یو لوی

سبب وګرځیدی . (۱)

۳ * په راهبانو او مذهبي مشرانو کې د عیاشی او دنیاداري عادت زیاتیدل :

په هغه دور کې د رهبانو په هکله دا عقیده وه چه هغوی دالله نائبین او د عیسیٰ علیه السلام قائم مقام دي د هغوی هره فیصله نه غلطه کیدای سی او نه پر هغه باندې تنقید او اعتراض کیدای سی، او هغوی د ګناه ګارانو ګناه معاف کولای سی :

د دغه عقیدې په تیریدو د وخت داسې صورت پیدا کړ چه باقاعده معافی خطونه به ئې ورکوله :

د معافی خطو ابتداء داسې وشوه چه په صلیبی جنګو کې "پوپ" اوبن دوم " اعلان وکړ څوک چه پخپله په جنګ کې اشتراک نسی کولای هغه دې دیوه نفر مصرف پوپ ته ورکړي، د هغه په بدله کې ورته معافی خط ورکول کیږي

(۱) لامذهبی دور کا تاریخی پس منظر - محمد تقی آمینی ص ۳۷-۳۸
بحوالۂ تاریخ اخلاق یورپ ج - دوهم ص ۷۶

چه هغه دده د نجات ذریعه ګرځي :

د معافي خط عبارت په لاندي ډول وو :

پرتا باندي د خداوند یسوع مسیح رحمت وشو، او هغه ته په خپل مقدس رحم سره د ټولو ګناهونو څخه آزاد کړي ، زه د هغه او د هغه بابرکته شاګرد بطرس پولوس ، او د مقدس پوپ د هغه سند له مخي چه هغه ماته را کړیدی ، تا آزادوم تر ټولو نه مخکی د کلیسا د ټولو ملامتیاوو څخه هغه چه په هر شکل وی : او بیا ستا د ټولو حدودو ماتولو او زیاد تیو څخه ، چه هر څومره لوی او سخته وي : او زه ستا څخه هغه سزا پورته کوم چه ته ئې د ګناهونو په وجه دوزخ ته اچولې : پرتا دی د دوزخ دروازې بندی وی او د جنت دروازې دي در باندي خلاصی وي د پلار ، زوی او مقدس روح په برکت .

دا ډول معافي خطونه د مختلفو ګناهونو لپاره په مختلفو قیمتونو خرڅیدل ، چه د هغه جرمونو

او قیمتونو څه نمونې په لاندې ډول دي :

قتل (۷) شلنګ، ٦ پنس * غلا (۹) شلنګ * د پیغلې ښځې سره زنا (۹) شلنګ * د هغه ښځې سره زنا چه پیغله نه وی (۷) شلنګ * اسقاط حمل (۴) شلنګ او داسی نور.

په ابتدا کې دا معافی خطونه صِرف د ژوندو د ګناهونو د پاکېدلو لپاره خرڅېدله، بالآخره د مړو لپاره هم د کفارې په ډول خرڅېدله :

کله چه د معافي خطونو عام تجارت شروع شو نو په کلي کلي، کوڅه کوڅه کی د معافی خطونو د خرڅولو لپاره د راهبانو نمائندګی خلاصې شولې :

د دې معافی خطونو دوه نقصانه وشوه، یو دا چه په ټولنه کی جرمونه او بد کاری ډیرې شوې ؛ ځکه هر سړې چه به جُرم یا ګناه کوله هغه به تلی او معافي خطونه به ئې راتیول ؛ حتی چه په آخر کی د ډیرو پیسو په مقابل کې د ټول عمر معافی خط ورکول کیدی چه هر څه جُرم یا ګناه

ئي کولای . (۱)

دوهم داچه د راهبانو او پاپانو آمدن زیات شو دوی په خپله په داسی عیاشی ، بی حیائی ، بد اخلاقی او جُرمونو اختـه شول چه د(سِینٹ جُرم) مقوله ده چه دکلیسا د مشرانو د عیاشی په مخکي د امیرانو او دولت مندانو عیش وعشرت شرمیدی ؛ خپله راهبان او پاپان په اخلاقی انحطاط مبتلاوه ، د دولت هوس او د مال عشق پرمغوی دومره غالب شوی وُوچه د انسانیت اصلی عظمت او شرافت ئي ختم کړی وُو . (۲)

لیکن : دمسیحی تولني د اخلاقی انحطاط تصویر په داسی الفاظوکي وړاندي کوي - په اخلاقو کي رکاکت او پستی وآخرني درجې ته رسیدلي وه ، د دربارو او خانقاوُ عیاشی او د دربار د خاوندانو

---

(۱) اسلام اور مذاهب عالم ؛ اسرار الرحمن بخاری ص ۱۹۱-۱۹۲

(۲) انسانی دنیا پر مسلمانوں کے عروج وزوال ؛ أبو الحسن علی ندوی ص ۲۵۹-۲۶۰

ملبوسات او زیورات، تزیین او آرایش وخپل اوج ته رسیدلي وه.

رومن قوم په دغه وخت کی دانتهائي رهبانیت اوبدکارۍ په تالاب کي لامبو وهلی، اوهغه ښاروته چه په هغه کي پیر بزرګان او راهبان پیدا شوي وه، په هغه کي ترټولو دعیاشی اوبدکارۍ بازار ګرم وو؛ دعامو خلکو رأیه دومره ضعیفه شوې وه چه د رسوائۍ اوبدنامۍ هیڅ احساس نه کاوه، البته که به ئې کله ددین اومذهب په هکله په زړه نوکی څه ورګرځیدله نو دهغه تسکین به ئې پدې عقیده کاوه چه څه په ئعاګانو ټول ګناهونه معاف کیږي. (۱)

غرض داچه دکلیسا تاریخ اودکلیسا دمشرانو اخلاق او سیرت قرآنکریم مؤمنانو ته داسي بیانوی، یاایها الذین آمنوا ان کثیرا من الاحبار والرهبان

(۱) لامذهبی دور کا تاریخی پس منظر: محمد تقی امین ص ۳۷
بحوالۂ تاریخ یورپ ص ۱۰۴

لَيَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؛ (١)

ترجمه : ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدی بیشکه ډیرله عالمانو اوعابدانو (د نصرانیانو) خامخا خوري مالونه د خلکو په ناحقه او باطل سره او منع کوي خلك له لاري د الله څخه ؛

تفسير = لکه چي مخکی مو ولیکل چه عوام الناس دوی ته دالوهیت مرتبه ورکوله او هرڅه غلط چه دوی ویل هغه دوی ته سند وُو ، همداسي ددوی علماء اومشايخ هم د نذراو نیاز اخستلو په مقابل کي جعلی اسناد او ساختگی روايات او بدی چاری وربښیی او د خپل سیادت او ریاست د ټینګولو او ساتلو لپاره عوام الناس د مکراو فریب په جال کی بندوی او له سمي لاري ني ستنوی، ځکه که عوام ددوی د جال څخه ووزی او حق دین اختیارکړي

(١) سُورة التوبة ، آية ٣٤

نو پر دوی ټولي ډلي د ړنړي ؛

الله عزّ وجلّ د غه حال مسلمانانو ته بیا نوی چه مسلمانان هوښیار او خبرشي چه د امتونو او اقوامو د خرابي او تباهي ډیر لوی سبب د درو ډلو خرابي او تباهي او د خپلو فرائضو پرېښودل دی ؛

۱* علماء، ۲* مشایخ، ۳* اغنیاء او رؤساء ؛

ابن المبارك ډیر ښه ویلی دي : وَهَلْ اَفْسَدَ الدِّيْنَ اِلَّا الْملوكُ واَحْبَارُ سوءٍ ورهبانها ۰ (۱)

ددې لپاره چه په اسلامي ټولنه کي د هغوی اعمال بیا تکرار نشي ، یا د مسلمانانو علماء او مشایخ په هغه اعمالو اخته نشي کوم چه د نصاراؤ احبار او رهبان په اخته شوي وه ، هغه دا چه ټولو خیراتو ، زکاتو او نذرو نو په دوی پوري اختصاص درلودی او د همدغو په وجه هغوی د مالو په هوس اخته شوه او یا په عیاشیو او بې لاریو اخته شوه ، الله

(۱) تفسیر کابلی ص ۱۱۷۰ ج - دوهم

مسلمانانو ته په قرآن کريم کې داسې درس ورکوي:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ. (۱)

ترجمه: بېشکه همدا خبره ده چه صدقات صرفيږي فقيرانو او مسکينانو او هغه عاملانو ته چه د صدقاتو د راټولولو لپاره مقرر کړه شوي وي او هغه کسانو ته چه الفت اشنائي اچول شي په زړونو کې ئې له اسلامه سره، او صرفيږي به خلاصولو د غاړې د ناداره مکاتبانو کې، او صرفيږي پر پوروړو باندې او صرفيږي په لاره د الله جل جلاله کې، او صرفيږي لپاره د مسافرانو چه مال ورسره نه وي:

مقرره او لازمه کړه شويده دغه فريضه له جانبه د الله دغو مصارفو له، او الله په هر څه بنه پوه او د حکمت خاوند دی.

(۱) سورة التوبة: آية ٦٠

تفسیر : الله عزّ وجلّ خبرداري ورکوی چه د صدقاتو طریقه دالله جلّ جلاله د جانبه مقرره کړه شویده او الله پاك دصدقواونورو لګښتونو ځایونه ټاکلي دي ، اودهغه لسّت ئې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په لاس ورکړیدی چه له هغه سره ئې سم ویش وکړي اودمیچا دغوښتنی تابع نشی کیدای :

په حدیث کي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي چه الله تعالیٰ دصدقو دویش اختیار نبي یا غیرنبي ته ندی ورکړی بلکه بالذات ئې په خپله دهغه د لګښت ځایونه ټاکلی چه دغه اته دي.(۱)

۲ * په دین اومذهب کی فرقې اودهلي جوړول :
کله چه په راهبانو او احبارو کی د مال ، دولت ، جاه وجلال رغبت اوشوق زیات شو ، په عیاشیواوبدکاریو اخته شول ، ددین اومذهب سره ئې تعلق کم شو نودزیاتومالي ګټوحاصلولو دپاره ، اوياد زيات

(۱) تفسیرکابلی ، ص ۱۱۹۸ ج - دوهم

شهرت او عزت کټلو په غرض او د خپلو منافعو د ساتلو په خاطر، د دوی په مینځ کی د فرعی او جزئي مسائلو پر بنیاد اختلاف پیدا شو او سره ډلي ډلي او فریقي فریقي شول:

دا اختلاف تر داسي حده پوری ورسیدی چه یوه فرقه د بلي فریقي څخه دومره متنفره وه چه د هغوی د سایې څخه به هم ځغاستل. څه داسي مسائل چه د ایمان سره به ئې هیڅ تعلق نه وُو، دوی به هغه د ایمان مرکزی نقطه او نجات ورکونکي بلله، د فرقوي او جزئي اختلاف به کله دومره سخت شو چه په کُشت او خون به بدل شو:

«سِیل» د غه وضع او حالت داسی بیانوی:

د گرجا راهبانو دین ټکړي ټکړي کړی وُو، امن محبت او نیکی نیستی شوی وه، اصل دین ورك وُو، خپل پر خیالاتو به سره جنگیدل: په دغه تاریکه دوره کي اکثر هغه توهمات چه د رومن چرچ لپاره د شرم باعث وه خودُ وی ئ هغه د مذهب

بنیاد جوړ کړی وُو ، او پر داسی خبرو بې دړلو او فرقوا ساس ایښی وُو چه مهذبې او روشن فکری دنیا به په هغوی مسخرې او پسخند واهه ؛ مثلاً د راهبانو د غه اختلاف چه د عیسیٰ علیه السلام بولي پاکې دي که ناپاکې او یا کوم د سترخوان چه بني اسرائلو ته راغلی وُو په هغه کې ډوډۍ خمیره وه که پتیره او یا دا چه الله ؑ او عیسیٰ ؑ متحد الماهیة دی که مشترك الماهیة او داسی نور ......

لکه په اوسني عصر کې د تعویذ ، زیارت ، یامحمّد ، کرامت او دا چې د اسماعیل علیه السلام د پسه غوښې چا وخوړلې او داسی نور مسائل .(۱)

لکه څرنګه چه الله عزّوجلّ خپل پیغامبر ته د دوی د غه حالت پدې آیت کې داسی بیانوي ؛

اِنَّ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ وَکَانُوْا شِیَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِیْ شَیْءٍؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَی اللّٰهِ ثُمَّ یُنَبِّئُهُمْ

(۱) لامذهبی دور کا تاریخی پس منظر ؛ محمد تقی آمین ص ۳۸ بحوالۂ تاریخ اخلاق یورپ ص ۱۲۸

بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ؛ (١)

ترجمه ؛ بیشکه هغه کسان چه تار په تار کړیدی دین خپل لې، او شول دوی فریقې فریقې، نه ئې ته له دوی نه په هیڅ شي کي، بیشکه همدا خبره ده چه اخیر کار د دوی سپارل شویدی الله ته، بیا به خبر کړي الله دوی په هغه چه وه دوی چه کول به لې ؛

تفسیر ؛ یعنی د الٰهی دین لاره یوه ده، او هغه کسان چه د دین په اصل کي تفرقه پیدا کوی او پر خپل سر بیلي بیلي لاري راباسی او د گوند او گوند بازی په بلا اخته دي، که یهودیان وی که نصرانیان او یا هغه د اسلام مدعیان چه په مستقبل کی د دین خادر شیرو نکي دی ؛ له دغو خلکو سره ستاسی هیڅ غرض او کار نشته تاسی له دوی څخه د برائت او بیزاری اعلان

(١) سورة الانعام ؛ آیة ١٥٩

وکړي، او د پاک الله ﷻ په مغه سمي لارې باندې تینګ رهی او سی ، او د هغوی عاقبت او انجام پاک الله ﷻ ته وسپاري ، الله تعالیٰ به په دنیا یا آخرت کې د هغوی د اختلاف نتائج ورڅرګند کړي. (۱)

خو دې د پاره چه په اسلامي ټولنه کې بیا د افتراق او اختلاف اوربل نشي او د اسلام مقدس دین د نصرانیت په شان د لادینیت د تحریک سره مخامخ نشي، الله عزّوجلّ مسلمانانو ته مخکې په قرآن کریم کې داسې درس ورکوی او فرمائي ،

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ؛ (۲)

ترجمه ؛ او مه کیږئ تاسو په شان د هغو کسانو چه سره جلا سول او اختلاف ئې وکړ

(۱) تفسیر کابلی ، ص ۸۹۴ - ۸۹۵ / ج - دوهم

(۲) سورة آل عمران ، آیة ع ۱۰۵

په دین کي وروسته له هغه چه راغلي وه دوی ته
دلائل ښکاره، او دغه اختلاف او فرقې
جوړو نکو ته دالله ﷻ ډیر سخت عذاب مقرر دی،
تفسیر : یعنی لکه دیهودو او نصاراوو په
شان مه کیږی چه دالله ﷻ د صافو احکامو له
رسیدلو څخه وروسته بیا هم په تشوا وهامو
اوهوسو نو پسې ولویدل، او د شرع په اصولو کي
سره متفرق او په فروعو کی سره مختلف
او جلا جلا سول : په پای کي ګوند او ګوند بازی
ددوی مذهب او قومیت وران او تباه کړی :
له دې آیت څخه دهغو اختلافاتو او دلي بلي
کیدلو مذمومیت او تباهي معلومه شوه چه د
شریعت د صافو احکامو له خبریدلو څخه وروسته
پیدا شی :
دافسوس ځای دی چه دا وسنی مسلمانانو
په مینځ کی په سلهاوو ګوند ونه د اسلامی
شریعت له ښکاره او مسلمو اصولو څخه جلا

سویدي او دوی په مینځ کی اختلافونه اچول سویدی، خو بیا هم الله عزّوجلّ د اسلامي امت د داسي مرض کافي او شافي علاج په دې آیت کی راسی ورښیی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا: (۱)

ترجمه: ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی، حکم ومنی تاسی د الله ؓ او حکم ومنی تاسی د الله ؓ د رسول او حکم ومنی تاسو دخپلو حاکمانو او مشرانو چه ستاسی مسلمانانو دجلې څخه وي، نو بیا که تاسو جګړه وکړي په یو شي کی نو وګرځوی تاسو دا کار و طرف ته د الله ؓ «یعنی د الله کتاب ته» او رسول ته «یعنی

(۱) سورة النساء: آیه نمبر ۵۹

درسول (ص) حدیث ته، که یاست تاسي په اخلاص سره ایمان لرئ په الله او په ورځ آخري یعني قیامت باندي، دغه رجوع الله او رسول ته ډېره غوره ده تاسو ته له ناقص فکر نه ؛ او دا رجوع ډېره ښه ده دعاقبت له جهته ؛

تفسیر ؛ یعني خپل منازعات او اختلافات الله تعالی او رسول ته راجع کول، او دا لله او درسول (ص) الله حکم منل مفید دی له دې نه چه پخپلو مینځو کي سره جګړې او شخړې وکړئ، یا له خپلي رأی سره سم خپله کومه فیصله صادره کړئ ځکه چه دشریعت په لوری درجوع کولو انجام بهتر دی ۰ (۱)

او بیائې په دې آیت کي ددغه کارد بد انجام څخه خبر وی او فرمائي ؛

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ

(۱) تفسیر کابلی، ص ۵۲۱ / ج - اول

رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ : (۱)

ترجمه : تاسې حکم ومنئ د الله او د مغه د رسول، او مه کوئ جګړه په خپلو مینځو کې پس بې زړه به سئ تاسې، او ولاړه به شي باد د نصرت او قوت او د دولت ستاسې، او صبر کوئ پر سختیو باندې، بېشکه الله جل جلاله د صابرانو سره دی : (۲)

۵ - د دین، مذهب او علم، تمدن، ترقي ترمینځ تضاد:

د عیسائیت د دین راهبانو او پوهانو که دیوې خوا خپل د دین اصلي صورت او روح بدل کړې او په خپله هم د عیاشۍ، د نیا طلبۍ او د قدرت د حصول په جنګ اخته وه، خپله ئې هم د علمي انکشافاتو او تمدني ترقۍ کار د خپل دین په رڼا کې نشو کولای او یا ئې نه کاوه، خوله بله طرفه ئې د خپل قدرت، حاکمیت او منافعو د سائلو په غرض

(۱) سورة الأنفال، آیة ۴۶ (۲) تفسیر کابلی، ص ۱۱۰۹ ج - دوهم

پر علمي انکشافاتو او تمدني ترقيو باندې تر ډېره حده بنديز ولګاوه چه په ټولنه کې ئې نه طبيب پرېښاوه او نه چا د دوى له وهمه د طبابت علم حاصلولاى شواى، که چېرې چا حاصل کړي واى هغه به عذاب کېدى او د کافر او ملحد مهر به پر ثبت کېدى

داځکه چه د دوى د خانقاؤ او دربارو لويه ذريعه د آمدن همدغه نياز او نذرانې، تبرکات او شکرانې وې؛ او طبيبان بيا په دغه منفعت کې د کليسا رقيبان جوړېدل ترڅو دې په نتيجه کې داروپا ديوه سره څخه تر بله سره پورې د مختلفو اقسامو مرضونو وبا پېل سوه. (۱)

او بيا داچه د علم او پوهې د څراغ د مړکولو لپاره ئې په ۱۴۳۸ سنه ميلادي کې د احتساب او تفتيش مرکزونه جوړ کړه او د هغه مرکزو د او ظيفه وه چه پر کوم شخص دا شبهه وي چه زړه ئې د علم

(۱) انسانی دنیا پر مسلمانوں کی عروج وزوال: ابوالحسن علی الندوی ص ۲۶۲

په نور روښانه دی، او یا په دین کې د خپل عقل څخه کار اخلي مغه به فوراً گرفتار کوی، او د مالي جرمانې څخه نیولې تر ژوندی سوځلو پورې به سزا ورکول کیدله ؛ د دې جملې څخه دیرش زره (۳۰،۰۰۰) کسان داسې دی چه ژوندی په اور کې اچول سویدی ؛

د اسپین محکمهٔ احتساب چه کله خپل کلنۍ راپور ورانديي کاوه په ډیر فخر سره یې اعلان وکړې چه د دولسو میاشتو په موده کې مود وولس زره کسان په اور کې سوځلی دي او اوه ولس زره کسان مو په غټو غټو جرمانو او حبس دوام سره محکوم کړي دي ۰ (۱)

پادری اتارکوئی میدا کستیل، داوړایان د محکمهٔ احتساب مشروؤ، د دې سرې د اتلس کالو په موده کې (۱۰۲۲۰) کسان ژوندی په اور

(۱) اسلام اور مذاهب عالم ؛ اسرار الرحمٰن بخاری ؛ ص۱۹۰

کې وسوځل او (۹۷۳۲۱) کسانو ته ئې نورې
دردونکې سزاګانې ورکړې؛
دغه درنده صفته انسان نه یوازې دا چه ژوندو
ته ئې سزاګانې ورکولې، بلکه د (۶۸۶۰) کسو
پخوانیو علماؤ مجسمې ئې جوړې کړې او بیائې
په اور کې واچولې، په دغه شکل ئې خپل دغضب
اور یخاوه؛
دکلیسا د دغه مظالمو او دردناکه سزاګانو سره
دعلم پیوه بلیدله او دخلکو دعقل سترګې
خلاصیدلې او علمي تحقیقات ئې کول. (۱)
دژوندي سوځلو کسانو دجملې څخه د څو
کسانو نمونه دمثال په توګه لیکم؛
۱ *(برونو) چه دعلم هیئات او طبعیاتو مشهور
عالم دی، دده جرم دا وو چه دځمکې دکرې نه
علاوه دنورې دنیا هم قائل وو، او بل دا چه

(۱)

دځمکي د ګرځش قائل وُو ، وده ته يې داسي سزا ورکړه چه اوه کاله په بندکي واچول سو اوبيا ژوندی په اورکی وسوځول شو .

۲ * کوپرنکس - چه دځمکي د ګرځش اود اسمان د سکون د ثابتولو کوشش يې کاوه - ژوندی په اورکي واچول شو .

۳ * هيپاشيه - چه دافلاطون د تصنيفونو مفسره وه د سوځيدلو د عذاب سره مخ شوه .

۴ * ګليلو - چه د طبعيات مشهور عالم او د دُوربين ايجاد کوونکی دی - دځمکي د ګرځی والی او دځمکی دحرکت د نظريي حمايت يې اعلان کړی ، د راهبانو لخوا ګرفتار کړه شو او په تنګو او تاريکو کوټو کي يې واچوه ، تر ډيرو عبرتناکه سزاګانو وروسته يې پردې مجبور کړی چه په دغه لاندې الفاظو سره توبه وباسي ؛

زه ګليلو او يا کلنی په عمر کي ديو قيدی په حيث د مقدس مآب په مخکي پردواړه ځنګنو چه مقدس

انجیل می په غاره دی دځکی د حرکت غلطی تسلیمومه او الحاد ته د نفرت په سترګه ګورم او د لعنت اظهار کوم :

خو د دې تردید سره ئې هغه و نه بخښی او د محکمهٔ احتساب لخوا د تول عمر لپاره جلا وطن کړه سو (۱)

د دې په شان ډیر مثالونه لري ، بالآخره د کلیسا مشرانو د علم د څراغ د وژلو لپاره یوه بله طریقه په کار واچوله ، هغه دا چه حکم ئې جاري کړې چه د کلیسا د منظورۍ نه بغیر د هیڅ کتاب د چاپولو اجازه نشته ، که چا خلاف ورزي وکړه د هغه جزاء مرګ ده :

دا سلسله تر هغه وخته جاري وه تر څو د اسلام دین راتلی او خلقو ته ئې د دوی د عبادت څخه او د دوی د مظالمو څخه نجات ور کاوه : د دوی د غه ټول اعمال الله عزّ وجلّ په دې آیت کي

(۱) لامذهبی دور کا تاریخی پس منظر : محمد تقی امین صنګ

سي بيانوی ؛

يُرِيدُوْنَ اَنْ يُّطْفِئُوْا نُوْرَ اللهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللهُ
اِلَّا اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْكَرِهَ الْكَافِرُوْنَ ؛ (۱)

ترجمه : اراده لري اهل كتاب دا چه مړ كړي
نور (رڼا د شريعت) دالله په خپلو خلو يا په
تحريف سره او يا د خلكو په منع كولو سره، خو
نه خوښوي الله مګر دا چه پوره كړي نور خپل، كه
څه هم بد ګڼي دا كار كافران ؛ (۲)

مطلب دا چه دوی دا كوشش كاوه چه خلك د الله
د عبادت څخه وخپل عبادت ته او د الله د شريعت
څخه د خپلو افكارو او خيالاتو وقانون ته را وګرځوي
خو الله عزَّوجلَّ اراده لري چه خپل نور په توله
دنيا باندي د سپوږمۍ د نور په شان وځلوي ؛

او كله چه ئې اتمام د نور وكړي هغه بيا يې دی آيت
كي داسي بيانوی ، هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى

(۱) سُورة التوبة ، آية ۳۲ (۲) تفسير كابلی ، ص ۱۱۶۸ ج - دوهم

وَدِیْنِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهٗ عَلَی الدِّیْنِ کُلِّهٖ وَلَوْکَرِهَ الْمُشْرِکُوْنَ (۱)

ترجمه : الله ﷻ هغه ذات دی چه لیږلی ئې دی رسول خپل چه محمد (ص) دی په هدایت سره چه قرآن کریم دی او په دین حق سره چه اسلام دی، د پاره ددې چه غالب کړي دغه دین پر نورو ادیانو باندی، که څه هم بد ګڼی دا کار مشرکان .

نکته : په لمړي آیت کې الله جل جلاله ددوی څخه په کفارو سره تعبیر وکړه ، او په دوهم آیت کې ئې په مشرکانو سره تعبیر وکړي ، وددې ته اشاره ده چه که دیوه طرفه په خپل دین، شریعت او رسول باندي کافران دي ، خو په عین وخت کې مشرکان هم دي ، یا پدې چه دوی عیسیٰ علیه السلام او دهغه مور مریم (رض) هم خدایان بولي ، او یا دا چه خلک د الله د صحیح دین او عبادت څخه خپل ذهنان او خپل جوړشوي رهبانیت ته را کړځوی . (۲)

(۱) سورة التوبة ، آیت ۳۳ (۲) تفسیر المراغی ص ۱۰۴ - ۱۰۶ / ج ۱۰ - ۱۲ / عملومم

بالآخره د روښان فکرانو او ترقي خوښونکو د صبر پيمانه ډکه شوه او مغوی د دين او مذهب د پيروانو په خلاف د جنګ بيرغ پورته کړی؛
مغوی د راهبانو او محکمهٔ احتساب د ظلمونو څخه راسی په تنګ شوی وه چه د ټولو عقائد و، علم اخلاق او د آدابو څخه يې نفرت کاوه؛ د مغوی په زړونو کي لمړی د دغه وخت د مسيحی مذهب خلاف نفرت وو، خو بالآخره يې د مطلق مذهب سره د عداوت جذبه پيدا شوه؛
د دغه جنګ ابتداء، په شروع کي د علوموا و د عقليت د خاوندانو او د مسيحی راهبانو ترمينځ وه، ترڅو په اخير کي د علم او دين په جنګ بدل شو؛
روښان فکرانو او د عقلي علوموخاوندانو د خپله ځانه راجوړه کړه چه د علم او مذهب په مينځ کي داسي تضاد دی چه هيڅکله نسي سره يوځای کيدلای او دواړه په خپل مينځ کي سره رقيبان دی، او دوی په مينځ کي هيڅ صلح نشی کيدلای، او

دعلم اوعقليت سره وفاداري راده چه دمذهب اودين ټمځه بالكل مخ وكړځوي ، اودواړه يوسړي نسي سره كولاي ،

دمغوي په مينځ كي چه بركله ددين اومذهب نوم اخيستل كيدى نود فعتاً دكليسا دراهبانودظلمونو يادورته تازه كيدى اودهغوعلماؤاومحققينو صورتونه به ئې په ستركوكي كرځيدله كوم چه دپرمظلوميت اوبې چارګۍ په حالت كي ددغوظالمانو له لاسه په جزاء رسيدلي وه . (١)

دهمدغه ځايه سكولرزم اولادينيت سرچشمه اخلي اوديومستقل تحريك صورت اختياروي اوديوې مستقلي نظريي په شكل دنسله ونسل ته اوقرنه وقرن ته پاتېدله ترڅوئې نن په دنيا كي ديوې سياسي نظريې په توګه پيړني اوددې عاقبت ناخبره خلك ئې پېروي كوي .

(١) انساني دنيا پر مسلمانوں كے عروج وزوال ، ابوالحسن على الندوي ص ٢٦٥-٦٦

٦ * د دینی او مذهبی مشرانو لخوا د ټولنې دخرابیو اصلاح نه کول ،

دهغه وخت په عیسائي ټولنه کي داسی معلومیدله لکه د مذهب مشرانو چه د ټولنې د ټولو خرابیو سره تعهد کړی وی ، هیڅ مخنیوی به ئې نه کاوه او دهر قسم اقتصادي معاشي عدم توازن او نابرابرۍ حمایت به ئې کاوه ، او د طبقاتي کشمکش لاړ سبوونه به ئې کوله ،

په همدې ډول په ټولنه کي د عیش پرستی ذهنیت عام شو ، داسي معلومیدله لکه د نیادارو او مذهبی مشرانو چه یو د بله د انسانیت پر ذلیله کیدو باندي اتفاق سره کړی وی ، د دنیادارو خلکو به د ټولو فسادو سره سره هر قسم ملاتړ کیدی داځکه چه دهغوی لخوا به د دوی سره قسم قسم کومکونه کیدله ، او مسکینان او بې قدرته خلك به ئې په مختلفو تهمتونو تورن

کوله اوجریږي برنی ځندي اخستلې . (۱)

لکه څرنګه چه الله عزّوجلّ د دوی د غه عادت مسلمانانو ته داسې بیانوي ؛

کَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ○ تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُوْنَ ؛ (۲)

ترجمه : وه دوی چه یو بل به ئې نه منع کول له هغه بد عمله چه کاوه به دوی هغه ، خامخا ډیر بد دی هغه کار چه دوی کاوه ، او ته به ئې وینې ډیر له دوی نه څخه چه دوستي به کوی له هغو کسانو سره چه کافران شویدی ، ډیر بد وُو هغه شئ چه د دوی نفسو دوی ته وړاندې

---

(۱) لامذہبی دور کا تاریخی پس منظر ، محمد تقی آمین صا۴۱

(۲) سورة المائدة ، آیة ۷۹-۸۰

کړي وُو چه هغه موجب دديُ وُو چه په غضب سو الله ج پر دوی ، او دوی تل په عذاب کي دي .

تفسیر : د لا یتناهون دوې معناوي دي، یوه دا چه دوی نه منع کیدله د بدو کارو څخه او دوهم دا چه دوی څوك نه منع کوله د بدو کارو څخه ؛

کله چه په یو قوم کي أمر بالمعروف او نهی عن المنکر نه وی په هغه قوم کي بدی خپره شي ؛ (١)

او بل دا چه د آیت په اخیر کي الله عزّوجلّ فرمائي پر داسي کسانو باندي به الله ج په غضب وي او دوی به په عذاب کی همیشه وي ؛

مطلب دا چه دا رو پا د راهبانو او پاپانو د دغه دین او مذهب څخه او د دغه ژوند او حالت څخه انسانیت پناه غوښته ، څکه هر قسم علمي تمدني ترقي تر یره حده بنده شوې وه ، او دا زمانه د ۴٨٦ م

---

(١) تفسیر کابلی ، ص ٧٢۴ - ٧٢٥ ج - دوهم

کال څخه تقریباً تر ۱۴۹۵ م کال پورې وه ، تر څو چه د اسلام نور وهغوی ته رسیدلی ، او هغه خلک ئې د طارق بن زیادؒ او موسیٰ بن نصیرؒ په واسطه د اندلس تر فتح وروسته د راهبانو د منګولو څخه آزاد کړه او د هر قسم علمي او تمدني ترقي اجازه ئې ورکړه او د اروپا ټول خلک د علم سره آشنا شوه :

او بیا کله چه اندلس د نصاراوو په زور سقوط وکړي او د هغه څخه بشپړ نصراني هیواد جوړ شو ، نو دوی د هم هغه ځای څخه بیرته خپل پاپائی تحریک ژوندی کړی ، خو البته او س په نوي رنګ او شکل په ټول دنیا کې چلیږی ، حتیٰ دوی اوس خپله د تحریک د تعلیم تر سیوري لاندې چلوي ، حتیٰ اوس خپلې مستقلې مدرسې او پوهنتونونه په اسلامي او غیر اسلامي هیواد وکې لري :

* په اسلامي ټولنه کې د سکولرزم

د مينځ ته راتللو سببونه *

د پورتني تحقيق څخه معلومه شوه چه سکولرزم د اسلام ته راتلونه مخکې په عيسائي اروپائي ټولنه کې د پورتنيو شپږو اسبابو او داسې نورو له مخې مينځ ته راغلی ، سوال دا پيدا کيږی چه د سکولرزم نعرې او اسباب په اسلامي ټولنه کې څرنګه ، کله ، چيرې او د چا په تحريک سره مينځ ته راغله ؟

د دې سوالونو جوابونه څه تفصيل ته ضرورت لري ، هغه دا چه ! د اسلام دين يو کامل دين دی او يو داسې کامل کتاب لري چه هيڅ قسم تحريف او تغير نه قبلوي ، او يو داسې رښتنی تاريخ لري چه په ډير کم وخت کې د لوى شان په ټوله دنيا کې وځليدی :

خو د دې ترڅنګ داسې بد ترين دښمنان هم لري لکه يهود او نصارا چه هغوی هيڅکله نه غوښتله چه اسلام د خپل ټول برم سره داسې په دنيا کې خپور شي ، او دلمرنۍ ورځې څخه يې د اسلام سره دښمنی اعلان کړه او د تخريب کوشش به يې کاوه او هيڅ فکري او عسکري ميدان يې د لاسه نه ورکاوه

او کوشش به ئې کاوه چه مسلمانان په ځه ډول د خپل اسلام او قرآن څخه لیری کړی او داسی عوامل پکښی رامینځ ته کړی چه مسلمانان د اسلام څخه لیری او اسلامی أخوت او وحدت پاره پاره شی :

نو له همدغو دښمنانو د هلو ځلو په نتیجه کی ځه داسی عوامل پیدا شوه چه مسلمانان او اسلامی ټولنه د سکولرزم په زهرو مسموم او ولړل شول ، چه دهغوعواملو دجملې څخه ځه په دې ډول دي :

۱ * دخلافت عثماني نړېدل — کله چه موږ مسلمانان دخپل اسلامي تاریخ زرینی پاڼې مطالعه کړو وینو چه د اسلامي تاریخ داولي کرښې څخه بیا تر آخرنۍ خلافت (چه دعثماني خلافت په نامه یادیږی) پورې په ټولو حکومتونو کي د سکولرزم (دین اودولت دبېلتون) هیڅ آثار نه لیدل کیږی ، بلکه ټول اسلامی حکومتونه د اسلامی دین تابع وه ، اوسیاست ، دولت ، حکومت او نورټول معاملات ئې لکه زراعت ، تجارت ، اقتصاد صنعت ، مواصلات ، امنیت ، فوجداری او داسی نور ئې

تول د إسلامي دين د زرينو أصولو تابع وه ، همدا وجه وه چه

د إسلامي حکومت لمنه ورځ په ورځ پراخه کېدله او

پر دښمن غلیم باندې د ژوند ساحه تنګېدله ،

همېشه به د إسلام هغه بدترين دښمنان لکه يهود او

نصارى په دې فکر کې وه چه د إسلام او مسلمانانو دغه

پېشرفت يا پرمخ تلل به څرنګه بند کړو ، د دې لپاره

دوی مختلفې حربې په کار واچولې ، خو بالآخر په صليبي

جنګونو کې ترماتې خوړلو وروسته دوی په فکري جنګ

لاس پورې کړې ، ځکه دوی ته معلومه شوه ترڅو چه

مسلمانان د خلافت عثمانی تر بيرغ لاندې په قرآن عمل

کونکي وي موږ پر مسلمانانو باندې نشو کامياب کېدای

نو ځکه دوی تر هر څه مخکې د خلافت عثماني د نړېدلو

په پلان پيل وکړې او دا لاندې حربې ئې استعمال کړې :

ا = په سنه ۱۸۹۷ ميلادي د صهيونيت پلار تهيودر هرتزل

ديو وفد په مشرتابه کې د عثماني خلافت خليفة المسلمين

سلطان عبد الحميد ثاني سره ملاقات وکړې او ورته

وئې ويل چه په فلسطين کې د يهودو د يو قومي ملي

حکومت د جوړولو لپاره یوه تکړه مځکه په بیعه را کړه زه به د هغه په بدل کې ستا سو تول پور و نه در ادا کړم

خلیفة المسلمین نه یوازې دا چه د ده دغه درخواست ئې رد کړه بلکه هرتزل ئې ډیر ذلیل کړه او د خپل دربار څخه ئې وشاړه او هیڅ موافقه ئې ورسره ونکړه

هرتزل د خپل دغه بې عزتۍ او ذلیله کیدو د بدلې اخستلو لپاره لمړۍ د سلطان عبد الحمید ثاني د معزولۀ کوشش وکړه او بالآخر ئې په ۳/ اگست سنه ۱۸۹۷م کې د سویزرلینډ په ښار باسل کې د یهودانو یوه لویه عالمي اجتماع جوړه کړه چه په هغه کې پرځنې موادو باندې لاس لیکونه وشول چه د هغو د جملې څخه یو دا و چه په فلسطین کې به د یهودو یو ملي حکومت جوړیږي ، دوهم دا چه یوه یهودي بانک یا فنډ ئې جوړ کړه چه د دنیا یهود به په هغه کې پیسې جمع کوي ترڅو بیا په فلسطین کې د یهودو د قومي حکومت د جوړولو زمینه برابره شي :

د هغه وخته څخه چه نصرانیانو یهود د فلسطین څخه شړلي وه بیا یهودو خپل مستقل وطن نه درلودی

بلکه د دنیا په مختلفو ملکونو کې اوسېدله اود هر وطن خلکو به د دوی څخه کرکه او بد وړله ، نو ځکه دوی دا ضرورت محسوس کړی چه باید خپل مستقل وطن په فلسطین کې جوړ کړي :

هغوی چه د سلطان عبد الحمید ثاني ترمعزولۍ وروسته دوی د هغه بانکي یا فنډ په پیسو په فلسطین کې د مځکو راټیول شروع کړه او د صهیونیت په نامه ئې یو تنظیم جوړ کړی . (صیهون په فلسطین کې د یو غره نوم دی) .

ب = دیوې خوا ئې په ترکانو کې په خفیه ډول یو تنظیم د قومیة طورانیة په نامه د مدحت پاشا تر مشرتابه لاندې جوړ کړی او بل تنظیم ئې د انجمن اتحاد و ترقي په نامه جوړ کړی .

او د بلې خوا ئې په عربو کې د القومیة العربیة په نامه تنظیم جوړ کړی ، او د دې تنظیمونو ټوله فکری او مادی روزنه د دوی لخوا کېدله :

که دیوې خوا په ترکانو کی د ترکي قومیت لپاره کار په ډېر زور کېدی، خوله بلې خوا په عربو کې هم د عربي قومیت

لپاره کار روان ؤ ، په شام کې هم دشام دازادی لپاره پټ تنظیمونه جوړ سول ، په حجاز کی شریف حسین د خپل سلطنت خوب لیدی ، په نجد کې ابن سعود دخپل حکومت دجوړولو لپاره کار کاوه :

غرض دا چه په تېرېدلو دوخت دعثمانې خلافت دنړېدلو لپاره دځلورو طرفو څخه طوفانونه راپورته سول :

په هدغه وخت کې چه دترکانو او عربو ترمینځ اختلاف واوج ته رسېدلی ؤ لمړنی جنګ جهانی شروع شو ، د عثمانې خلافت سلطان دجرمنی سره یوځای سو او د روس ، برطانیه او فرانس په خلاف ئې دجنګ اعلان وکړ ، د سلطان او ترکانو دا خیال ؤ چه پدې ډول به ټول مسلمانان دعثمانی خلافت تر بیرغ لاندی راټول سي او بیا په دې ډول به ډېره نوې اسلحه په لاس راشي :

خو دوی دا خیال غلط ثابت شو ، ځکه دیوې خوا په عراق کی عربانو دبرطانوی فوجیانو مقابله ونکړه ، بلکه اسلحه ئې وغورځوله او تسلیم شول ،

دبلې خوا دشام عربانو دترکانو څخه بغاوت اعلان

کړي ، ابن سعود په نجد کې د بې طرفه پاته کېدو اعلان
وکړي ، په حجاز کې شریف حُسین د اتحادي ملکونو
سره خپل پیوستون یا اتحاد پدې شرط اعلان کړ چه
وهغه ته به د عربو منطقې واپس ور کول کیږي او دی به
عربي قبائل د ترکانو په خلاف وجنګ ته اماده کوي :
د دغه ساز و باز نه وروسته چه په ۱۹۱۵م کې ترکي فوجیانو
په ډېره میړانه سره یو کال د ګیلي پولي جزیره وساتله او
برطانوي فوجیانو ته ئې ماته ورکړه نو برطانیه مجبوره
شول چه د شریف حُسین سره ئې ساز و باز وکړي اود
عراق لخوا ئې پر ترکیه باندې د حملې کولو پروګرام
جوړ کړي :
شریف حُسین خپله هم د ترکانو خلاف وُ او د عربانو
اکثریت قبائلو ده حمایت کوي ، پدغه وخت کې د شریف حسین
زوی فیصل او مشهور کرنل لارنس د عربانو لارښوونه
کوله ، لارنس عربان د ترکانو په خلاف بشه راوپارول
غرض دا چه انګریزان د عربانو په کومک د ترکیه
تر سرحدو پورې ورسېدله او هغه ئې د څلورو خواؤ

څخه محاصره کړه ؛ بالآخر په ۱۹۱۸م کې ترکانو اسلحه وغورځوله او په مدروس کې یې پر جنګ بندی دستخط وکړي چې د هغې له مخې ترکیه د مصر او بلاد عرب څخه دستبردار شوله ؛

دا هغه وُ چې د دغه تحریکونو په دوران کې لمړنی جنګ جهاني هم شوی وُ، ترڅو په نتیجه کې یې خلافت عثمانی ختم شو، او د مسلمانانو ډیري منطقې د کفارو تر قبضه لاندې راغلې ترڅو په هغه منطقو کې د قبضه ګرو لخوا سکولر لادینې مدنې قوانین رائج شول ۰

۲ * لمړنی جنګ جهانې — کبدایشی ډیر علماء به خبر وی چې په نژدې دیوه قرن په شاوخوا کې دوه داسې جنګونه په دنیا کې شویدی چې تر اوسه پورې یې ټول نسلونه په جهانې جنګونو سره یادوی ؛

د سنه ۱۸۹۹م څخه بیا تر سنه ۱۹۱۹م پورې چې کوم جنګونه شویدی هغه په لمړنی جنګ جهانې سره یادیږی چې په اخیر کې یوه طرف ته جرمنی، ترکیه، آسترلیا او بلغاریة وه ، او بل طرف ته انګلستان، روس، فرانس

دوهم سبق

بلجیم ، جاپان ، ایټالیه ، سرویا او امریکه وه :

د دې جنګ أصلي وجهې او محرکات کېدایشي چه دېر وی ، خو څه ئې په ښکاره ډول داسې دی :

کله چه په اروپا کې برق او بخار ایجاد شو ، کارخانې او فابریکې جوړې شوې یعنی یو صنعتي انقلاب راغلی نو د اروپا قدرتمنو څه ضرورتونه احساس کړه ، یو دا چه د دغه فابریکو لپاره خام مواد په کار وه او بل دا چه د فابریکو د محصولاتو لپاره تجارتي مارکېټونه او د مصرف او خرڅولو ځایونه په کار وه ، دریم دا چه د رسد لپاره لوی لارې په کار وې :

د الٰهي حکمت تقاضا وه چه دغه درې سره مُهم جزونه په اروپا کې نه وه او په آفریقا او آسیا کې په پوره اندازه موجود وه کوم چه اکثریت ئې تر اسلامی بیرغ لاندې وه نو که دیوه طرفه د اروپا قدرتونو د دغه زرخېزه منطقې د حاصلولو کوشش کاوه ، خو د بله طرفه د دغه زرخېزه منطقې په اوسېدونکو کې نه د دغه څه د استفادې کولو صلاحیت ؤ او نه د هغه څه د دفاع کولو استعداد :

همدا وجه وه چه په لمړی قدم کې خپله داروپائي ملکونو په خپل مينځ کې يو پر بل باندې د سبقت وړلو او زياتې منطقې ترخپل تصرف لاندې راوړلو په خاطر جنګونه کړل ، ترڅو بيا په لوی جهاني جنګ بدل شول ، ترڅو دې جنګ په نتيجه کې د مسلمانانو يولوی حکومت او وحدت پاره پاره شو او ډيری منطقې ئې د کفارو يعنی يهودو او نصاراؤ تر تصرف لاندې راغلې ، د مثال په ډول ماوراء النهر د مسلمانانو هغه علمي منطقه لکه سمرقند وبخارا ، تاشکند ودوشنبې او داسې نور چه نن د وسطی آسيا د شپږ وجمهوريتونو په نامه يادېږی ، براه راست د روس ترتسلط لاندې راغلل :

قارهٔ هندي لکه اوس موجوده پاکستان ، هند ، برما بنګله ديش او فلسطين ، عراق ، کويت او مصر د انګلستان ترقبضه لاندی شول :

الجزائر مغرب ، تونس ، مراکش او شام د فرانس تر قبضه لاندې راغلل :

ليبيا ، سودان ، صومال او داسې نور د ايتاليې ترقبضه

لا ندي راغلل ؛

خلاصه دا چه د دې جنګ په نتیجه کې د دنیا نقشه بدله شوله ، څه نوي ملکونه په وجود راغلل ، څه پخواني ملکونه نیستي شوله او د مسلمانانو یو لوی حکومت چه د خلافت عثماني په نامه یادیدی ټکړې ټکړې شو او ټولې آبادې منطقې ئې یهودو او نصاراؤ په خپلو منځو کې سره تقسیم کړې ، صِرف یو څه وچه او صحراء منطقه و ترکیې ته پاته شوله (۱)

د دې څه خلاصه اشارې څخه پس خپل مطلب ته راځم —

هغه دا چه په اسلامي ټولنه کې د سکولرزم مینځ ته راتللو یو سبب جنګ جهاني ؤ ، هغه داسې چه هغه اسلامي منطقې چه براه راست د کفري قوتونو تر قبضه لاندې راغلې نو په هغو کې خپله هغه کفري قابض قوتونو اسلامي قوانین لغوه کړل او پر ځاى ئې مدني يا سکولر نظامونه رائج کړل چه تر اوسه پورې تر آزادۍ وروسته هم هغه قوانین پکښې رواج لري .

---

(۱) انقلابات عالم : ص ۵۵ — ۵۷ خلاصه

٣ * پر ترکیه باندې د مصطفیٰ کمال اتاترک حکومت ــ
لکه څرنګه چه مومخکې وویل د اُول جنګ جهاني په نتیجه
کې خلافت عثماني ونړیدی او د مسلمانانو یولوی اکثریت د
یهودو او نصاراوُ ترقبضه لاندی راغلی ؛
باید ووایو چه په ټوله اسلامي نړۍ کې یواځې موجوده افغانستان
، موجوده سعودی عربستان او ترکیه براه راست د ذوی
ترقبضه لاندې ندی راغلی ، د اسلام د ښمنانو نه غوښتل چه
په د غومحدودو منطقوکې اسلامي شریعت او قوانین پاته
شی نوځکه ئې داکوشش کوی چه دخپلو روزل شوُو
اشخاصو په ذریعه په هغوی کې هم په تېرېد و دوخت اسلامي
قوانین لغو او پرځای ئې مدني قوانین رائج کړل شی ، چه د
هغوی دجلې څخه ئې په ترکیه کې د مصطفیٰ کمال په واسطه
سکولر قوانین رائج کړل چه څه تفصیل ئې لاندې ورول کېږي؛
مصطفیٰ کمال اتاترک (دترکانو پلار) یو اُدنیٰ
فوجی افسر وُ اود ترکیې په ټولو جنګونو کې ئې حصه اخستې
وه ، د جبل الدروزاو بلغاریه په جنګونو کې د اټلی
په خلاف ، د طرابلس په جنګ کې د برطانیې په خلاف

دگیلي پولي په جنګ کي د روس په خلاف، د کیشیا په جنګ
کي او په سنه ۱۹۱۸ کي دشام پرمحاذ باندي، په دغه ټولو
جنګونو کي ئي حصه اخستې وه او د خپلو ځلانده جنګي
کارنامو په وجه ئي ډېر مقبولیت ترلاسه کړی و:
پدې وخت کی سلطان عبدالحمید ثاني دئ واناطولیه ته
ولېږی، کله چه دئ واناطولیه ته ورسېدی ده دا محسوسه
کړې وه چه عثماني خاندان (کورنۍ) د ترکانو دغه پاشلي
شوی حالت بیا نشي جمع کولای: ده په نزد د ترکانو دیوځای
کولو یواځنۍ لاره دا وه چه ترکان د قومیت او وطنیت پرنامه
سره یوځای او منظم کړل شي، هما وجه وه چه ده هلته په
اناطولیه کی لمړی د خلافت عثماني د نائبانو او حاکمانو
د اطاعت څخه انکار وکړی، دوهم ئي د اتحادیانو په
خلاف د ترکانو یوځای کولو دعوت شروع کړی او په سلګونو
ترکي مشرانو ته ئي دعوت نامې ولېږلې ترڅو ټول سره یوځای
شي او د راتلونکي لپاره خپله لائحه عمل او طریقه کار وټاکي
هغه وچه د ترکي مشرانو یوه لویه اجتماع جوړه شوه
او تر بحث کولو نه وروسته ئي په متفقه ډول مصطفی کمال

خپل صدر منتخب کړی او د دغه مجلس څخه ئې یو کونسل جوړ کړی چه د ترکیې د آزاد پاته کېدلو لپاره ئې هر قسم عملي اختیارات ورکړل د دغه کونسل صدر هم پخپله مصطفیٰ کمال وُ ؛

څو ورځې وروسته دغه کونسل یو میثاق نشر کړی چه په هغه کې ویل شوي وه چه موږ د عربو د ټولو مځکې څخه لاس بردار یو ، مګر هغه علاقې چه په هغو کې د ترکانو اکثریت دی د مذهب ، نسل او نصب العین په لحاظ سره یو ځای کېدای شي هغه ټول یو قوم او یو ملک دی چه په هیڅ صورت سره جلا کېدای نشي ؛

په همدغه ورځو کې د اِتحادیانو لخوا د (معاهده سوای) په نامه یوه معاهده نشر شوله چه په هغه کې ویل شوی وه چه د ترکیې څه علاقه د اِتحادیانو د یو کمیشن تر تصرف لاندې ورکړه شوېده ، د سمرنا علاقه ویونان ته او د اوالیه علاقه واټلی ته ورکړه شوېده ؛ او څه وچ میدانونه ، بې کاره د بریته علاقه ئې د ترکانو لپاره تعین کړې وه ؛ او دا هم پکښې لیکلي وه چه ترکان تر پنځلس زره زیات فوج نشي ساتلای

دپورتنی معاهدې په خپرېدلو سره دترکانو سترګی
نورې هم خلاصې شوې او د ترکیې دآزادی کوششونه نې
نور هم تېز کړه :
په سنه ۱۹۲۰ کي یونانیانو د اِتحادیانو په کومک پر ترکیه
باندې حمله وکړه ، تر دوو کلو پورې دا جنګ جاري و ، تر څو
ترکانو یونانیانو فوج نه یوازې د سمرنا څخه بلکه د تهریس
څخه هم وشړل ، بالآخر په سنه ۱۹۲۳ کي په یونان کي
د ترکانو او برطانیې د نمائندګانو ترمېنځ یو کانفرنس جوړ
شو ترڅو د ترکیې د حدودو تعین وشی : د ترکیې د طرفه
څخه عصمت نونو چه د مصطفی کمال هم خیال او دوست و
او د برطانیې لخوا لارډ کرزن نمائندګي کوله ، لکن دا کانفرنس
کامیاب نشو :
بیا په جولای سنه ۱۹۲۳ کي دوهم کانفرنس په لوزان کی جوړ شو
چه په هغه کي د ترکانو ټول مطالبات ومنل شول ، او پر یوه
عهدنامه باندی لاسلیک وشو چه د هغې له مخې قسطنطینیه
او د هغې أطراف د اتحادي کمېشن څخه واپس واخستل
شول او بیرته ترکیې ته ورکړل شول ، تهریس هم ترکیې ته

ورکړه شو ، د ترکیې فوجونو د تعداد څخه بندیز پورته شو ، د ترکیې د تجارت او مالیاتي نظام څخه یورپي کنټرول پورته شو او د همدغه معاهدې له مخې ترکان د خلافت عثماني پر ختم کېدلو راضي شول :

* ترکي جمهوریت *

اوس سؤال دا و چه په ترکیه کي باید څرنګه حکومت جوړ شي ؟ مجلس وطني (ملي شورٰی) چه د مصطفیٰ کمال تر مشری لاندي جوړ شوی و په پیرغټ أکثریت سره د خلافت عثماني د ختم کولو او پر ځای ئې د غربي طرز جمهوریت جوړولو فیصله وکړه : مصطفیٰ کمال او عصمت نونو پـه دوارو دیو ملي اساسي قانون مسوده جوړه کړه او مجلس وطني (ملي شورٰی) د هغې منظوري ورکړه او مصطفیٰ کمال ئې د جمهوریهٔ ترکیه لمړی صدر وټاکه :

مصطفیٰ کمال او نوی إصلاحات *

مصطفیٰ کمال چه په خپل نوی اساسي قانون کی د إصلاحاتو په نوم څه لیکلی وه د هغوی د جملې څخه څه په لاندي ډول دی :

۱ = د ترکي خوله پر ځای ئې عسکري سایواني خوله پر سر کول

لازمي وبلل ، ځکه دهغې خولی سره سجده ممکن نه وه لکه زمونږ عسکرو اوصاحب منصبو چه پر سرکوله :

ب = دښځو لپاره د پوړنې او برقعې پر سرکولو رواج ختم کړشو

ج = په سنه ۱۹۲۶ کې د ترکي ژبې حروف هجاء چه مخکی عربي وه په انګریزی حروفو هجاء سره بدل کړل :

د = دیني مدرسې اود درویشانو خانقاوی ئې بندی کړې :

ه = شرعي محکمې ئې بندی کړې ، پرځای ئې غربي یورپي طرز عدالتونه رائج کړل :

و = دعثماني خلافت شرعي قانون ئې لغوه او پرځای ئې مدني غربي قانون رائج کړی :

ز = پر ټولو هغه تحریکونو ئې بندیز ولګاوه چه داسلامي خلافت لپاره ئې کار کاوه . (۱)

مطلب دا چه د سنه ۱۹۲۲ څخه تر سنه ۱۹۳۰ پوری مصطفی کمال پر ترکیه باندی حکومت وکړی ، او په خپل دور حکومت کی ئې خپل ټول توان پدې کې صرف کړی چه دین او دولت سره جلا کړي ، إسلامي بیت المال چه د زکاتو ، خراج او

---

(۱) مباحث في الغزو الفكري ص ۷۵-۷۶ تنديل محمد قنديل

داسي نورو اسلامي لارو څخه جوړېدى هغه ئې منسوخ کړي او پرځاى ئې د محکومالیه او تجارتي محصول مقرر کړي.

د پورتني شرح سره سم په ترکیه کي اسلامي قوانین لغوه شول او پرځاى ئې مدني سکولر قوانین د مصطفى کمال اتاترك په واسطه رواج شول چه ترننه عصر پوري سره د نورو تولو خرافاتو رائج او چلیږى .

۴ * د بین الملل د اداري جوړېدل — لکه څرنګه چه مومخکي وویل چه په دنیاکي دوه داسي جنګونه سویدى چه په تاریخ کي تراوسه پوري په جهاني جنګونو یادیږى :

د لمړني جنګ تباهى او بربادى دومره زیاته وه چه تاریخ د هغوى د مثال وړاندي کولو څخه عاجزدى ، د نموني په ډول باید ووایو چه پدې جنګ کي تخمیناً (۹,۰۰,۰۰۰) انسانان مړه (۲۲,۰۰,۰۰۰) نفره زخمیان شول ، تقریباً (۵,۰۰,۰۰۰) خلك ورك شول ، او ددې جنګ تخمیني مصرف (۴۰,۰۰,۰۰,۰۰,۰۰۰) ډالره لګول شویدى :

پدې جنګ کي داخته ملکونو ډېر سړکان ، پلونه ، ویالې ، کلي او ښارونه خراب او په کنډوالو بدل شول ، د خوړلو د شیانو

او تجارتي سامانونو څخه ډك ډېر بحري آبكوتونه په دريابونوكي غرق سول ، ډېري كارخانې تباه شوې ، انساني ټولنه د رنګ رنګ ناروغيو او لوږی سره مخامخ شوله ، په داسي حالاتوكي دهر طرف څخه دأمن د ساتلو لپاره آوازونه راپورته كېدل ، او دېوې داسي إدارې دجوړولو غوښتنه چه بين المللي أمن وساتي يوه انساني فطري غوښتنه وه ، تر څو بېن المللی توګه دأمن د رور ولی ساتنه وكړی :

هدغه دخلكو غوښتني او دأمن خوښونكو خلكو كوششونه وه چه په اوله دجنوري سنه ۱۹۲۰ كی دمجلس اقوام په نامه يوه بين المللي إداره جوړه شوه :

دا ديو مستقل نوعيت يو بين المللي تنظيم وُ ، ددې تنظيم دمُهمو وظيفو ترڅنګ يو دا هم وُ چه دملكونو ترمينځ تنازعات او جنجالونه ختم كړي او دمځكی پرمخ دأمن او ورور ولی داسی فضاء رامينځ ته كړي چه په هغه كي انسانيت هوسا او خوشحاله ژوند وكړی . (۱)

ترڅو دخپلي اصلی موضوع څخه ليری شوی نه يم دمجلس

---

(۱) بين الأقوامی تنظيميں ص۳۳ ايس ، ايم شاهد :

اقوام نور تفصیل پر پرېږدم ، صرف دا وایم ! افسوس چې مجلس اقوام په خپلو أهدافو کې بریالی نشو ، د ناکامی د وجوهاتو څخه ئې دا څو د نمونې په توګه لیکم :

۱ = د دې مجلس پر رکنیت باندې صِرف (۳۴) هیوادو نو لاسلیك وکړی ، ډېرو ملکونو ئې د رکنیت څخه ځان ساتی نو ځکه دا یو بین المللي تنظیم نشو ؛

۲ = د دې مجلس د فیصلو لپاره اتفاق رأی شرط وُ ، دا طبعی خبره ده چه پر یو موضوع باندې د ټولو اتفاق راتلل یو ناممکن کار وُ ؛

۳ = دې مجلس د خپلو فیصلو د عملی کولو لپاره هیڅ یوه قوه ٔ نافذه نه درلودل ، نو ځکه به ئې ډیری فیصلې بې عمله پاتـه شوې ؛

۴ = د رکن ملکونو خود غرضي او مفاد پرستی ، هر ملك غوښتله چه دا تنظیم د خپلو ګټو لپاره استعمال کړي ، د کوم ملك چه به ګټه په خطر کې وه هغه به جلا کېدی ؛

۵ = د وړو رکن ملکونو د محرومیت احساس ، پر وړو ملکونو به هر ډول فیصلې تپل کېدلې او لوی ملکونو ته به هیڅ نه ویل کېدل ؛

۶ = برطانوي او فرانسوي غلبه ، دعامو خلکو سره د ذهنیت پیدا شوی ؤ چه پر دغه مجلس باندې د برطانیې او فرانسې غلبه ده :
۷ = د دغه مجلس د وجود په وخت کې دوهم جهاني جنګ او د هغه په مخ نیولو کې ناکامی ۰ (۱)
د پورتنیو څو اسبابو په څېر نور هم داسې اسباب وه چه د هغوله مخې دا بین المللي اداره د مځکې پر مخ په امن او خوشحالۍ راوستلو کې ناکامه شوه :
په ستمبر ۱۹۳۹ سنه کې انساني تولنه یوځل بیا د خود غرضو او بې تدبیره مشرانو له لاسه د دوهم جنګ جهاني په لمبو کباب شوله او د مځکې مخ په انساني وینو سور شو او دنیا د تباهۍ او بربادۍ کندې ته وغورځول شوه ؛ یوځل بیا انسانیت د امن د غوښتلو کچکول په لاس کې واخستی او په دنیا کې ئې د امن او خوشحالۍ راوستلو لپاره کوششونه شروع کړل ، تر ډېرو چیغو او نارو وهلو وروسته په اخیر کې په ۲۴ / اکتوبر ۱۹۴۵ سنه کې ئې د انجمن اقوام متحده په نامه یوه اداره جوړه کړه ، دا چه د دې ادارې قانون

(۱) بین الاقوامی تنظیمیں ص ۶۹-۷۲ ایس ، ایم شاهد :

مرکزیت، اداري تشکیل او یانور اړخونه ئې په څه دول ري پرداسي موضوعاتو باندې ډېر لوی او غټ کتابونه لیکل شوي دي چه پدې کتاب کې ئې ځایول مشکل کار دۍ، نو ځکه باید څه هغه موضوعاتو ته اشاره وشي چه د موضوع د عنوان سره سمون خوري،، هغه دا چه د ملل متحد اداري په إسلامي ټولنه کي څرنګه د سکولرزم لپاره کار وکړي؟ او یائې کوي؟ څه په لاندې ټکو کي وړاندې کوم.

* د ملل متحد په أغراضو او مقاصدو کي لیکل شویدي، — ماده -١- جزء -٢- کي وائي، د إنسان دوستۍ د دوله ټول معاشي ثقافتي او ټولنیز مسائلو د حل کولو لپاره بین المللي تعاون حاصلول د نسل، جنس، ژبي، دین او مذهبي امتیاز نه بغیر د ټولو انساني حقوقو احترام کول - او د ټولو انسانانو بنیادي آزادۍ د جذبي راپارول او تقویه کول دي.

او د غه پورتنۍ ألفاظ ئې بیا په ماده -٧٦- جزء -ج- کي داسې لیکلي دي ... د نسل، نوع، ژبي، دین یا مذهبي امتیاز نه بغیر د إنساني حقوقو او د ټولو إنسانانو لپاره د بنیادي آزادۍ د إحترام د أهمیت روښانه کېدل، او د دنیا د قومونو

متعلق د داسي اصولو د تسليمولو أهميت روښانه كول دي ؛

د داسي موادو په شان پر « ۱۱۱ » يوسل يوولسو موادو باندي په لمړني ځل « ۴۵ » پنځه څلويښتو ملكونو لاسليك وكړ ، بيا په سال ۱۹۴۹ كي « ۷۶ » شپږاويا نورو ملكونو د دغه موادو پر متنلو باندي لاسليك وكړي چه په هغه كي افغانستان پاكستان او د نړۍ نور ټول إسلامي او غير إسلامي هيوادونه شامل وه ؛ (۱)

دا هغه ښائسته كپسول يا پوښ لرونكي كولى ده چه په ښكاره نه ښكاري خونس ئې د زهرو ډك دي ، دا هغه خارلرونكي سيم دي چه د تل لپاره ئې إسلامي ټولنه پكښې ساتلي ده چه د آزادى سره بره هم د دغه قانوني متل شوى مادي څخه نشي وتلاى ، ځكه هر ركن ملك مكلف دى چه د دغه مادي مطابق عمل وكړي او په خپل قانون كي ورته ځاى وركړي

هملغه ماده د سكولرزم د مينځ ته راتللو سرچينه او د تل لپاره د سكولرزم ساتونكي ده ، ځكه هغه ټولنه چه پر يو خالص ديني مذهبي بنياد جوړه شوي وي لكه اسلامي ټولنه هغه د دغه مادي د منلو سره سره په خپل ديني مذهبي قانون عمل نشي كولاى

(۱) بين الأقوامي تنظيميں ص ۷۸ — ۱۰۱ ايس ، ايم ، شاهد .

ځکه دا د إسلامي قانون سره په ټولو ځایو کي ټکر لري چه تفصیل ئې په لاندي ډول دی :

۱ * د یو ر تنۍ مادي دا جزء چه وائې د جنس د إمتیاز نه بغیر د إنساني حقوقو إحترام کول ،، د جنس څخه مراد نارینه او ښځه ده، یعني د نارینه او ښځي یو شان ته حقوق دی او باید د یوه إنسان په سترګه ورته وکتل شي ځکه ښځه هم یو إنسان دی : د دغه مادي د عملي کولو او ښه ودی ورکولو لپاره او قانوني تحفظ حاصلولو په غرض، إقتصادي او معاشرتي کونسل (حقوق نسوان) د ښځو د حقوقو په نامه په جون سنه ۱۹۴۶ کي یو کمیسون جوړ کړی، د کمیسون وظیفه دا وه چه یوه داسي ضابطه یا قانون جوړ کړي چه په هغه کي ښځو ته سیاسي، قانوني، تعلیمي او کاروباري مساوي یعني د نارینوو سره برابر حقوق ورکول شي :

جنرل اسمبلي په ۲۰ د دسمبر سنه ۱۹۵۲ کي د ښځو د سیاسي حقوقو په متعلق یوه قانوني ضابطه منظور کړل او د توثیق لپاره ئې د رکن ملکونو حکومتونو ته ولیږل ،، د دغه ضابطي منونکو ملکونو ته دا ضروري او لازمي وه چه بېله امتیاز او

تو پیرنه به وبښځو ته په انتخاباتو کې د رأی ورکولو حق ورکوی او په ټولو سرکاري ادارو کې به په شمول د قضاء او قانون د کارکولو وظیفه ورکول کیږی ، او بل دا چه دیوه ملك ښځه دبل ملك د سړي سره واده کولاي شي او د واده کولو په صورت کې به هغه ښځه د خپل وطن څخه نه محرومیږی ، او ښځو ته به په دفترو نو کې د نارینوو برابر تنخواه ورکول کیږی ، په کورنۍ جائیداد کې به برابر حق ورکول کیږی ، د نارینوو په شان یو برابر تعلیم به ورکول کیږی (۱)

د پورتنیو حقوقو په شان د انساني حقوقو کمیسون چه د حق او ناحق کوم قانون وړاندی کړیدی په هغه قانون کې د دنیا د ټولو انسانانو لپاره د عالمي حقوقو اعلان کړه شویدی ، په هغه کې د انسان لپاره د سیاسي ، اقتصادي ، معاشرتي ، تعلیمي صحت ، روزګار ، تحریر و تقریر ، عدل وانصاف ، نقل وحرکت او داسې نورو حقوقو تفصیل بیان شویدی او د دنیا د ټولو انسانانو لپاره یو قسم حقوق تعین شویدی ، پدې هکله لمړی باید دا ووایو چه د حق او ناحق داسی دوه لفظونه دی چه

(۱) بین الأقوامي تنظیمیں ص ۱۴۸-۱۴۹ ایس ، ایم ، شاہد :

دهغوی د معنیٰ او مفهوم تعین کول د انسان تر طاقت وتلی کار دی، ځکه چې په ځینو کې پوښتنه دا ده چې کیدای شي یو شوک دخپل حق باور شته او هغه یوکار یو شوک د ځان حق بولي خو بل شوک یې د هغه حق نه بولي، بلکه داسي هم کیږي چه تر یو کار د چا حق بولي خو هغه دد غه حق څخه انکار کوي او بل دا چه لکه څرنګه چه د دنیا د ملکونو حالات مختلف دی نو هم دا شان د انسانانو حقوق مختلف دی : د ټول دنیا لپاره یو شان ته حقوق تعین کول هیڅکله هم نشي عملي کېدلای

دمثال په ډول یو ملک مکلّف دی چه خپل د ملک ټولو أفرادو ته په یو معیار صحت، تعلیم او روزګار ورکړي او د هغه ملک اقتصادي توان نلري نو به څرنګه وکولای شي چه ټولو ته یو برابر کار او روزګار ورکړي ؟ او دا چه یو غریب ملک به څرنګه د یو ماړه ملک په شان خپل د ملک ټولو أفرادو ته یو شان ته آسانتیاوې برابرې کړي ؟ ښکاره خبره ده چه نه یې شي کولای :

دمثال په ډول په ملک کې یو سړی په موټر کې سپریږي او یو بل سړی پیاده روان وي نو دغه هم د هغه بل په شان انسان دی، باید ده ته هم موټر ورکړل شي،، او دا هیڅ

ندی کړی او نه ئې کولایشی ، او نه د ملل متحد د انساني حقوقو کمیسون د دغه حقوقو تحفظ کړیدی او نه ئې کولایشی ، خو صرف د اسلامی ملکونو لپاره یوچل دی :

نو ځکه باید ووایو چه د حق او ناحق د معنیٰ او مفهوم تعین صرف او صرف ، یوازی او یوازی د انسان د معتقداتو لپاری کیدایشی یعنی انسان چه پرکوم شئ عقیدهٔ او ایمان لری د هغه له طرفه چه کوم شئ ته حق وویل شو هغه حق دی ، او کوم شئ ته چه ناحق وویل شی هغه ناحق دی :
د مثال په ډول مسلمانان پر یوه ذات الٰهي باندی داسي عقیدهٔ او ایمان لری چه هغه زموږ خالق ، رازق ، مُحْیِي ، مُمِیت او قادرِ مطلق ذات دی او هغه ذات موږ ته یو قانون د قرآن کریم په نامه راکړیدی او په هغه کې ئې ټول حق او ناحق په تفصیل سره بیان کړیدی ، او موږ د خپلی عقیدي له نظره مکلّف یو چه په هغه عمل وکړو او په خپل ملك او ټولنه کې ئې پیاده کړو ، او خپله ټولنه د هغه الٰهی قانون د هدایاتو په رڼا کې جوړه کړو :

کیدایشی د اسلامي ټولني په شان هره ټولنه ځانته

معتقدات ولري او د هغو معتقداتو په رڼا کي ځانته قانون ولري : اوس که د انساني حقوقو کميسون موږ ته حقوق را ښيي چه دا حق دی او دا ناحق دی ، نو موږ مسلمانان مکلّف يو چه د خپل اسلامي قانون سره ئې وګورو چه د هغه سره ټکر لري او که نه ؟ په لاندنيو څو ټکو کي داسي مثالونه ليکم چه په هغه کي د بين المللي حقوقو او اسلامي حقوقو ترمنځ څومره ټکر شته ، او دا صرف نمونوي مثالونه دي چه مسلمانان پوه شي چه اسلامي ټولنه د ملل متحد د قانون سره نشي چليدلای :

اول :- دوی د دغه مادي له مخي وائي چه ښځه د نارينه انسان په شان آزاد د کور څخه وتلای شي او په دفترو نو او کارخانو کي د نارينه په شان کار کولای شي ، او دا د ښځي يو انساني حق دی بايد حفاظت ئې وشي ---- او اسلامي قانون (قرآنکريم) په دې هکله داسي فيصله کوي :

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ (۱)

ترجمه : قرار ونيسی ای ښځو په خپلو کورو کي او مه ښکاره

---

(۱) سورة الأحزاب : آية ۳۳

کوی ښایست خپل ښځکانه سرپوتنه په شان د اظهار او ښایست د جاهلیت د ښځو په مبنیو ؛

تفسیر ـ یعنی پخوا له اسلامه د جاهلیت په زمانه کې ښځې بې پردې ګرځیدلې ، او د خپل بدن او لباس د ول ، ښایست او د سنګار مظاهره او ښود نه به ئې په علانیه صورت سره کوله ، د دغې بد أخلاقۍ او بې حیائۍ وضعیت د مقدس إسلام په نزد منفور او مهجور وګرځول شو ، او ښځو ته ئې صاف حکم صادر کړ چه دوی دې په خپلو کورو کې هستوګنه وکړی ، او د جاهلیت د زمانې په شان دې د باندې نه وزی او نه دې د خپل حسن وجمال د ول او سنګار نمایش او ښود نه کوي (١) ؛

دوهم = د هلغه پورتنی مادې له مخې دوی وائي چه د ښځې بله مُحرمه و نورو ځایونو او ملکونو ته سفر کول او خپل إداري او سفارتي وظائف ترسره کول د ښځې إنساني او بنیادي حق دی باید ورکول شي ..... او د إسلامي قانون سره ټکر لري ، او د إسلام پیغامبر د إلهي وحي په رڼا کې فرمائي عن أبي سعيدٍ قال ... قال رسول الله صلّی الله علیه وسلّم

(١) تفسیر کابلی ص ٣٠٩٦ ـ ٣٠٩٧ ج ـ پنځم

لاتُسافر المرأةُ سفرَثلاثةِ أيامٍ فصاعدًا إلّا مع أبيهَا اَوْ أخيهَا اَوْ إبنِهَا اَوْ زوجِهَا اوذي مُحرمٍ (١)

عن أبي هريرةَ قال ... قال رسولُ اللّٰهِ صلّى اللّٰهُ عليهِ وسلَّمَ لا يَحِلُّ لإمرأةٍ أن تُسافرَثلاثًا إلّا ومعهَا ذو مُحرمٍ مِنهَا (٢)

داِسلام حق لاربنود فرمائي چه ښځې ته د درې ورځو اوشپو سفر د محرم پلار، ورور، زوئ او ميړه نه بغير جائز ندى، حتى په ځينو حديثونوكښې يوه شپه او ورځ هم راغلې ده.

دريم = يوه ښځه ديونارينه په شان د مستقلې شاهدى وركولو حق لرى، ځكه دا ددې يوانساني حق دى .... او د اِسلام قانون ديوې ښځې شاهدى قبوله نه بولي، ځكه الله عزّوجلّ په قرآنكريم كي فرمائي:

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ (٣)

ترجمه: او شاهد ونيسئ تاسي په خپلو معاملوكي دوه

(١) ابن ماجة ص ٩٦٨ ج ٢ (٢) مسلم ص ٤٣٤ ج اول (٣) سورة البقرة: آية ٢٨٢

شاهدان د نارینو وستاسي چه مسلمانان ، عاقلان ، بالغان
او اصیلان وی پس که نه وُو دوه سړي نو یو سړی دی وی
او دوې ښځې له هغو کسانو چه تاسی ترې راضی یئ د عدالت
له کبله له شاهدانو د ښځو ، دا تعدد ددې لپاره دی که هېره
کړي دا شاهدی یوه له دې دواړو نو وربه یاد به کړي هغه یوه
له دې دواړو چه وربه یاد وی هغه بلی هېر زړې ته ، (۱)

څلورم = که په کورنۍ ژوند کې ښځه او نارینه سره خوښ
نه وه ښځه هم د طلاق حق لری ځکه دا ددې یو انسانی
حق دی لکه څرنګه چه نارینه کولایشی چه ښځې ته د ناخوښۍ
په صورت کې طلاق ورکړی ---- لکن د اسلام قانون په
دې هکله د طلاق حق یواځې و نارینه ته ورکوی لکه څرنګه
چه د قرآنکریم په دې آیت کې ذکر شویدی یَا اَیُّهَا النَّبِیُّ
اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ (۲)

ترجمه : ای نبیؐ وواېه امت خپل ته کله چه تاسو ښځې خپلی
طلاقوی چه مَدْخُول بِهَا وی او صغیره ، آیسه او حامله
نه وی نو طلاقوی ئې په وقت د عدت ددوی کښې (په

(۱) تفسیر کابلی ص ۲۶۳–۲۶۴ ج – اول (۲) سورة الطلاق آیة ۱

طهر کښې چه خالي له جماع څخه وي .

د پورتنی آیت په شان چه څومره آیتونه او یا حدیثونه د طلاق په هکله راغلی دی په ټولـو کی د طلاق ورکولو نسبت و نارینه ته سویدی نو ځکه ټول فقهاء په دی فیصله کوی چه د طلاق حق یوا ځی او یوا ځی نارینه لره دی ښځه د طلاق حق نلری ، البته د ناراضی په صورت کښې ښځه د خلع حق لری ، هغه دا چه ښځه هغه مهر چه دې اخستی دی وخپل خاوند ته بیرته واپس کړی ، بیا به هم خاوند طلاق ورکوی بیا دا خلاصېدلای شی صرف د مهر په واپس کولو نشي خلاصېدلای .

پنځم = ښځه د یو نارینه په شان په میراث کي د برابری حصې حق لری ، ځکه دا ددې د یو انسان په حیث مساوی حق دی .... او د اسلام قانون په دې هکله داسی فرمائي

يُوصِيكُمُ اللّٰهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ (۱)

ترجمه : حکم کوی تاسی ته الله په حق د میراث د أولاد د ستاسی کی چه شته نارینه لره له میراثه په مثل د

(۱) سورة النساء ، آیة ۱۱ نمبر .

برخی د دوُو ښځو - مثلاً که یو هلاك او دوې انجونې وی نو نیمائې مال هلك ته او بله نیمه نې هغه دوُو انجونو ته وركول كیږی، او كه یو زوی او یوه لور ترې پاته وی نو دوه ثلثه هلك ته او یو ثلث انجلۍ ته رسیږی : (١)

د پورتنیو څو نمونوی مثالونو په څیر د اسلام او مسلمانانو دښمنان د ملل متحد تر بیرغ لاندی په اسلامی تولنه کې د ښځو د حقوقو په نامه د آزادی اوازونه خپله د اسلام څخه د ناخبرو مسلمانانو په خوله راپورته کوی او د اسلامي أصولو مخالفتونه کوی ، او د اسلامي تولنی حکمرانان د ملل متحد د قانون په څنګ څیرو نو ترلی او د خپل اسلامی اصولو څخه د دفاع کولو څخه عاجز دی .

٢ * د پورتنی مادې دا جزء چه وائي د دین او مذهبی امتیاز (توپیر) نه بغیر د انسانی حقوقو احترام کول ،، په دې جزء سره نه یوازی دا چه د تولو ادیانو اهمیت ختموی بلکه تر پرده لاندی په تولنه اسلامی تولنه کښی د سکولرزم (لادینیت) لاره هواره وی ، له بلی خوا د یهودو او نصاراؤ لپاره په

(١) تفسیر کابلی ص ۴۶۳ ج - اول

اسلامي ټولنه کي قانوني تحفظ حاصلوي، ددې سره سره
د اسلامي دين د اُهميت کمولو کوشش کوي، او اسلام چه
وخپلو منونکو ته د يهودو او نصاراوُ څخه د شومره کړکې
کولو هدايت کړيدی هغه ټولنه د منځه وړل دي. ترڅو
داو وائي چه يهوديت، نصرانيت او اسلام درې سره
الهي آسماني اديان دي يو پر بل باندې فضيلت نلري او
داچه انسانيت د ټولنې اصلي او بنيادي عنصر دی دين
او مذهب شخصي او بعدي خبره ده نو ځکه د يوې
ټولنې سياست او اساس بايد د دين او مذهب پر بنيا د
نه وي بلکه بايد د يو ملك اساس او بنياد داسې جوړ وي
چه په هغه کي د دين او مذهب مداخلت نه وي ترڅو د
ټولو اديانو خلك په مساويانه ډول د انسانيت تر اصولو
لاندې ژوند تير کړي ترڅو د يو ټولنې د اتشخص
پاته نشي چه دا اسلامي او يا داغير اسلامي ټولنه ده
بلکه د نړۍ ټول ملکونه تر يو سکولر يا لادينه نظام
لاندې ژوندو کړي.

دمادې دغه جزء هم د لمړني جزء په شان د اسلامي

قانون سره په څوځايه کې ټکرلري :

الف : إسلام وانسان ته صِرف د انسانيت په سترګه نه ګوري بلکه لکه څرنګه چه د إسلام له نظره د إنسان خلقت (پيدايښت) د عبادت لپاره شوېدې نو له هغې وجه وانسان ته د هغه د دين اومذهب له نظره کتل کيږي ، الله جلّ جلاله فرمائي : وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ (۱)

باء : د إسلامي قانون له نظره انساني ټولنه پر دوو برخو تقسيميږي چه يوه ټولنه دارِ حرب او بله دارِ اسلام بولي يعني هغه ټولنه چه اسلامي قانون پکښې عملي کيږي وهغه ته دار إسلام وائي او هغه ټولنه چه اسلامي قانون نه وي پکښې عملي وهغه ته دارِ حرب وائي ، دا چه وټولې نړۍ ته انساني ټولنه وائي صِرف د غه توپير له منځه وړل دي ،

جيم : د إسلامي قانون له مخې که يو غير مسلم په اسلامي ټولنه کې ژوند کول غواړي هغه به د دوو حالو څخه خالي نه وي ، يا به مؤقت وي او يا به د همېشه

(۱) سورة الذاريات ، آية ۵۶

لپاره وی چه اول مستأمن اودوهم یا ذمي او یا غلام دی
دهر یوه لپاره خپله مستقله کړنلاره سته ، دمثال
په ډول د مستأمن لپاره داسي څرګنونه دی لکه چه وائي
لَا يُمَكَّنُ مُسْتَأْمِنٌ فِينَا سَنَةً وَقِيلَ لَهُ إِنْ أَقَمْتَ سَنَةً
وُضِعَ عَلَيكَ الجِزْيَةِ فَإِنْ مَكَثَ بَعدَه سَنَةً فَهوَ ذِمِّيٌّ
فَلَم يُترَكْ انْ يَرجِعَ إِلَيهِم ؛ (۱)
مستأمن هغه کافرته ویل کیږی چه دمسلمانانو أمیر
دیو مؤقت وخت لپاره په إسلامی ملك کی داوسیدلو
امان او اجازه ورکړی ؛
دپورتنی عبارت څخه دالاندی څو احکام راوزی ؛
۱ - مستأمن د إمام په اجازه و اسلامی ملك ته راتلایشی
۲ - دا أمان ورکول به پوره کال نه وی ، ۳ - دا
به ورته ویل کیږی که تر یوه کال زیات پاته شوي نو بیا
ستا څخه جزیه اخستل کیږی ، ۴ - که تر یوه کال
زیات پاته شو هغه بیا مستأمن نه بلکه ذمی بلل کیږی ،
۵ - دیوه کال ترتیریدلو وروسته به بیا وخپل وطن ته

(۱) کنزالدقائق ص۲۰۷ ابوالبرکات ؛ عبدالله بن احمد بن محمود ؛

دبيرته تللو اجازه نه ورکول کيږي :

ذمي وهغه کافرته ويل کيږي چه دهمېشه لپاره په يو إسلامي ملك کې اوسيږي ، دهغه لپاره په اسلامي قانون کي داسې حکمونه دي : ۱- هيڅکله بيا وخپل وطن ته نه پرېښودل کيږي لکه څرنګه چه دپورتني عبارت څخه معلوم شو... فلم يترك ان يرجع اليهم : حُکم احتمال دجاسوسي لري ، او اسلامي امير بايد خپل دپټو رازونو اوفکري اوزميني سرحدونو محافظ وي ، ۲- ولا تُحْدَثُ بيعةٌ ولا كنيسةٌ في دارنا ويُعادُ المنهدم و يُمَيَّزُ الذِميُّ عنّا في الزّي والمركب والسّرج فلا يركب خيلاً ولا يعمل بالسّلاح ويُظْهِرُ الكستيج و يركب سرجًا كالأكف : (۱)

په پورتني عبارت کې د ذمي د اوسيدلو شرطونه بيان شويدي ، ۱- په دارِ اسلام کې به بيعه (کليسا) د يهودو دعبادت ځاى ، اوکنيسه (ګرجا) دنصاراو دعبادت ځاى ، نوي نه جوړيږي ، البته د زاړه جوړ

(۱) کنزالدقائق : ص۲۱۱ ابوالبرکات عبدالله احمد بن و د :

شوی ځای تعمیر کولای شي ، ۲- ذمی به د مسلمانانو څخه د ژوند په تیرولو کې جلا وي هغه پدې ډول چه پر ځان به نه سپریږی ، پر آس به نه سپریږی ، سلاح به نه استعمالوی ، خپل زنار یا هغه خپل شعار به ئې ځړولی وي ترڅو پیژندل کیږی داسې نه چه یوڅوك په خطاء شي - اوکه سپریدی نو به د خره پر پالان سپریږی :

د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم څخه داسې روایتونه نقل سویدی ، عن مالك بن شهاب أن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم قال لَایَجْتَمِعُ الدِّیْنَانِ فِی جَزِیْرَةِ الْعَرَبِ(۱) په جزیره عربیه کښې دوه دینه لکه اسلام او کفر نشي سره یوځای کیدلای :

وعن عمر رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلّی الله علیه وسلّم یقول لَأُخْرِجَنَّ الْیَهُوْدَ وَالنَّصَارٰی مِنْ جَزِیْرَةِ الْعَرَبِ حَتّٰی لَا اَدَعَ اِلَّا مُسْلِمًا ، رواه مسلم .

د حضرت عمر رض څخه روایت دی چه وائی ما د رسول الله (ص) څخه واورېدل چه ویل ئې زه به خامخا وباسم یهود او

(۱) موطا الامام مالك ، ص ۸۹۲ جلد ۲

نصارا د عربي جزيرې څخه تر څو بېله مسلمانانه به بل هيڅوك نه پرېږدم ،، په پورتنيو دوو حديثونو سره علماء دليل وائي چه د يهودو ، نصاراؤ او مشركانو استل د عربي جزيرې څخه پر مسلمانانو باندې واجب دي ، د وجوب معنى دا ده چه په عربي جزيره كې د ذمي په شكل هم نسي او سيدلاى ،، كه څه هم په دوهم حديث كې يوازې د يهودو او نصاراؤ ذكر شوېدى خو د لمړي حديث څخه تول كفار مراد دي ؛

د عربي جزيرې څخه مراد د شام او عدن مابين دي ، او يا هغه چه مابين د بحر هند او بحر شام دي (۱)

قال النووىؒ ... قال العلماء رحمهم الله ولا يمنع الكفار من التردد مسافرين الى الحجاز ولا يمكثون فيه اكثر من ثلاثة ايام (۲)

حضرت امام نوويؒ وائي چه علماؤ ويلي دي چه كافر مسافر په حجاز كې د تېرېدلو څخه نشي منع كيدلاى خو تردرو ورځو زيات نشي پاته كېداى ، د

(۱) سُبُل السلام ؛ ص ۲/۱۰ السيد الامام محمد بن سليمان ؛ (۲) تېره مرجع ص ۶۳/۴

حجاز څخه مراد مکه، مدینه منوره او طائف دی یا د نجد او تهامه مابین دی :

دال : د پورتنیو مسائلو په شان د مسلمان او کافر ترمینځ د قصاص مسئله ده چه د اسلامی قانون له مخی ورته صرف د انسانیت په سترګه ندی کتل شوی، ځکه د اسلامی قانون له مخی که مسلمان په اسلامی تولنه کی راپورته شی یو کافر مړ کړی نو مسلمان په هغه کافر باندی نه قصاصیږی ځکه د اسلام لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم موږ ته داسی ارشاد کوی، عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده قال قال رسولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لا یُقتَلُ مُسلِمٌ بِکافِرٍ .. ترجمه – مسلمان پر کافر باندی نه وژل کیږی

وعن ابن عباسٍ عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لا یُقتَلُ المؤمِنُ بکافرٍ ولا ذو عهدٍ فی عهدِهِ : (۱)

ترجمه – مؤمن پر کافر باندی نه وژل کیږی" په دې مسئله کی حضرت امام شافعی، حضرت امام مالک، او حضرت امام احمد بن حنبل اتفاق لری چه مسلمان پر کافر باندی نه

او نه هغه څوک پر داسی سړی وژل کیږی چه امان یې د هغه په ذمه وی .

(۱) ابن ماجه : ص ۸۸۷ – ۸۸۸ ج دوهم

نه وژل کیږی ؛ (۱)

البته حضرت امام ابوحنیفهؒ صرف یو د ذمی په هکله د پورتنیو امامانو سره اختلاف لری وائي چه مسلمان پر ذمي باندی وژل کیږی ځکه چه ذمی هم دمسلمان په شان په اسلامی تولنه کي (محقون الدم) یعنی معصوم الدم دی او امام دوخت د ذمي څخه جزیه هم ېدي اخلی چه دده سر او مال به محفوظ وی ؛

او بل په دی حدیث دلیل وائي ، عن عبد الرحمٰن بن البیلمانی أن رَسُولَ اللهِ صلّی اللّٰه علیه وسلّم أُتِيَ بِرَجُلٍ من المسلمينَ قَتَلَ مُعَاهِدًا من أهل الذمة فَقَدَّمَهُ رسولُ الله صلّی الله علیه وسلم فَضَرَبَ عُنُقَهُ وقال أنا اولیٰ مَنْ أَوفیٰ بذمّته ؛ (۲)

ترجمه : حضرت عبد الرحمٰنؓ بن البیلمانی روایت کوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یو داسی مسلمان راوستل شو چه یو ذمی ئې وژلی وُ ، نو نبی کریمؐ دهغه مسلمان سر پریکړی او وئې ویل چه زه غوره یم ترهغه چا چه په ذمه باندی وفاء کوی ؛ ددې حدیث دصحت په صورت کی د دغه

(۱) فقه علی المذاهب الأربعة ، ج ۵ کتاب الحدود ص ۲۸۴ (۲) نصب الرایة ص ۳۳۶ ج ۴

حدیث او پورتنیو حـدیثونو ترمینځ تضاد راځي چه دهغه
په جواب کی احناف وائی چه مخکی حدیثونه د کافرحربي
اومستأمن په باره کی دی او دغه آخرنی حدیث یوازی د
ذمی په هکله دی : (۱)
په دې ډول د حـدیثونو تطبیق هم وشو ، او دا تخصیص د
حدیث په حدیث سره دی او دا ډول تخصیص د أصول فقه
له نظره جائزدی .
هاء : د إنساني حقوقو د جملې ځنځه د واده کولو مسئله
ده چه د انساني قانون له مخې هره ښځه کولایشي چه دهر
نارینه سره یې خوښه وی واده وکړي ، اوهر نارینه
کولایشي چه دهري ښځې سره یې خوښه شي واده وکړي
ځکه دا یو انساني حق دی او د دې حق ځنځه په خپل خوښه
استفاده کولایشي :
اسلام دا مسئله یوازی انساني مسئله نه بولي بلکه دا یوه
دیني او مذهبي مسئله ده ، ځکه اسلام پدې هکله داسي
فرمائی : وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ

(۱) فتح القدیر : للمحقق کمال بن الهمام رح ج ۹ ـ ص ۱۵۳

خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ (۱)

ترجمه : او په نکاح مه اخلی مشرکی ښځی ترهغه پوری چه ایمان راوړی دوی ، اوخامخا وینځه مؤمنه ښه ده له مشرکی اصلی ښځی اگرکه ښه درته ښکاره شی تاسی ته هغه مشرکه ، او په نکاح مه ورکوی مسلمانی ښځی کافرانو ته ترهغه پوری چه ایمان راوړی دوی ، اوخامخا مؤمن بهتردی له کافر سړی نه اگرکه ښه درښکاره شی تاسی ته هغه کافر :

د پورتنی آیت له مخی که نارینه یا ښځه مشرکه وی نو د هغې نکاح له مسلمان سره روا نه ده - یاکه وروسته له نکاح ځخه یوله زوجینو ځنی مشرك شی نو پخوانی نکاح ماتیږی ، اومشرك هغه دی چه د الله جل جلاله په علم یا په قدرت یا په بل کوم صفت کی بل شی د الله ج سره مُماثِل یا شریك وبولي ، او یا د الله ج نه بغیر بل چاته سجده وکړي او یا د الله عزّوجلّ د قانون (قرآن کریم) نه بغیر بل

(۱) سورة البقرة : آیة ۲۲۱

قانون دځان لپاره خوبش بولی ، ځکه قرآن کریم د الله
کلام دی او کلام د الله د صفاتو ذاتیه وُڅخه دی ، په
صفت ذاتی کی ورسره شریك نیول شِرك بلل کیږی :
خلاصه دا ده - چه د مسلمان نارینه نکاح له مشرکی
ښځی سره ترهغه پوری روا نه ده څو چه مسلمانه نشی په
رشتیا سره چه مسلمانه مینځه له کافری ښځی څخه بهتره
ده اګرکه دا کافره ښځه اصیله ، شریفه او ډیره ښکلې
مېرمنه هم وی - او د مال ، جمال ، شرافت او عزت له امله
ستاسی خوښه هم شی .... او همدا راز دی د مسلمانی ښځی
نکاح له مشرك نارینه سره و نه تړل شی ، مسلمان مریی هم
له مشرك څخه ډیر ښه دی ، اګرکه دا مشرك اصیل ، شریف
او ښه بشاغلی هم وی او د دولت ، شرافت ، صورت او نورو
ښکلولو پلوه ستاسی په سترګو کی درونل هم درشي
یعنی خورا ډیر أدنیٰ مسلمان سړی له خورا ډیر أعلیٰ مشرك
څخه افضل او أعلیٰ دی . (۱)
د پورتنیو څو مثالونو څخه او د دې په څېر نورو ډیرو

(۱) تفسیر کابلی : ص ۱۹۳ ج - اول

مثالونو څخه معلومیږي چه اسلام وانسان ته یوازي د انسانیت په سترګه نه ګوري اونه ټولنه صرف د انسانیت پربنیاد جوړوي بلکه ټول انساني حقوق اود ټولني بنسټ په دهغو اُصولو پربنیاد وي کوم چه د اسلام قانون (قرآنکریم) تعین کړي او را ښودلي دي ، نوځکه ویلای شو چه د ملل متحد د قانون پورتني ماده چه انسان ته صرف د انسانیت په سترګه ګوري او ټولنه یوازي د انسانیت پربنیاد جوړوي ، اود حق اوناحق بنیاد ئې هم صرف انسانیت دی ، نه یوازي دا چه د اسلام سره مکمل ټکرلري بلکه دهري دیني اومذهبي ټولني سره لکه یهودیت نصرانیت ، بدهمت ، بوداهیت اوداسي نورو سره هم مکمل ټکرلري : بلکه دا واسلامي ټولني ته یوچل اوفریب دی اوپه اسلامي ټولنه کی دتل لپاره سکولرزم یالادینیت ته لار هوار رول دی .

۳ * د ملل متحد د اَغراضو اومقاصدو د پورتني مادي دا جزء چه وائی د ټولو انسانانو د بنیادي آزادی د جذبي رابارول اوتقویه کول ،، د انسانانو د بنیادي آزادی

څخه يې مطلب څه دی ؟ په دې هکله د انساني حقوقو
کميسون د انساني حقوقو يومنشور د ملل متحد و عامي
شورئ ته د منظورئ لپاره وړاندی کړی چه په
۱۰/ د سمبر ۱۹۴۸ کې په اتفاق آراء منظور کړل سو، هيڅ
رکن ملك يې مخالفت ونکړي ،
په هغه منشور کښې د ټولو اوسېدونکو انسانانو لپاره
د عالمي حقوقو تثبيت کړل سوی وُ ، چه د هغوی د جملې
څخه څه په لاندی ډول دی ؛،
ژوندی اوسېدل ، آزاد اوسېدل ، د هرشخص تحفظ کول
بې قانونه نه گرفتاره کول ، د نقل او حرکت آزادی ، د قيام
او اوسېدلو آزادی ، د تقرير او تحرير آزادی ، د اجتماعاتو
او عبادت آزادی ، او د ټولو هغو حقوقو حاصلول د کومو
د حفاظت کولو خيال چه د جمهوريتونو په قانون او دستور
کې ساتل شويدی ۰ (۱)
که په پورتنی ماده او قانون کې فکر وکړو لمړی دا
ويلای شو چه د حريت او آزادی لفظونه هم د حق او ناحق

(۱) بين الاقوامی تنظيميں : ص ۱۴۴ ايس ، ايم ، شاهد ؛

دلفظونو په شان داسې لغظونه دي چه دمفهوم اومعنا
تعين يې د انسان په ذهني طاقت نشي کېداى ، ځکه
دانساني حقوقو کميسون چه د آزادى د لفظ کومه
معنیٰ اخستې ده په ټوله نړى کى د هغې تطبيق نه ليدل کيږي
ځکه هرملك يو قانون لرى اودهغه ملك اوسېدونکى
انسانان دهغه قانون تابع وى اوپه هغه قانون کې
پردغو انسانانو بنديزونه هم شته ، بلکه په هرملك کی
د سپانسر بورډ په نامه يوه مستقله اداره وجود لري
نه يوازى دا چه دعامو خلگو تحرير او تقرير سانسور کوى
بلکه دحکومتي ادارو دولتي ذرائع ابلاغ لکه راديو
تلويزون ، اخبارات اوجرائد هم سانسورکوي ، ځکه
موږ اورو چه فلاني چاپ شوى کتاب يارساله ضبط
کړل سول ځکه په هغه کى دحکومت ضد مواد شائع
شوي وه ... اوداسې اورو چه د سياسى مخالفتونو
پربنياد ببله کوم قانونى جرمه خلك نيول کيږى
اوحتى وژل کيږى ،،، اوکله اورو چه حکومت پر
اجتماعاتو باندى بنديز لګولى دى ... اوداسې وينو او

او روچه پر یو پوره تنظیم باندې بندیز لګول کیږي او د هغوی مشران او کارکونکي بندیان کیږي او وژل کیږي :

د قیام او اوسېدلو د آزادۍ په هکله موږ وینو او اوروچه څومره سخت قوانین د پاسپورټ او ویزې بندیزونه هر ملک جوړکړیدي ، حتی یو مسلمان ویو مسلمان ملک ته په آزاده توګه نشي تلای حتی کله کله وینو چه په یو ملک کې د خپل ملک پر ځینو وګړو او افرادو باندې د یوه ښار څخه وبل ښار ته پر تللو بندیز لګول کیږي او داسې نور مثالونه چه تفصیل ئې یو بل مکمل کتاب غواړي

او دا ټول په هغو ملکونو کې کیږي چه خپل حکومتونه د سکولر حکومتونو په نامه یادوي او خپل ځانونه د ملل متحد د سکولر نظام دیر تابع او مخلص بولي :

دا څنګه نظام او قانون دی چه خپل منونکو ته تحفظ نشي ورکولای او یا ئې پر خپلو منونکو باندې هم نشي تطبیق کولای ،، دا لاڅه چه پر ځله موږ وینو چه خپله د ملل متحد د اداري لخوا پر یو ملک داسې بندیزونه لګول کیږي

چه هغه پخپله د إنساني حقوقو او آزادي خلاف وي لکه پر عراق ، ليبيا ، بوسنيا او داسې نورو ملکونو باندې آيا هغوی انسانان ندي ؟ آيا هغوی د خپلو انساني حقوقو څخه د ګټې اخستلو حق نلري ؟ آيا د غه حقوق چه د إنساني حقوقو د کميسون لخوا تعين شوي دي د مسلمانانو لپاره ندي ؟ دا حقوق صِرف د دې لپاره ټاکل شوي دي چه په إسلامي ټولنه کې د يهودو او نصاراؤ تحفظ وکړي ؛

کله چه په اسلامي ټولنه کې يهود او نصارٰى د إسلامي اصولو مخالفت کوي او هغوی ته څه سزا ورکول کيږي په هغه وخت کې ملل متحد هم پيداشي او انساني حقوق هم ژوندي شي ... که سربيان د بوسنيا خلک وژني او يا روسيان د أفغانستان او چيچنيا خلک وژني او يا هند د کشمير مسلمانان وژني او يا په مصر او الجزائر کې پر اسلامي تنظيمونو باندې بنديزونه لګول کيږي هلته نه د إنساني آزادۍ بړغ پورته کيږي او نه د إنساني حقوقو پوښتنه کيږي ؛

د پورتنیو څو کرښو څخه معلومه شوه چه د إنسانی حقوقو کمیسون چه د آزادی کوم مفهوم او معنیٰ اخستی ده او یائې د إنسانانو لپاره څه حقوق تعین کړیدی نه حقیقت لري ، نه ئې عملی کړیدی او نه ئې عملی کولایشی بلکه دا یوسیم خاردار دی چه پرمسلمانانو ئې راګرځولی دی چه مسلمانان به د یو آزاد ملك لرلوسره سره آزاد نه وی د دوی لخوا به پرې بندیزونه او د مختلفو خلاف ورزیو الزامونه لګول کیږی ،

او بل دا قانون په اسلامی ټولنه کی د غیر إسلامی تنظیمونو او ړلګیو لپاره د یو قانونی تحفظ ذریعه ده چه په دې وسیله خپل روزل شوو اشخاصوته د غیر اسلامی افکارو د نخش کولو لپاره زمینه برابره کړي او خپل یهود او نصارٰی په اسلامی ټولنه کی د إسلامی قیوداتو څخه آزاد کړي .

* پر اسلامی ټولنه د سکولرزم ناوړه اغیزې *

لکه څرنګه چه د پورتنی تحقیق څخه معلومه شوه چه سکولرزم یا د دین او دولت بېلتون د هغه څو اسبابو

له مخې چه وموليکله د اسلام تر راتلو نه مخکې په نصراني تولنه کې مېنځ ته راغلی ، او بيا دا چه نن په اسلامي تولنه کې دکومو اسبابو له مخې مېنځ ته راغلی د توان په اندازه موهغه هم وليکل چه دهغوی دجملې څخه د ملل متحد اداره ده ، دا اداره نه يوازې دا چه د سکولرزم دبيا ژوندی کولو اوپه اسلامي تولنه کې ئې د نافذولو لوی عامل اوسبب ده بلکه وسکولرنظام ته دودې ورکولو اودې نظام دساتلو او باقي پاته کېدلو لويه دستگاه هم ده .... داسې معلومېږی لکه داچه يوازې او يوازې دهمدې هدف لپاره جوړه شوې وی ؛

داچه دوی به په تولنه نړۍ کې امن راولی ، جنگونه او جګړې به ختموي ، د دنيا څخه به دامن ځانگو جوړوی داخوهيڅ پوره نشو ، ځکه چه موږ وينو د ملل متحد ترسيوری لاندی د دنيا په کوټ کوټ کې جګړې روانې دی ، بلکه ددغه اداری په امر پرعراق باندی جنگ وشو او پردېرو اسلامي ملکونو باندی بنديزونه لگېدلی دی ؛ اوبل داچه مخکې موهم ليکلی دی

چه سکولرزم که دهر دین سره چلېدلای شي خو
د اسلامي دین سره هیڅکله نشي چلېدلای، ځکه
اسلام یوازې دین دی چه ځانګړي معتقدات،
عبادات او اخلاق لري ... اوهم ځانګړي سیاسي،
اقتصادي، تعلیمي، مالیاتي او داسي نورنظامونه لري

هدا وجه ده که نن مونږ خپله اسلامي ټولنه
مطالعه کړو د ژوندانه په هر اړخ کښ سکولرزم بې دینه
قوانین پرمسلمانانو باندی په خپلو وطنونو کې تپل سویدي
په داسي حال کی چه د اسلام د روښانه دین سره ښکاره
ټکرلري چه ځیني د مثال په ډول لاندی لیکم،

لمړی په سیاست کی *

د اسلام له نظره کافر د مسلمانانو حاکم، قاضي
یا د شورای رکن نشي جوړېدای، ځکه د حاکم او قاضي
وظیفه داده چه پرمسلمانانو باندی د قرآنکریم د اصولو
مطابق حکم وکړي، یوڅوك چه وقرآنکریم ته عقیده
نلري نوهغه به حکم څرنګه په وکړي ... اوبل دا چه د
شورای د رکن وظیفه داده چه وحاکم ته د قرآن د اصولو

مطابق مشوره ورکړي ، یوځوك چه پر قرآن ایمان
نلري نوهغه به څرنګه مشوره ورکړي :
بل داچه الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی مسلمانانوته داسی
فرمائي : أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ
مِنْكُمْ : (۱)
ترجمه : ای هغه کسانوچه ایمان مو راوړی دی حکم
ومنی تاسی د الله اوحکم ومنی تاسی د رسول د الله او
حکم ومنی دخاوندانو د حکم له تاسی مسلمانانو ، یعنی
حاکمانو اومشرانو ستاسو — د أولي الأمر منكم د لفظ
څخه دا دلیل نیول کیږی چه د مسلمانانو حاکم اوقاضی
به د مسلمانانو دجملې څخه وی ، یعنی مسلمان به وی .
په بل آیت کی الله جلّ جلاله فرمائي : وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ
لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا : (۲)
ترجمه : او د سره به ونه ګرځوی الله د پاره د کافرانو
پر مؤمنانو باندی هیڅ لاره د محبت او د بری :
په بل آیت کی الله ج مسلمانان منع کوی اوفرمائي :

(۱) سورة النسآء : آية ۵۹ (۲) سورة النسآء : آية ۱۴۱

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا ، (١)

ترجمه : ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدی مه نیسی تاسی دوستان دراز غیر له تاسو مؤمنانو څخه ، هیڅ کمی نه کوی دوی له تاسو سره د فساد او ضرر رسولو :

په بل آیت کی وخپل رسول او ده وټول امت ته داسی فرمائی : فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا : (٢)

ترجمه : ته د کافرانو اطاعت مه کوه بلکه په دغه قرآن سره د دوی سره غټ جهاد کوه : په بل آیت کی الله عزّ وجلّ فرمائي : لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ : (٣)

ترجمه : مؤمنان دی بیله مؤمنانو څخه کافران دځان لپاره دوستان او اولیاء نه جوړوی :

وعن عائذ بن عمرو المزني عن النبيّ صلّى الله عليه وسلّم

---

(١) سورة آل عمران : آية ١١٨ (٢) سورة الفرقان : آية ٥٢

(٣) سورة آل عمران : آية ٢٨ .

قال الإسلام يَعلُو ولا يُعلىٰ : أخرجه الدارقطنيؒ : (١)
يعنی اسلام او اهل اسلام به لوړ وی ، پر دوی به بل څوك یا بل قانون لوړ نه وی :
د پورتنیو دلائلو څخه څرګندهٔ معلومه شوه چه پرمسلمانانو باندی د کافر شاهدی ورکول ، قضاء کول حکومت کول حرام او ناجائز دی ... د اسلام له نظره تول کفار په هرنامه چه وی یوملت بلل کیږی ، او په سکولر نظام کی د إنسانیت پرنام دا ټول یو پر بل جائز او حلال دی ، داځکه چه د سکولرزم لمړنئ أصل دا دی چه دعوامو حاکمیت یعنی د قدرت سرچشمه دعوامو منشأ او د هغو اراده او مرضی ده ، دوهم أصل ئې د دین مذهب او سیاست مکمل جدائي او بېلتون دی :
د هغه أصولو لاندی د سکولر یا جمهوری حکومت هیڅ سرکاری مذهب نه وی ، البته عوام په خپل شخصي ژوندانه کی په هرمذهب چه عمل کوی کولای ئې شي مګر په اجتماعي او سیاسی معاملاتو کی مذهب ته ځای

(١) بلوغ المرام : ص٢٩٥ ابن الحجر العسقلانيؒ

ورکول قانوني جُرم بلل کيږي .. کهیو څوك پر خپله خبره
باندی د دنیا د ټولو مذاهبو او ټولو آسماني کتابونو دلائل
راوړي بیاهم د هغه خبرهٔ د توجه وړنه ګرځي ترڅو چه
عوامي نمائندګان ئې تأيید ونکړي ؛
د عوامي یا سکولر حکومت منطقي نتيجه بې قيدي او مادر
پدر آزادي کیدایشي ، د هم دغه قانون لاندی په مغرب
کی یو سړی چه څه غواړی کولای ئې شی، د هغه په شخصي
ژوندانه کی هیڅوك ځنډه نشي کیدای : (۱)
هدا وجه ده چه نن د اِسلامی ملکونو او حکومتونو مشران
وخپل حکومت ته د ملل متحد د راضي کولو لپاره عوامی
حکومت وائي او سر عام په تقريرو نو کی په لوړ آواز نارې
وهي چه د قدرت سرچشمه عوام دی ... بل داچه موږ
وينو په اسلامی ملکونو کی غير مسلمين د خپلو کفري
نظريا تو د خپرولو لپاره خپلی پارټۍ او تنظیمونه لری او
بیا د سکولر طرز انتخاباتو په ذريعه د قدرت ولوړو
منصبونو ته رسیږی ، موږ وينو چه غير مسلمين په

(۱) اسلام کا سیاسی نظام ص۴۱۹ اِسرار الرحمٰن بخاری ؛

إسلامي ټولنه کې د جګانو او قاضيانو په ډول مقرر دی او همدا شان غیر مسلمین پر مسلمانانو باندی شاهدي ورکوی او قبلیږی .

دوهم په تعلیم کې ٭

دیو ټولنې د إجتماعی شعور او إنفرادی تشخص د إرتقاء دار ومدار د هغه ټولنې پر نصاب تعلیم او نظام تعلیم باندی منحصر دی ، په مکتب او مدرسه کې چه کوم قسم نظریات تدریس کیږی او یا څه قسم ماحول او أخلاق وی هغه ټوله په ټولنه کې رواج پیدا کوی ، همدا وجه ده چه اسلام دخپل نظام تعلیم او درسګاهونو پر عظمت باندی ډیر زور ورکوی :

په اسلام کې د لوستلو او ورته ویلو پر أهمیت باندی تر دې نه زیات بل کوم دلیل کیدایشی چه د إسلام پیغمبر(ص) باندی په غار حراء کې چه اولې وحی نازلی شوې هغه دا وې : اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ ۝ سورة العلق : آية ۱-۵

ترجمه : ولوله (اى محمد ص قرآن) په برکت د نامه درب خپل هغه رب پالونکی چه پیدا کړی ئې دی ټول مخلوقات، پیدا کړی ئې دی انسان له ټوټو د ترلیو شویو وینو څخه، ولوله (اى محمد ص قرآن) حال دا چه رب ستا لوی کریم دی، هغه رب پالونکی چه ښوولی ئې دی خط انسان ته په قلم سره، ښوو نه ئې کړیده انسان ته د هغو شیانو چه دی پرې نه پوهیده ی څوا له ښودلو.(۱)

اونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ئې دا دعاء ورزده کړه: رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا : یعنی ای زما پروردګاره زما په علم کی اضافه وکړې .... دغه دعاء به نبی کریم صلی الله علیه وسلم همیشه کوله :

اونبی کریم صلی الله علیه وسلم به اُمت ته داسي درس ورکاوه خَيْرُكُمْ مَنْ تعلَّمَ الْقُرْآنَ وعَلَّمَهُ : ترجمه : ستاسو څخه غوره او بهتره هغه شخص دی چه خپله قرآن زده کړی او بیا ئې وبل ته ورزده کړی :

مطلب دا چه په قرآن او حدیث کی د مُعلِّم، مُتعلِّم او حصولِ علم أهمیت او عظمت ته د انسان په اعمالو کی تر ټولو

(۱) تفسیر کابلي : ج ۳ - ص ۳۴۷۹ - ۳۴۸۰

زیات فوقیت ورکړل شویدی ،، د اسلام پیغمبر ترخپل سرپرستۍ او اداري لاندی لمړنۍ مدرسه په مسجد نبوي کی د صُفّه په نامه شروع کړله او په دې مدرسه کی تعلیم حاصل کونکو ته به اصحاب صفه ویل کېدله ؛

د دې نه علاوه به نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم په خپله وخلګو ته په مختلفو اوقاتو کی سیاسي ، اجتماعي ، شرعي او نور مسائل وربښودله او د دوی سوالونو ته به ئې جوابونه ورکوله ، ترسونوکلونو پوری دا سلسله په مسجدونو، حجرو او د علماؤ په کورونو کی ترسره کېدله ؛

د اسلام د انسانیت لپاره لمړی معلّم پخپله الله عزّ وجلّ دی ، هغه وآدم علیه السلام ته د شیانو علم وربښوی لکه څرنګه چه فرمائی ؛ وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا (۱) آدم ته ئې ټول نومونه ورزده کړل ـ د همدغه علم په وجه د ملائکو د سجدې لائق وګرځېدی ؛

بیا د علم د خپرولو لپاره الله عزّ وجلّ د أنبیاؤ علیهم السلام د راليږلو سلسله شروع کړل ترڅو د آخري نبي حضرت

(۱) سورة البقرة ؛ آیة ۳۱

محمد مصطفیٰ صلّی الله علیه وسلّم په هکله هم داسې فرمائي : هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (۱)

ترجمه : الله هغه ذات دی چه لیږلی ئې دی په اُمیانو ناپوهانو کښې یو رسول (محمدؐ) له دوی څخه چه لولي پر دوی باندې آیتونه ددې قرآن او پاکوی دوی له شرکه او نورو رزیله وُ اخلاقو څخه او ښیي دوی ته کتاب قرآن او حکمت ، اګرکه وُ دوی پخوا له بعثت د محمدؑ خامخا په ګمراهي ښکاره کښې .

دنبی کریم صلی الله علیه وسلّم امتیازی لقب نبي اُمي دی ، خو سره ددې اُمي توب ئې خپل قوم او دنړۍ خلکو ته له ګردو څخه زیات عظیم الشان کتاب راوړ او وائې وراو او دعلومو او معارفو او حکمت او پوهنې عجیبې او غریبې خبري ئې ور وښوولې او دوی ئې هسې پوهان او حکیمان کړل چه دنړۍ لوی لوی حکیمانو پوهانو علماوُ عرفاوُ

(۱) سورة الجمعة : آیة ۲ .

او تورو به له دوی ځني دعلم او معرفت او کريمه اخلاقو زده کړه کول . (۱)

په بل آيت کې الله عزّ وجلّ وټولو انسانانو ته داسې أمر کوي او فرمائي : فَاسْئَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (۲) تاسو دعلم دخاوندانو څخه پوښتنه کوي په هغه کې چه تاسې نه پوهیږی ؛

او بیا دا سلسله د زده کړې د ټول اُمت پر ذمه پاته سوه لکه څرنګه چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم په حديث کې فرمائي بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً ، او په بل حديث کې فرمائي : اُطْلُبُوا الْعِلْمَ مِنَ الْمَهْدِ إِلَى اللَّحْدِ ، او يا چه په بل حديث کې فرمائي : طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ وَمُسْلِمَةٍ (او کما قال عليه السلام) ؛

د پورتنيو دلائلو څخه معلومه شوه چه علم ، زده کړه ، پوهه په إسلام کې څومره فضيلت او أهميت لري ، او بل دا چه په إسلام کې به نظام تعليم او نصاب تعليم د مذهب پر أصولو ولاړ وی ، ځکه چه تعليم يو داسې وسيله ده چه

(۱) تفسير کابلی : ص ۳۲۳۴/۲ (۲) سورة النحل : آية ۴۳

راتلونکی نسل دخپل دین مذهب د أصولو څخه خبروي او هغوی ته پرخپل دین مذهب باندی دټللو اوتینګیدلو تلقین کـوي ، ځکـه تعلیم یوداسی ذریعه ده چه دیو قوم د ثقافت اونظریې حفاظت اوساتنه کوی ، له همدې وجه د مذهب اونظامِ تعلیم په منځ کې ډیر ژورتعلق وی ، ولې چه مذهب دیوقوم د نظریهٔ حیات اوطرزِ ژندګی د أصولو او قواعدو ترجمان دی اوداسی روحاني جزباتو وکالت کوی چه دهغوی قبلول دهرقوم د زړونو آرزو وی ، د یوقوم د زړونو آرزوګانی په نصاب تعلیم کی دشاملولو څخه دمذهب سره د راتلونکی نسل تعلق اومحبت پیداکیږی ، دتعلیم اومذهب دمقاصدو ترمینځ یورنګی راځی ،

ځنی قومونه خپل نظامِ تعلیم په دې وجه دمذهب پر بنیاد جوړوی چه داسې نظامِ تعلیم وفرد ته دمادی آسودګی اوهوساینی سره سره روحاني او أبدی هوساینه هم ورکوی ترڅوچه دمادي او روحانی ترقی ترمینځ توازن موجود وی دهغه فرد دنیا او آخرت دواړه آبادیږی ، اوکه ددوی

دواړو ترمینځ توازن موجود نه وي په صرف روحاني ترقۍ به ئې د دنیا ژوند د مشکل سره مخامخ وي او په صرف مادي ترقي به ئې د آخرت ژوند خراب وي ، همدغه د اسلامي نظامِ تعلیم مقصد دی چه د مسلمانانو د ژوند فلسفه ټوله د اسلام پر دین بناء وي ؛

دا چه زموږ نظریهٔ حیات اسلامي ده نو ځکه د اسلام نظامِ تعلیم که د عصري علومو وي او که د فقهي علومو وي أساسي بنیاد ئې پر دین مذهب باندې ولاړ وُ او باید ولاړ وي ؛

د کومې مذهبي دیني ټولنې نظام تعلیم که د مذهب پر اصولو ولاړ نه وي د هغه نظام زده کونکي په یو قسم تذبذب ، شك او شبهاتو اخته کیږي ، دا ځکه چه په کور او ټولنه کي یو څه ویني او زده کوي او په مکتب یا مدرسه کي بل څه ورته ویل کیږي نو دی په یو قسم ذهني اضطراب اخته شي ؛

تر کومه وخته پوري چه د اسلامي ټولنې نظام تعلیم پر اُصولو ولاړ وُ په ټولنه کي مسلمانان ساینسدانان ،

طبيبان ، ماهرين فلکيات ، ماهرين نفسيات ، فقهاء مجتهدين ، مفسرين ، سياست پوهان او داسی نور دهر قسمه پوهان ئې درلودل ، اسلامی ټولنه هیچا ته محتاجه نه وه ، بلکه غیر اسلامی ټولنې د ژوند نه په هر اړخ کی مسلمانانو ته محتاجې وې ، هماوجه وه چه په ډېر کم وخت کی د دنیا سرداران جوړ شول :

د اسلام د دښمنانو او د سکولرزم تېکه دارانو نه يوازی دا چه د مسلمانانو سياسی نظام ئې په سکولر نظام بدل کړ بلکه تعليمی نظام ئې هم پرې نښود او په هغه کی ئې هم د سکولرزم یالادینیت زهر وپاشل :

دا چه دوی څرنګه د دې لپاره کار وکړ او يا ئې څه ګټې ترې واخستلې ؟ او يا مسلمانانو ته څومره ضرر ور رسيدی او يا رسيږی ؟ څه په دې پوهول دی :

په سان فرانسسکو کی د ټولې دنيا څخه راټول شوی نمائندګان په دې حقيقت ښه پوهېدل چه د تعليم ، ساينس او ثقافت په اړخ کی په ډېره غټه پيمانه د بين المللي روابطو د جوړولو ضرورت دی ، نو ځکه ئې د ملل متحد ادارې ته

د اختيار ور کړي چه د خپل طرف څخه يوه داسي إداره جوړه کړي چه تعليم، ساينس اوثقافت ته ترقي ورکړي
د دي مقصد لپاره په نومبر ۱۹۴۵ کی په لندن کی يو کانفرنس جوړ شو، په هغه کی ئې د تعليم، ساينس اوثقافت د ترقی لپاره يوه خاصه إداره د يونيسکو په نامه منظوره کړل او د غی إداري دستورالعمل او يا د کارکولو لائحه په ۱۶/ نومبر ۱۹۴۵ کی د ټولو ګډون کونکو لخوا په إتفاق سره لاسليک سوله :

يونيسکو د ملل متحد يوه خاصه إداره ده خود دي بجټ يا پانګه د ملل متحد لخوا نه ورکول کيږی بلکه د رکن ملکونو څخه د چندي په ډول يوه زياته اندازه مال يا پانګه يو ځای کيږی ، په هرو دوو کلونو کښی ئې يو ځلی عام مجلس دائريږی چه د إداري پر کارونو اومختګونو باندي غور کيږی او د وه کلنی پانګه ئې تعين او د ټول رکن ملکونو څخه اخستل کيږی :
د دي إداري ټول إنتظامي او إداريي کارونه د يو إداري مجلس لخوا إداره کيږی چه د هغوی تعداد د شل

کسان دی . (۱)

دهٔ غه وخته یونیسکو په خپل کارونو پیل وکړ ،
ځرنګه چه دا یو بین المللی تعلیمی اداره ده نولمړی ئې
په یوداسي نصابِ تعلیم کی فکر وکړ چه هغه د دنیا وټولو
ملکونو او وګړو ته بېله مذهبی توپیره د قبول وړ وی
ځکه د دوی په نظر یوازنی شئ مذهب دی چه د نفرت ،
جنګ او جګړې سبب ګرځی ، د اسلام تر راتلو نه مخکی د
یهودیت او نصرانیت ترمینځ جنګونه د مذهب پر بنیاد
کېدله او د اسلام تر راتلو نه وروسته بیا د ټول کفر
او اسلام ترمینځ جنګونه او دښمنی هم ټوله د دین او
مذهب پر بنیاد وې او دي ، نوځکه دوی دا فکر کاوه چه
د ټول دنیا لپاره یوداسی نصاب تعلیم جوړ شی چه د هغه
له مخی خلک داسی وروزل شی چه د دوی په مینځ کی دینی
او مذهبی توپیر ختم شی نو به د دنیا ټول انسانان د انسانی
وروړګلوی پر بنیاد ژوند سره کوی ، نوځکه ئې ضرورت
دې ته درلودی چه یوسکولر یا لادینه نظام تعلیم و

(۱) اسلام کا سیاسی نظام : ص ۳۷۹ ✻ بین الأقوامی تنظیمیں : ص ۱۷۶

ټول د نړیاته ور کړي ، په دې ډول به دوی دوه مهم کارونه
ترسره کړي وي ، اول دا چه خلک به ئې د دین او مذهب
څخه لیرې کړي وي ، دوهم دا چه د خپل سکولریا
لادینه سیاسي او مالیاتي نظامونو د چلولو لپاره به
ئې تعلیم یافته ډله پیدا کړې وي ..
یونیسکو دا فیصله وکړه په هغو علاقو کې چه تعلیم یافته
خلک کم وي په هغه خلکو کې في الحال د کتابو د مطالعې
ډېر ضرورت نشته ، بنه خبره داده چه هغوی ته د ژوندانه
د عملي ترقۍ لارې ور وښودل شي چه په هغه هم ژر پوهیږي
او هم ئې ژر قبلوي ، د مثال په ډول لمړی دا ور وښودل شي
چه د چینلو اُبه جوش کړي وئې چښي ، ځکه هغه اُبه
چه تاسي ئې د تالابونو او لښتیو څخه راوړی بېله جوش
ورکولو څخه ضرر رسوي : بل دا چه د قضاء حاجت لپاره
باقاعده بیت الخلاوي ورجوړې شي ترڅو چه غلاظت
او ګندګي ونه پاشل شي : بل دا چه د خوړو د پخېدلو
سامان او لوښي یو ځای لمحده او لوړ ځای باندې کښېښودل
شي ترڅو چه کوچنیان او نور حیوانان ئې خراب نکړي

او د خپلو موجوده وسائلو څخه ورته ښه صاف او ستره هوا لروونکي د اوسېدلو ځایونه جوړول ورزده کړل شي او د ضرورت ور ترکاري او سبزي جاتو شنه کول او د خوړلو معیار ښه کول ورو ښول شي :

کله چه عام خلك په دغو آسانه او نوو خبرو پوه شي او قبولي ئې کړي نو بیا د نور تعلیم زده کولو شوق هم پکښې پیدا کېږي ، بیا د هغو خاصو خلکو چه د تعلیم په فائده پوهېږي دا فریضه ده چه نورو ته د لیك لوست ترغیب ورکړي ، که دا سې استاذ پیدا شي چه د نقشو، شکلونو او تصویرونو په ذریعه تعلیم ورکولای شي نو بیا په لیك لوست کې ډېره آسانی راځي ، په دې ډول د زړو عاداتو او ناکاره رسم و رواج عادت پاتېدلای شي ، د دې نه پس هغه استاذ چه له بله ځایه د دغه مقصد لپاره راوستل شوی وی هغه به بل کلي ته ولاړ شي ، د ده پر ځای به د دا غه کلي سړي وظیفه پر غاړه اخلي کوم چه د کار په طریقه ښه پوه شوی وی :

په کوم یو ملك کې چه بې تعلیمه خلك ډېر وی یونیسکو په

هغه ځای کې دا سې إداره یا انجمن جوړه وي چه ابتدائي تعلیم ته وده ورکړي او په هغه کې د کتابونو تصویرونو، فلمونو یا راډیو په ذریعه د تعلیم نوي طریقې ورښوونه وي ؛

لویه مسئله د ژبې ده ! دا چه په دنیا کې ډېرې مختلفې ژبې ویل کیږي حتی چه په یوه ملك کې په مختلفو ژبو خبرې کیږي د دوی په فکر د دې مسئلې یوازنی حل دا دی چه خلکو ته یوه بین المللی ژبه لکه انګریزي یا هسپانوي ورزده کړل شي، یو خو دا دی چه په دغو ژبو هیڅ یو دین او مذهب نه دی راغلی او بل دا چه خلکو ته به په خپلو منځو کې د ارتباط ساتلو، مفاهمې، او معاملې کولو لاره آسانه شي، مطلب دا چه ژبه ئې هم یوه بې دینه ژبه شي نو د سکولرزم د پرمخ تلګ لپاره به ښه زمینه برابره شي ؛

د یونیسکو دا فریضه ده چه د ابتدائي تعلیم کتابونه پر داسې بنیاد جوړ کړي چه په هغو کې د ملل متحد د اصولو، عقائدو او د إنساني حقوقو د کمیسون ذکر وي ترڅو چه عامو خلکو ته دا په نظر ورکړي

چه هغه په داسې یوه فضاء کې ژوند کوي چه د دوی لپاره ډېره خوشحالي راوړونکې ده . (۱)
د پورتنیو څرګندونو ښکاره مطلب دا دی چه د دنیا په نظام تعلیم کې د ملل متحد دیوې خاصې ادارې (یونیسکو) لوی لاس دی او هغه کوشش کوي چه د ټولې دنیا نظام تعلیم په سکولریا لادینه اصولو باندی جوړشی ترڅو دینی او مذهبی تعصب له منځه ولاړشی :
دا چه اسلامي ملکونه هم د ملل متحد غړي دی نوځکه دوی هم مکلف دی چه د ملل متحد دخاصې ادارې (یونیسکو) سکولر نصاب تعلیم په خپلو مدرسو او مکتبونو کې رواج او تطبیق کړي ، د دې نصاب تعلیم چه کوم منفي اثرات یا ناوړه اغیزې دی څه ئې په لاندی ډول دی :
۱ ،، د کومه وخته چه په اسلامي ټولنه کې سکولر نصاب تعلیم شروع شو د اسلامی ټولنی پر دین مینو علماؤ او پوهانو په خپل شخصی توګه په خپلو کورونو او یا مسجدونو کې د دینی او مذهبی ښوونې او روزنې وظیفه پر غاړه واخسته

(۱) بین الاقوامی تنظیمیں : ص ۱۷۸-۱۷۹ - ایس ، ایم ، شاهد :

ترڅو بیا هغه د دیني مدرسو شکل پیدا کړي ، د همدې
ځایه په اسلامي ټولنه کې د زده کړې مدرسې دوې شوې
یوه د دیني علومو په نامه او بله د عصري علومو په نامه ؛
۲ » که دیوې خوا د مکتب یا عصري علومو د مدرسې نصاب
تعلیم د دین او مذهب څخه خالي وُ یا دا یکښې و رته تدریس
کېدل چه دین او مذهب د إنسان یو شخصي او فردي وظیفه
ده په اجتماعي او ټولنیز اُمورو پورې هیڅ اړه نلري ، خو
د بلې خوا د دیني مدرسو نصابِ تعلیم د ساینس ، سیاست
طِب حتی د تاریخ او سیرت څخه هم خالي دی چه د پیر
ځای ئې زړې یوناني فلسفې نیولی دی ، هغه هم په داسې
ډول ورته تدریس کیږی لکه دا چه د دین او مذهب جزء
وي ، بل دا ورته ویل کیږی چه سیاست ، ساینس ،
إقتصاد او داسې نور علوم د دین او مذهب سره هیڅ اړه نلري
دا ټول د کفارو اختراع ده ؛
۳ » د مکتب یا د عصري علومو د مدرسو إداره ، کنټرول
او مصارف ټول د وخت د حکومت لخوا کیږی ، یعنی د
مکتب شاګردان د دولت د ټولو امتیازاتو څخه بهره مند

یاکتہ اخلی ، خود دینی مدرسو انحصار پوازی پرسؤال ، زکوٰۃ اوخیرات باندی دی ، د دولت دټولو امتیازاتوڅخہ داسي محرومہ وی لکہ دوی چہ بالکل ددې ټولنی جزء نہ وی بل داچہ دحکومت دمدرسو روزل شوؤ شاگردانو تہ بہ تر فراغت وروستہ پہ حکومت کی دکارکولو زمینہ اودژوندانہ ټولی آسانتیاوی برابری وې ، خو بلی خوا د دینی مدرسو فارغانو تہ هیڅ نوع مراعت نہ ؤ اونہ ورتہ پہ حکومت کي دکارکولو زمینہ برابرہ وہ ، نومجبورًا بہ دوی تر فراغت وروستہ دامامت وظیفہ اختیارولہ اوپہ عشرونو او زکاتونوبہ ئې گذارہ کولہ ؛

۴ ،، داچہ د دولت لخوا پر دینی مدرسو باندی هیڅ کنټرول نہ ؤ اونہ ئې یوہ واحدہ ادارہ درلودلہ نوځکہ دینی مدرسي پر یو واحد نصابِ تعلیم باندی هم نشی سرہ متفق کیدلای ، دهری مدرسې ځانتہ خپل خپل نصاب تعلیم دی چہ داهم د دینی مدرسو د زدہ کونکو دوخت دضیاع سبب گرځیدلی دی ؛

بل داچہ د دینی علوموزدہ کونکو ترمینځ معیار ورك شویدی

دا نه دی معلوم چه کوم یو د إمامت ، یا قضاء وفتوٰی ، یا وعظ وتبلیغ ، یا درس وتدریس أهل دی که نه ! بلکه هر یوه دا ټوله په غاړه اخیستی دی ، موږ وینو چه یو- یو څه وائي او یا حکم ورکوی خو بل بیا د هغه پر خلاف بل څه وائی او یا حکم ورکوی چه دا هم د إسلامي ټولنې د إفتراق او إختلاف سبب گرځېدلی دی ؛

٥ ،، په تېرېدلو د وخت که یوې خوا دولتی مکتبونه د سکولرزم یالادینیت اډې گرځېدلی دی خو له بلی خوا ځینی دینی مدرسې د پاپائیت او رهبانیت په مرکزونو بدلی شوې ، د دواړو مدرسو ترمینځ دومره تضاد او عداوت پیدا شو چه بالآخر ځې یو پر بل د کفر فتواوی لگولې ؛

د دوی د ټکر او تضاد له وجه په إسلامي ټولنه کی سکولرزم تر ټولو نه زیات بد تأثیر وکړی ، ځکه دین په یوې مخصوصی ټولے پوری اړه پیدا کړه او سیاست ، حکومت ، إقتصاد او ساینسی علومو په بلی مخصوصی ټولے پوری تعلق پیدا کړ ، او په پاته عوامو خلکو کی جهالت عام شو ، ځکه د دوی د ټکر له وجه خلك حیران وه چه خپل اولادونه وکومی مدرسې ته

واچوی ؟ که ئې دینی مدرسې ته اچوی تول عمر به ئې ذلت
سؤال او خواري په نصیب وي ، دا به ئې هم پر خپل اولاد نه
وه پېرزو او که ئې ودولتی مکتب ته اچوی نود دنیا کار
او ژوند که ئې سم دی خود آخرت کار ئې په بنکاره موږ وینو
چه خراب دی ځکه د دینی اُمورو هیڅ پروا نلري » نو ځکه
تردې کشمکش به ئې دا خوښه وه چه خپل شخصی کار وکړي
او هغه خپل دانا دخولې دین زده کړي چه هغه ځني هېر
نشي ، نو نه به ئې دینی مدرسې ته اچوی او نه به ئې دولتی مکتب
ته اچوی ، په همدې وجه په اسلامی تولنه کی جهالت ډېر شو
چه دا هم د سکولرزم یالا دینیت په گټه دی ، ځکه دوی غواړي
چه خلاق مکمل اسلامی دین زده نکړي ،
د انا دخولې دین خو هم صِرف هغه قدر دی چه انسان خپل یو
څو شخصی عبادات په نیمگړې توگه په کولای شي په اجتماعي
اُمورو کی هیڅ نشی کولای چه د اسلام د اُصولو مطابق ئې
وکړي او یا ئې مطالبه وکړي او داپخپله د سکولرزم سره
کومک کول او د هغوی د هدف تطبیق کول دی .
٦ ,, د همدغه سکولر نظامِ تعلیم په وجه د مسلمانانو دین

اومذهب ژبه لکه عربي چه تقريباً د (۵۲) هېوادونو
ديني ، مذهبي اوقرآني ژبه ده اوتقريباً د (۲۲) هېوادونومورنۍ
اوهم ټولې ديني اومذهبي ژبه ده په يوه محلي اوغير رسمي
ژبه بدله شوله ، پرځای يې انګريزي چه يوه محلي ژبه وه -
بين المللي وګرځېده ، چه نن په إسلامي ټولنه کی حتی
په عربي هېوادونوکې لاهم مسلمانان په انګريزي ژبه فخر
کوي اوپخپله عربي ژبه باندی عار محسوس کوی ٠

۷ ،، دمسلمانانو په رسمي تعليمي مرکزونوکی ټولې مخلوط
نظام تعليم رواج کړ ، يعنی نر اوښځې په يوه مکتب يا
پوهنتون کی د رس سره وائي ، سره له دې چه إسلام دداسی
ګډون سره ډېر مخالف دی ځکه دمسلمانانو په ستر قانون
قرآنکريم کی الله عزّ وجلّ د ټولو مسلمانانو نارينه ؤ اوښځينه ؤ
ته داسي حکم کوی : قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ
وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ : (۱)
ترجمه : ووايه ای محمده مؤمنانو ته چه ښکته واچوی
دوی سترګې خپلی له نامحرمو (ښځوڅخه) او ودي ساتي

(۱) سورة النور : آية ۳۰

دوی فرجونه خپل ، دغه إغماض او حفظ ډېر پاکيزه او
ګټور دی دوی ته :
او په بل آيت کې الله عزّوجلّ فرمائي : وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ
يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ
إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ (۱)
ترجمه : او ووايه اى محمدﷺ ايماندار ه ښځوته چه ښکته
دی واچوی له نامحرمو نارينه وُ څخه سترګی خپلی او ودي
ساتی فرجونه خپل او نه دی ښکاره کوی ځای د سنګار خپل
مګر هغه چه ښکاره کيږی له دغه زينت څخه په وخت د
کار او کسب کي او وادی چوی ټکری پوړنی خپل په ګريوانو
خپلو چه ټټر يا سينه ئې ښکاره نشی .
تفسير ! بده کتنه عمومًا د زنا لمړی پټ يا زينه ده چه له ډېره
دلويو لويو فواحشو دروازي پرانيستلی يا خلاصيږی ، پاك
قرآن عمومًا د بدکاری او بېحيائۍ د انسداد يا بندولو دپاره
لمړی د هدغه سوری د بندولو توصيه کوی ، يعنی مسلمان نارينه
او مسلماني ښځي ته ئې حکم ورکړی دی چه د بد و کتلو

(۱) سورة النور : آية ۳۱

څخه ځان وساتي او خپل شهوت په خپل واک او إداره کې ولري، که یو څل بې إرادې او ناڅاپه د کوم ناریینه نظر پر کومې پردې بنځې ولوېږي یا د ښځې سترګې پر کوم پردي ناریینه ولګېږي نو بیا دې په إرادي او قصدي ډول دغه په لوري خپلې سترګې نه اړوي ځکه چې دا دوهم ځل لیدل به دده په واک او إختیار کې وي او په دغه کې به معذور نه ګڼل کیږي. (۱)

ددې لپاره چې د مسلمانانو عزت او ناموس مصون او ټولنه د بې حیائي او بې پردګۍ څخه وساتل شي إسلام یو او بل ته د بد کتلو إجازه نه ورکوي.

دا چې نن په إسلامي ټولنه کې کومه بې حیائي، فحاشي او بې پردګي وینو دا ټوله د سکولر نظامِ تعلیم او یا یونیسکو د کوششونو کارنامه ده.

د پورتنیو دلائلو په إستدلال ویلای شو چې د سکولرزم تر ټولو زیات بد تأثیر په نظامِ تعلیم کې وشو.

❋ د إسلامي بیت المال موارد ❋

لکه څرنګه چې مو مخکې ویلي دي چې إسلام دین (او دولت) دواړه دي

(۱) تفسیر کابلي: ص ۲۶۰۳ / ۴

یعنی إسلام داسي یو دین دی چه ټول ژوند یي په بر کې نیسي. اعتقادات، عبادات، نظام حکومت او سیاست لري، بښکاره خبره ده چه حکومت او دولت مصارف لري، د دې مصارفو لپاره باید موارد وي، إسلام د ا اړخ هم داسی ندی پریښی بلکه د إسلامي حکومت نظام مالیات یا موارد لري هم د نورو فرائضو او عباداتو په شان فرض بللی دی چه د هغوی د جملې څخه زکوٰة عشر، خراج، جزیه، غنائم، فيء او څینی نور دی، بلکه زکوٰة او عشر د مسلمانانو مالي عبادت هم دی، الله عزّوجلّ په قرآن کریم کی تقریباً (۳۲) ځایه د لمانځه سره یوځای د زکوٰة ذکر کړیدی لکه څرنګه چه فرمایي: وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ ۰ (۱)

په بل ځای کی فرمایي: وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ۰ (۲)

په بل آیت کی فرمایي: أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۰ (۳)

(۱) سورة البقرة: آیة ۱۱۰ (۲) سورة البقرة: آیة ۴۳ (۳) سورة النور: آیة ۵۶

عن ابن عباسٍ رضي الله عنهما أنَّ النبيَّ صلى الله عليه وسلّم بَعَثَ معاذاً إلى اليمن فقال ادْعُهُمْ إلى شهادة أن لا إله إلّا الله وأني رسولُ الله فإن هُمْ أطاعوا لِذلك فأعلِمهُمْ أنَّ الله افترض عليهم خمس صلواتٍ في كلِّ يومٍ وليلةٍ فإن هُمْ أطاعوا لِذلك فأعلِمهُمْ أنَّ الله افترض عليهم صدقةً في أموالِهِمْ تُؤخَذُ مِنْ أغنيائِهِم وتُرَدُّ على فقرائِهِمْ ۰ (۱)

ترجمه : کله چه نبي کريم صلى الله عليه وسلّم حضرت معاذ رضي الله عنه يمن ته وليږی ورته وئي ويل چه دوی به دعوت کړې ودې ته چه د الله عزّ وجلّ پر وحدانيت او زما پر رسالت شاهدي ورکړي، کله چه دوی دا ومنی بيا به دوی دعوت کړې چه الله پر دوی په شپه اوورځ کی پنځه لمونځونه فرض کړيدی، کله چه دوی دا ومنی بيا به دوی دعوت کړې چه الله عزّ وجلّ د دوی په مالونو کي زکوٰة فرض کړيدی چه د غنيانو څخه اخستل کيږی پر فقيرانو توزيع کيږی .

د پورتنيو څو دلائلو څخه معلومه شوه چه زکوٰة نه يوازي دا چه د اسلامي حکومت د مالياتي موارد و څخه دی بلکه دا هم

(۱) مختصر صحيح البخاري ، حديث ۷۰۲ ص ۱۶۴

د نورو عباداتو په شان یوه دیني فریضه ده ، او هلته معلومه شوه چه اسلام صرف د یو څو عباداتو او معتقداتو مجموعه نه ده بلکه د نظام مالیات لپاره هم خپل ځانګړي أصول لري او دهغو پابندي کول هم داسې ضروري ده لکه د نورو عباداتو .

د زکات مقاصد * الله عزّ وجلّ نه یوازې دا چه زکوٰة ئې فرض کړیدی بلکه په قرآن کریم کې ئې دهغه أغراض او مقاصد هم بیان کړیدي ، مطلب دا که زکوٰة د دغو راښوول سوو مقاصدو سره أداء نشي نو هغه اداګي مشکوکه جوړیږي ، دهغو مقاصدو څخه څه په لاندې ډول دي :

۱ = د نفس تزکیه * د زکوٰة لفظي معنیٰ ده پاکیزه کول او زیاتیدل (نمو) یعنی د زکوٰة په اداء کولو سره سړي د ګناهونو څخه پاکیږي او مال زیاتیږي ، خپل د پاک ګټلي مال څخه د الله د رضاء لپاره وضرورت لرو نکوته په څه ورکولو سره په نفس کې پاکیزګي راځي لکه څرنګه چه الله جلّ جلاله فرمائي قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ، یعنی چا چه خپل ځان پاك کړي په تحقیق

هغه کامیاب دی ، او بل دا چه د زکوٰة ورکونکی سری زړه د دنیا د حرص څخه پاکیږی او د تقویٰ او پرهیزګاری کارو نو ته متوجه کیږی ، لکه څرنګه چه الله عزّ وجلّ فرمائي وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ؛ (۱)

یعنی د دوزخ د اوره به لیری کړل شی هغه څوك چه تقویٰ لری او خپل مال د الله په رضاء د دې لپاره ورکوي چه پاك شی ، په بل آیت کی الله جلّ جلاله و نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم ته داسي خطاب کوی ؛ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا (۲)

یعنی ته د دوی څخه صدقه او زکوٰة واخله چه ته د دوی پاك او تزکیه ئې وکړې ؛ د پورتنیو آیتونو څخه معلومه شوه چه د زکوٰة یو مقصد د زړه پاکېدل او تزکیه کول دی د دنیا د حرص څخه ځکه چه نبي کریم صلّی الله علیه وسلّم فرمائي حُبُّ الدُّنيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ ؛ یعنی د دنیا سره محبت د هري ګناه ریښه او بنیاد دی ؛

بل دا چه زکوٰة د انسان وزړه ته آزادی ورکوی .

(۱) سورة اللّیل : آیة ۱۷-۱۸ (۲) سورة التوبة ، آیة ۱۰۳

۲ = د الله د رضاء لپاره به وی * د زکوٰة دوهم مقصد دادی چه د زکوٰة و رکولو په وخت کی فقط او فقط د الله ﷻ رضاء مطلوب وی د بل چا د رضاء او یا بل مقصد لپاره به نه وی ځکه الله عزّ وجلّ فرمائي : وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ : (۱)

یعنی هغه چه تاسی ئې په صدقه یا زکوٰة کی ورکوی هغه به یوازی او یوازی د الله د رضاء او خوشنودی په خاطر وی خپل ذاتي مقصد به هیڅ نه وی پکښې ، ځکه په پورتنی آیت کی نفی او إثبات دی - قاعده داده چه نفی او إثبات حصر فائده کوی .

۳ = د حلالي ګټي څخه به وی * دریم مقصد دادی چه زکوٰة او صدقه به د حلال مال څخه وی : د غلا ، غبن سود او داسي نورو حرامو مالو څخه صدقه او زکوٰة نه ور کول کیږی ، ځکه د زکوٰة مقصد دادی چه د خپلی حلالي ګټي څخه د غریبانو کفالت وکړی او په آخرت کي الله عزّ وجلّ ورته ته ثواب او أجر ورکړی ،،، د حرام مال

(۱) سورة البقرة ، آیة ۲۷۲

څخه پر صدقة او زکوٰة باندی نه پوازی دا چه ثواب نشته بلکه ملا علی القاريؒ د فقه الأکبر په شرح کی او نورو علماؤ لیکلی دی چه د داسې صدقې او زکوٰة د ثواب غوښتل او اُمید کول کفر دی ؛

اوبل دا چه د حرام مال په خوړ لوسره سړی خپله ګناه کار کیږی نو وبل مسکین ته په ورخوړ لو سره او په هغه باندی په ثواب غوښتلوسره ئې ګناه نوره هم زیاتیږی ؛ په دې هکله الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی داسی فرمائي ؛ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ؛ (۱)

ترجمه ؛ ای إیمان لرونکو تاسو نفقه یا صدقه کوی د خپلو هغو پاکو مالونو څخه چه تاسو کسب کړیدي او د هغو څخه چه موږ ستاسو لپاره د مځکی څخه را ایستلی دي .

۴ = إحسان نه بلل * د زکوٰة د مقاصد و څخه څلورم مقصد دادی ، یوچا ته چه صدقه یا زکوٰة ورکړي پر هغه باندی به إحسان نه اچوی او نه به ئې بار بار وریادوی او نه به

(۱) سورة البقرة ؛ آية ؛ ۲٦۷

ددې په بدله کې څه اُمید ځني کوي ، پدې هکله په قرآنکریم کې داسې إرشاد شویدی ؛ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ (۱)

ترجمه : ای إیمان لرو نکو تاسو خپل صدقات په إحسان اچولو اود زړه په ازار ولو مه ضائع کوی ، دهغه چا په شان چه خپل مال مصرفوی خلکو ته د ښکاره کولو په خاطر او یا د ریاء په لاره کې :

دنبي کریم صلی الله علیه وسلم إرشاد دی ؛ مَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ ؛ (۲) که چا مسکین ته په دې نیت شی ورکړی چه خلك ئې ووینی او یا خلك ښه سړی ورته ووائي نو دا سړی د الله سره شریك ونیوی :

خلاصه دا چه صدقه یا زکوٰة به په داسې ډول ورکوی چه فخر ، نمایش اود إحساس برتری به هیڅ شی پکښې نه وی :

۵ = دغریبانو کفالت کول ٭ د زکوٰة د مهمو مقاصدو څخه پنځم مقصد دا دی چه په ټولنه کې د نادارو إعانت اود ټولنې څخه دغربت او إفلاس خاتمه وشی اود غریبانو بنیادی ضرورتونه

(۱) سورة البقرة : آیة ۲۶۴ (۲) عن شداد بن اوس رض : مشکوٰة : ص ۴۵۵

پوره شي ، په دې هکله الله عزّوجلّ داسې فرمائي : وَالَّذِيْنَ فِيْ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ؛ (۱)

هغه کسان چه د دوی په مالونوکښې معلومه حصه شته د سؤال کونکو او نادارو خلکو لپاره ؛

په بل آيت کې فرمائي : وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَ الْيَتٰمٰى وَالْمَسَاكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَالسَّائِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ؛ (۲)

ترجمه : د دې سره چه دوی د خپلو مالو سره محبت لری خو بیا هم دوی ئې و قریبانو ته ، یتیمانو ته ، مساکینو ته ، ابن سبیل (مسافرینو ته) ، سؤال کونکو ته او پوروړو ته ورکوی او خپلې غاړې خلاصوی »» ؛

او د حضرت معاذ رض په حدیث کې نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم په واضح ډول ورته وویل چه الله عزّوجلّ پر دوی زکات فرض کړيدي چه د دوی د أغنیاؤ څخه اخستل کیږی او د دوی پر فقیرانو تقسیمیږی ، إنّ الله افترض علیهم صدقةً تؤخذ من أغنیائهم وتردّ علی فقرائهم ؛

د پورتنیو څو دلائلو څخه معلومه شوه چه زکات د إسلامی

(۱) سورة المعارج : آیة : ۲۴-۲۵ (۲) تفسیر کابلی : ص ۲۶۰-۳ / ۲

حکومت د اسې حق دی چه په هغه باندی د اسلامی ټولنې څخه د غربت خاتمه وکړی او دا بې صرف په هغو مصارفو کې خرڅ شي کوم چه الله عزّوجلّ ورته ښودلي دی .
د پورتنیو مقاصدو په شان نور مقاصد هم کیدا یشي چه هغه مو د اختصار په وجه پریښودل .
زکوٰة د اسلام د بنیادی فرائضو څخه یو اهم فرض او د مسلمانانو مالي عبادت دی ، د زکوٰة څخه د انکار په صورت کې مؤمن نشي پاته کیدای ، الله عزّوجلّ په قرآنکریم کې تقریبا هر ځای د لمانځه سره یو ځای د زکوٰة ذکر کړیدی ، د نبی کریم (ص) تر رحلت نه وروسته څه قبائلو د زکوٰة د ورکولو څخه انکار وکړ نو حضرت أبوبکر الصدیق (رض) د هغو په خلاف د جنګ اعلان وکړ .
زکوٰة د مسلمانانو د نقدي او تجارتي أموالو (مالونو) او څارویو لکه اوښان ، غوایان ، پسونه او داسې نورو فرضیږي چه د هریوه نصاب او مقدارِ زکات د فقهی شریفې په کتابونو کې په ډیر تفصیل سره لیکل شویدی .

۲-مورد ٭ د اسلامي حکومت د بیت المال د موارد و څخه

دوهم ذریعه د آمدن عُشر دی ، عشر یوه عربي کلمه ده معنیٰ ئې ده لسم حصه ، په شریعت کې د مځکې څخه د حاصل شوی میوو دانو وفریضې ته ویل کیږی ؛
لکه څرنګه چه د مسلمانانو په نقدي او تجارتي مالونو کې د بیت المال لپاره حصه مقرره ده همدا رنګه د مځکې په حاصلاتو کې هم د شریعت لخوا معلومه حصه شته چه تفصیل ئې څه په لاندی ډول دی ،
په قرآن کریم کې الله عزّ وجلّ فرمائي : ﴿وَهُوَ الَّذِيٓ أَنشَأَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهٗ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشٰبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشٰبِهٍ ۚ كُلُوا مِنْ ثَمَرِهٖٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَاٰتُوا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ وَلَا تُسْرِفُوا﴾ (۱)
ترجمه : او الله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئې دی باغونه پورته کړه سوی پر لرګیو او پاپرچتونو لکه انګور او داسی نور ، او داسی چه پورته کړه شوی نه وی بلکه پر مځکه پراته وی لکه د هندوانې او ختکې جوړ ګان ، او د خرما ونې او کښت چه مختلفې وی میوې د هغوی په خوند او رنګ

(۱) سورة الأنعام : آية ۱۴۱

کې، او زیتون او انار چه مشابه وې په ونو او پاڼو کې او غیرمتشابه وې میوې د هغوی په خوند اومزه کې، خورې تاسې له میوې د هغې څنې کله چه میوې ونیسي او اداء کړې حق د هغې په ورځ د رېبلو اوشکولو د دې او بې ځایه ئې مه صرفوې تاسې . (١)

په آیت کې د ونو او میوو د ټولو قسمونو د ذکر کولو نه پس ئې انسان ته دوه حکمونه کړیدی، اول حکم په خپله د انسان دخواهشاتو د پوره کولو لپاره دی چه فرمائي (كُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ) یعنی د دې ونو اوفصلو میوه خورې کله چه میوه ونیسي او یا پخه شي، په دې کې دې خبرې ته إشاره معلومیږي چه د دې ټولو ونو د قسمونو د پیدا کولو څخه د الله عزّ وجلّ خپل څه مقصد پوره کول ندی بلکه ستاسو د فائدې لپاره ئې پیدا کړیدی، او د (إِذَا أَثْمَرَ) څخه داسې معلومیږي چه د ونو د بنا خوڅخه میوه را ایستل ستاسو کارندی او نه ستاسو په وس کې ده، کله چه د الله په إذن دغه میوه را ووزي نو دخوړلو إختیار ئې دغه وخت

(١) تفسیر کابلی ص ٨٧٤ ج - دوېم

تاسي ته حاصل شي که پخه وي اوکه نه وي ،

دوېم حکم په آيت کې دادی چه الله فرمائي (وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ) وآتوا کلمه د أمر ده معنیٰ ئې ده ورکړې يا اداء کړي ، اوحصادُ د فصل رېبلو يا دمېوې اود انځې شکولو ته وائي ، اود حَقَّهُ ضمير هر هغه د خوراك شي ته راجع دی دکوموچه په آيت کې ذکر شوېدی ، معنیٰ دا ده چه داټولـه شيان خوری مگر يوه خبره ياده ساتی چه د فصل د رېبلو يا دمېوې شکولو په وخت کې د دی حق هم اداء کړی

دحق څخه مراد په غريبانو اومسکينانو صدقه کول دی لکه چه په بل آيت کې فرمائي : وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ٥ (١)

يعنی د نيکو خلکو په مالونو کې معلوم حق مقرر دی د غوښتونکو اونه غوښتونکو فقيرانو اومسکينانو ،

مطلب دا چه په پورتنيو دواړو آيتونو کې لفظ دحق ذکر شوېدی ، په دې کې څه تحقيق شته ، هغه دا چه آيا دحق څخه مراد عام خيرات نه دی اوکه د مځکې عشر او زکوٰة

(١) سورة الذاريات ، آية ١٩

مراد دی ؟ دځه علماؤ په نزد لکه علي بن الحسين رض، عطاء رح حماد رح، سعيد بن جبير رح او مجاهد رح عام خيرا تونه مراد دی دوی دا وجه وائي چه دا آيتونه په مكة کی نازل شويدی او زكوٰة د هجرت په دوهم كال په مدينه کی فرض شويدی

دځه ډيرو علماؤ په نزد لکه ابن عباس رض، ابن عمر رض أنس بن مالك رض، سعيد بن المسيب رح، إمام أبو حنيفة رح او بعض أصحاب الشافعي رح فرض زكوٰة مراد دی، دوی دا وائي آيت كه مكي وی او كه مدني په دواړو صورتونوكښ د محكی زكوٰة (عشر) مراد دی، ځكه د دوی په نزد د زكوٰة دواجبيدلو حكم په مكة کی نازل شويدی البته مقدار د زكوٰة او نصاب مقرركيدل ئې د هجرت نه پس په مدينة کی وشو، او دې آيت نه صرف دومره معلوميږی چه د محكی په حاصلاتو کی د الله له طرفه څه حق لازم شويدی او د مقدار تعين پدې کی ذكرندی، په دې وجه د مقدار په باره کښي دا آيت مجمل دی . (۱)

د هجرت نه دوه كاله وروسته چه كله نبی كريم صلى الله عليه وسلم

(۱) الجامع لأحكام القرآن ج ۷ ص ۹۹-۱۰۰ لأبي عبد الله محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي رح

دوحي په ذريعه په نورو مالونوکی د زکوٰة د نصاب او مقدار تفصيلات بيان کړل د غه شان ئې د ځمکی د زکوٰة مقدار هم بيان کړی لکه په دې حديث کی : عنْ عبدِ اللهِ بنِ عُمَر رضى الله تعالى عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم قالَ فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ والْعُيُونُ اوكان عشريًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بالنَّضْحِ نِصْفُ العُشْرِ ، (۱)

يعنی په بارانی ځمکوکی کوم ځای چه اُبه د باران ، چينو ولو په ذريعه وی د هغه ځمکو په حاصلاتوکی لسمه حصه په طور د زکوٰة ايستل واجب دی ، اوکومې ځمکی چه دځا او ماشينانو په ذريعه اُبيږی د هغه په حاصلاتوکی شلمه حصه د زکوٰة په توګه ايستل واجب دی ،

د پورتنيو آيتونو څخه د مسلمانانو د ځمکو په حاصلاتو کي د زکوٰة فرضيت او د حديث څخه ئې نصاب او مقدار ثابتيږی

داچه په کومو حاصلاتوکی عُشر شته او په کومو کی نشته د دې ټول تفصيل د فقهې شريفې په کتابوکې په پوره تفصيل ليکل شوی دی ، دلته زموږ يوازې يوازې

(۱) مختصر صحيح البخاريؒ : حديث ۷۵۵ ص ۱۷۴

دا ثابتول مقصود وه چه د مسلمانانو د محکومه حاصلاتو
کې د اسلام له طرفه صِرف عشر مقرر دی مالیه نده .
٣- مورد * د بيت المال د موارد و څخه مال غنيمت دی ، غنيمت
عربي کلمه ده ، په لغت کې هغه مال ته ويل کيږي چه د
دښمن څخه حاصل شي او د شريعت په اصطلاح کې هغه
مال ته ويل کيږي چه مسلمانانو ته د جهاد او غلبې په ذريعه
د کافرانو څخه لاس ته راوړي ؛
په دې هکله الله عزّ وجلّ فرمائي ، وَاعْلَمُوا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ
مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى
وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَا اَنْزَلْنَا
عَلٰى عَبْدِنَا . (١)
ترجمه : پوه شی ای مسلمانانو ! بیشکه هر هغه شیء چه
په غنیمت واخیست تاسی له کفارو په غلبه سره نو بیشکه
الله لره دی (حکم کول په) خمس د هغه او د غه خمس
ثابت دی لپاره د رسول د الله او لپاره د خپلوانو د رسول الله
او لپاره د يتيمانو او لپاره د مسكينانو محتاجانو او لپاره

(١) سورة الأنفال : آية ٤١

د مسافرانو ، او پاتې څلور برخې دی لپاره د غازیانو ، او صبر وکړې پر د غه تقسیم ای مقاتلانو که ایمان لری په الله او په هغو آیتونو چه نازل کړیدی مونږ پر بنده خپل . (۱)

په دې آیت کې د غنیمت د مال حکمونه او د هغه د تقسیم قانون ذکر دی ، خو زیات تفصیل به ئې د بیت المال د مصارفو په بحث کی راشی ،

د لته یوې إضافې او ضروري خبرې ته إشاره کوم هغه دا چه څنی کفار به داوائې چه دیوچا شخصي مال او ځائې ملکیت څرنګه دیبل چا بېله کوم عوضه ملکیت ګرځې ؟

مونږ د إسلامي عقیدې او نظریې مطابق داسی توجیه کوو چه د ټولو کائناتو أصلي مالك صِرف هغه حق تعالیٰ دی چاچه پیدا کړیدی ، او د إنسان ملکیت پریوشی باندی صِرف په یوه طریقه دی چه الله تعالیٰ ئې د خپل قانون په ذریعه د چا ملك وګرځوی لکه پدې آیت کی چه الله جل جلاله فرمائي : اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِيْنَا

(۱) تفسیر کابلی : ص ۱۱۰۳/۲

أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُوْنَ ۰ (١)

ترجمه : آیا دا خلك نه وینی چه کوم څاروی موږ په خپلو لاسونو سره جوړ کړل بیا خلك ددوی مالکان جوړ شول ، مطلب دادی چه ددوی ملکیت ذاتی نه دی موږ په خپل فضل سره دوی مالکان جوړ کړل :

کله چه یو قوم د الله تعالیٰ نه بغاوت کوی یعنی په کفر او شرك اخته شی نو اول الله تعالیٰ ددوی د اصلاح دپاره خپل رسولان او کتابونه لیږی ، کوم بد بخته چه د الله دی انعام نه هم متأثره نشی نو الله تعالیٰ خپلو رسولانو ته ددوی په مقابله کښی دجهاد او جنګ حکم ورکړی چه ددې حاصل داوی چه ددغو باغیانو جان او مال ټول مباح کړه شی ددوی د الله تعالیٰ په ورکړی مال کې د نفع اخستلو حق پاته نشی بلکه ددوی مالونه په حق دسرکار ضبط کړه شی ، ددغو ضبط شوُو مالونو بل نوم مال غنیمت دی کوم چه د کفارو د ملکیت نه وزی او خالص د الله تعالیٰ په ملکیت کی پاته شی ، ددې ضبط شوُو مالونو د پاره د

(١) سورة یٰسین : آیة ٧١

پخوا زمانې څخه د الله تعالیٰ قانون دا راغلی ؤ چې ددې څخه به چا ته د فائدې اخستلو اجازه نه وه بلکه داسې مالونه به په یو میدان کې ایښول کېدل او د آسمان نه به اور راتلی او دغه به ئې سوځله هدغه د جهاد د قبلېدلو نخښه وه ؛

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خصوصیاتو څخه یو دادی چه مالِ غنیمت د دوی د اُمت لپاره حلال کړه شو

پدې هکله په بخاري شریف کي حدیث ۱۳۲٦ د حضرت أبوهریرة رضی الله عنه څخه یو مفصل حدیث رانقل شویدی چه دهغه په آخرکی داسې ألفاظ راغلی دی ثُمَّ أَحَلَّ اللهُ لَنَا الْغَنَائِمَ رَأَیٰ ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا . (۱)

یعنی کله چه الله عزّوجلّ زموږ ضعف او عجز ولیدی نو موږ ته ئې غنائم حلال کړل ؛

او حلال هم داسې چه په ټولو مالونو کې پاك مال ورته ویلایشی ، وجه ئې داده ،، کوم مال چه إنسان

(۱) مختصر صحیح البخاريؒ ص۲۹۸

په کسب سره حاصلوي په هغه کې د انسانانو د ملکیت واسطه په واسطه نقل کېدل وي د بل سړي مال د ده په ملکیت کې راځي او په دې واسطو کې د حرام یا مکروه طریقو احتمال وي، د مال غنیمت څخه چه کله د کفارو ملکیت ختم شي نو د الله په ملکیت کې راځي او بیا چه چاته رسیږي نو د الله د ملکیت څخه ورته رسیږي چه په دې کې د حرام یا مکروه هیڅ شبهه نه وي. (١)

٤- مورد* خراج دی ،،، د جهاد په نتیجه کې چه د کفارو مځکې د مسلمانانو په قبضه کې راشي بیا د کفارو په لاس کې پاته شي او یا د کفارو سره صلح وشي او د هغوی مځکې د هغوی په لاس کې پاته شي او دوی د إسلامي حکومت په ذمه کې داخل شي یعنې ذمي شي په دواړو صورتونو کې د إسلامي حکومت أمیر کولایشي چه د دوی د مځکو څخه د مځکې د حال مطابق په کال کې یو ځل محصول واخلي - دغه محصول ته خراج ویل کېږي :

خراج اول ځل امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

(١) تفسیر معارف القرآن ؛ پښتو ترجمه ج۳ ص۲ مفتي محمد شفیع صاحب

مقرر کړی ، کله چه د عراق منطقه فتح شول نو بیا يې هغه مځکی دهغوی په لاسوکی پرېښودلې اوپر دوی باندی يې خراج مقرر کړ. (١)

دخراج مقدار په لاندی ډول دی ! پرهغه مځکه چه د زراعت قابله وی او زراعت يې په کړی وی پر یوه جریب یوه کاسه (٤½ کیلو) اویودرهم دی ، اوکه يې سبزیجات په کرلې وه بیا پر یوه جریب پنځه درهمه دی ، اوکه يې باغ یا درختی پر ایښی وې بیا لس درهمه دی (٢)، په دې هکله زیات تفصیل دفقه په کتابوکی سته ، مطلب دا دی چه دخراج څخه هم ډېر زیات آمدن واسلامي بیت المال ته راځي .

٥ - مورد * جزیه ده ،،، دجزئې لفظي معنی بدله او جزاء ده ، دشرع په اصطلاح کی هغه مال ته ویل کیږي چه د کفارو څخه دقتل په بدله کی اخستل کیږی .

وجه يې دا ده چه الله عزّوجلّ په قرآن کریم کی ومسلمانانو ته داسی امرکوی : وَقَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَ

(١) أصول الدعوة : عبد الكريم زيدان : ص٢٥٣ (٢) كنز الدقائق ص٢٠٩

وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ۝ (۱)

ترجمه: وجنګيږئ د هغو کسانو سره چه نه راوړي ايمان پر الله او نه پر ورځې آخرې باندې او نه حرام ګڼي دوی هغه چه حرام کړي دی الله، په قرآن کې، او رسول د دغه الله، په حديثونو کې، او نه قبلوي دوی دين حق د اسلام، د دغه مذکورين له هغو کسانو نه دی چه ورکړه شوېدی دوی ته کتاب، جنګ ور سره کوئ تر هغو پورې چه ورکړي دوی جزيه له خپله لاسه حال دا چه دوی ذليل وي. (۲)

مطلب دا چه کفر او شرك د الله او د هغه د رسول څخه بغاوت دی، او د دې أصلي سزا قتل دی مګر الله عزوجل په خپل کامل رحمت سره د دوی په سزا کې رعايت وکړ هغه دا: که دوی د إسلامي حکومت رعيت جوړ شي او د عام إسلامي قانون لاندې اوسېدل قبول کړي نو د دوی څخه څه مال د جزيې په توګه اخستل کيږي او د إسلامي

حکومت د اوسیدونکو په شان د دوی د جان ، مال او عزت حفاظت به د اسلامي حکومت ذمه واري وي او هم به د دوی په مذهبي عاداتو کې مداخلت نه کیږي ؛

جزیه د دوی د ننوتلو او یا حفاظت بدله ده ، د اسلام بدله نه ده ؛ د جزیې مقدار په دې ډول دی :- که د مسلمانانو د امیر او کفارو ترمینځ د جزیې پر مقدار موافقه وشوه هر څومره چې وي هغه مقدار په کال کې یوځل څنې اخستل کیږي او که د موافقې صورت نه وُ نو بیا د کسب کونکي فقیر څخه په کال کې دولس درهمه او د رمیانه مالدار څخه څلور ویشت درهمه او د ډیر مال لرونکي څخه اته څلویښت درهمه اخستل کیږي - د ډیر مسکین ، ګوډ ، ړوند ، شل ، ښځې کوچنی ، سپین ږیری او د دوی د پیشوایانو څخه هیڅ نه اخستل کیږي ؛ او که مړ یا مسلمان شي بیا جزیه نه څنې اخستل کیږي . (۱)

داچه په آیت کې الله عزّ وجلّ فرمائي (عَن يَدٍ) حرف عن په معنیٰ د سبب او ید په معنیٰ د غلبې او قوت دی یعني دا جزیه

(۱) کنزالدقائق ؛ ص۱۷۲

به د چندې يا خيرات په ډول نه وي بلکه د اسلامي غلبې د تسليمولو او د دې لاندې د اوسېدلو په طور به وي ، (وَهُمْ صَاغِرُونَ) دا جزيه به د دوی د ذلت علامه وي ترڅو دوي بيا د اسلام د تخريب کوشش ونکړي ؛

په دې حکم کې ټول کفار داخل دي غير د عربو د مشرکانو څخه ، يعنی د عربو مشرکانو څخه جزيه نه اخستل کيږي بلکه د هغوی له پاره دوې لارې دي - اسلام يا قتل - هغوی به جزيه نه خلاصيږي . (۱)

۶- مورد * فيئ دی ،،، لفظي معنیٰ ئې ده واپس کېدل او د شريعت په اصطلاح کی فیئ هغه مال ته ويل کيږي کله چه کفار د مسلمانانو د قوت څخه مرعوب (ووېرېږي) او مغلوب شي او وتښتي خپل مالونه پرېږدي ؛ وجه ئې دا ده چه د اسلامي عقيدې له مخې د ټولو مالونو مالك په حقيقت کی الله عزّ وجلّ دی چه چا ته ئې خوښه شي هغه ته ئې ورکوي نو د کفارو د باغي کېدو په وجه د دوی مالونه د دوی د ملکيت څخه وځي بيا مالك حقيقي حق تعالیٰ ته واپس شي

(۱) معارف القرآن : پښتو ترجمه : ص ۱۸۲ / ۴

نوڅکه ورته فئ وائي ،

په دې هکله الله عزّ وجلّ په قرآن کريم کې فرمائي : وَمَا آفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ (۱)

ترجمه : او هغه مال چه راګرځولی دی الله پر خپل رسول باندې له مالو د دوی ، پس نه و ځغلولی تاسې پر دوی هيڅ آس او نه هيڅ اوښ ، لکن الله مسلطوی (بری ورکوی) رسولانو خپلو ته پر هغه چا باندې چه الله اراده ورته وفرمائي او الله پر هر شی بنه قادر دی (چه څه د هغوی څخه ئې د دوستانو غلبه ده پر د ښمنانو باندې)

د فئ او غنيمت دا فرق دی ! د کفارو کوم مالونه چه بېله جنګ او جګړې څخه د مسلمانانو لاس ته راځي هغه ته فئ وائي او د کفارو کوم مالونه چه د جنګ او جګړې په ذکر کی په لاس راځي هغه غنيمت دی .

۷- مورد ✱ رِکَاز دی ،،، رِکَازُ هغه مال ته ويل کيږي

---

(۱) سُورَةُ الحشر : آية ۶ .

کوم چه الله عزَّ وجلَّ د خپلو بندګانو لپاره په مځکو او غرونو کې پټ کړېدي چه مونږ ورته کانونه وایو ، او هغه مال ته ویل کیږي چه تر اسلام نه مخکې د انسانانو لخوا په مځکه کې پټ شوي وي چه مونږ ورته خزانه وایو :

داسي کان یا خزانه چه هر څوك پیدا کړي څلور حصي ئې د پیدا کوونکې دي او پنځمه حصه ئې د بیت المال ده ، که کان یا خزانه دیو چا په ملکي مځکه کې پیدا شي بیا څلور حصي ئې د مځکې د مالك او پنځمه حصه ئې د بیت المال ده ، پیدا کوونکی ته ئې هیڅ شی نشته : (١)

په دې هکله نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي : وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ : صحیح البخاري : ص ١٣٧/٢ طبع بیروت :

٨ - مورد * أموال تجارت »» په اسلامي مملکت کې چه کوم مسلمانان تجارت کوي د هغوي په هر قسم جائز تجارتي مال کې (هغه مال چه د تجارت لپاره وي) او نصاب ته ورسیږي د کال تر تیرېدلو وروسته د نقدو روپو د حساب مطابق زکوٰة ځنې اخستل کیږي او په بیت المال کې جمع کیږي (٢)

(١) (٢) أصول الدعوة : ص ٢٥٢ عبد الکریم زیدان :

۹- مورد « کِراء الأرض »: په إسلامي تولنه کې هغه بې مالکه مځکې چه د هغوی څخه نه عشر او نه خراج اخستل کیږي د مسلمانانو امیر کولای شي چه دا سې مځکې په کلنۍ إجاره ورکړي او د هغه څخه حاصله شوې إجاره په بیت المال کې د دولتي مصارفو لپاره جمع کړي او دا سې محاصیلو ته کراء الأرض ویل کیږي:
دا نظام په لمړنۍ ځل حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په عراق کې نافذ کړ، کله چه عراق د کِسرٰی څخه فتح شو نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دولتي مځکې او هم د هغو کسانو مځکې چه وتښتېدل په إجاره ورکړې او محصولات ئې په بیت المال کې جمع کول. (۱)

۱۰- مورد « عُشُور »: د إسلامي حکومت په لمړنیو کلونو کې د إسلامي حکومت د همسایه گانو لکه ایران او روم دا قانون وُ چه کله به مسلمانانو تاجرانو د دوی مَلك ته د تجارت مال ورووړې نو د هغوی څخه به ئې محصول اخستې، که په کال کې د غه تلل را تلل مکرر کېدله په هر وار به ئې

(۱) أصول الدعوة: ص ۲۵۸: عبد الکریم: زیدان

څنې اخستی ، او د دوی تجارانو چه به واسلامي ملک ته
د تجارت مال راوړی نو د دوی څخه به د مسلمانانو لخوا محصول
نه اخستل کیده ، په دې ډول مسلمانانو ته ډیر نقصانات وُ
نو دا حال وامیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته عرض کړه سو
تر مُفصّل بحث نه وروسته ئې فرمان صادر کړ چه تا سو هم د دوی
د تجارانو څخه محصول اخلئ ، نه یوازې د حربیانو څخه
بلکه که مسلمان یا ذمي د دارالحرب او دارالاسلام ترمینځ
تجارت کوی د هغوی ټولو څخه په کال کې یو ځل محصول اخلئ
که څه هم دوی په کال کې څو ځلې ځي او راځي ،
همدا ډول باید د مسلمان ، ذمي او حربي په مینځ کې فرق د محصول
موجود وی او بل دا چه دا مال به تر ۲۰۰ دوسوه درهمه کم
نه وی او که تر دغه کم وُ هغه معاف دی ،
د مسلمان د مال څخه څلویښتمه حصه د ذمی د مال څخه
شلمه او د کافر حربي د مال څخه لسمه حصه اخستل کیږی او
په بیت المال کې جمع کیږی ، (۱)
د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دغه فرمان د ټولو مسلمانانو لپاره

(۱) إسلامي معیشت ، ص ۱۸۲ : مهر محمد نواز خان .

د یو مستقل قانون حیثیت لری ، څکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی : أَصْحَابِي كَالنُّجُومِ بِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمْ . (۱)
زما اصحاب د ستورو په شان دی په هر یوه پسی چه اقتداء وکړی تاسو به هدایت ومومی .

۱۱ - مورد * أموال فاضله ،،، که په اسلامي ټولنه کی یو څوك مړشی ، ذمي وی که مسلمان او د هغه هیڅ وارث نه وی نو د هغه مالونه هم په بیت المال کی جمع کیږی ، او همدا رنګه که ذمي ذِمّة ماته کړی او دارِحرب ته ولاړشی او یا مسلمان مرتد شی او دارِحرب ته وتښتی نو د دوی ټول هغه مالونه چه په دارِ اسلام کی وی په بیت المال کی جمع کیږی .

۱۲ - مورد * أوقاف ،،، أوقاف د وقف جمع ده او وقف د الله عزّوجلّ په لاره کښی د خرچ کولو بهترینه طریقه ده ، له همدې وجه اسلام د دې لپاره مسلمانانو ته ترغیب ورکوی ، اسلام د ثروت او مال خاوندانو ته دا دعوت ورکوی چه تر مرګ نه مخکی د صحت او جوړوالی په حال کی خپل د مال څخه څه حصه د صدقهٔ جاریه په نوم وقف کړی تر څو مالدار

(۱) مشکوٰة المصابیح : ص۵۵۴ .

خلک د اجتماعي حقوقو څخه غافل نشي او په دوی کی حسنه اُخلاق پیداشي ؛

په دې هکله الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی فرمائي : لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ۝ (۱)

ترجمه : هیڅکله به حاصله نه کړی تاسی پوره نیکی ترهغه پوری چه صرف کړي تاسی په لاره کی د الله څینی له هغو شیانو چه ستاسی خوښ وی ، او هغه چه صرفوئ تاسی لیږه شی ، لږ وی که ډیر ، پس بیشکه الله په هغه هم ښه عالم دی ؛

او د حضرت أبو هریرة رضي الله عنه څخه روایت شویدی چه نبي کریم صلّی الله علیه وسلّم و فرمائل : کله چه إنسان مړشی نو د ده ټول أعمال قطع شی مګر د دریو شیانو څخه نه قطع کیږی - یو صدقهٔ جاریه ، دوهم علم نافع او دریم نیک أولاد چه همیشه د ده لپاره دعاء کوی . رواه مسلم

مطلب دا چه وقفی مالونه چه د کوم مقصد لپاره وقف شوی

(۱) سورة آل عمران : آیت ۹۲

وي په هغه شي کې د مصرف کولو او يا تصرف کولو حق بيت المال ته حاصل دی ؛

ځينې داسې وقفونه هم وي چه د عامو خيريه کارونو لپاره وي لکه پُل جوړول يا بل داسې عام المنفعت کار چه ټولو ته ئې نفع رسيږي . (۱)

۱۳- مورد ﴿ نوائب وضرائب ،،، د جنګ ، خوشك سالی سيلابونو او نورو مځکنی او آسمانی آفتونو په صورت کې د مسلمانانو أمير کولای شي چه پر غنيانو باندی د فرضي او نفلي صدقاتو څخه علاوه څه مالي إمداد مقرر کړي ، ود غه مالِ کومك ته نوائب اوضرائب ويل کيږي ، البته دا په هغه وخت کې لګول کيږي چه د بيت المال خزانه خالي وي او خالص د عوامو د إجتماعي ضرورتونو په خاطر وي اوصرف پر ماللارو خلکو به وي ؛

د دې لپاره ځينې علماء د دې آيت په عموم إستدلال کوي ﴿ وَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ﴾

ترجمه ؛ د قريبانو ، مساکينو او مسافرينو چه پر تا کوم حق

(۱) إسلامي معيشت : ص۱۸۳ : مهر محمد نواز خان ؛

دی هغه آداء کړه ؛

بل دا چه حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي : ستاسو په مال کی د زکوٰة نه علاوه هم تولنیز حقوق سته . او په بل ځای کی حضرت علي کرّم الله وجهه فرمائي : بېشکه الله عزّ وجلّ دا غنیاؤ په مال کی دومره حق فرض کړېدی چه په هغه باندی د فقیرانو کفالت او چاره وشی ؛

که په إسلامي تولنه کی فقیران وږی او بد حاله وی نو ددې سبب دادی چه أغنیاؤ د دغه فرض په آداء کولو کې کوتاهي کړېده ،

معلومه شوه چه دإسلامي تولنی أمیر کولای شي چه د تولنیزو مشکلاتو په صورت کی و أغنیاؤته ترغیب ورکړي او دهغوی څخه په خوښه څه مالونه راجمع کړي ، لکه څرنګه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تبوك د غزا په وخت کي خلکوته داعانت کولو ترغیب ورکړی او خلکو هم په ډېر شوق سره إعانت ورکړی . (۱)

١٤-مورد ✱ بې مالکه مالونه ،، په إسلامي تولنه کي

(۱) إسلامي معیشت : ص۱۸۱ مهر محمد نواز خان .

بې مالِکه مالونه دبیت المـال حق دی لکه داچه یو سړی مړشي او وارث ئې پاته نشي ، او یا یو څوك دچا څخه شي په امانت یا عاریت واخلي او یا ئې څخنې غصب کړي او بیا ئې مالك ورك شي او یا داچه یو څوك څـه شي پیدا کړي او مالك ئې نشي پیدا کولای ، داسې ټول مالونه په بیت المال کې جمع کیږی ۰ (۱)

✱ د اِسلامي بیت المـال مصارف ✱

د اِسلام په مقدس دین کې نه یوازې داچه پرخلکو باندې زکوٰة ، عُشر ، خِراج ، فئ او داسې نور مقرر شویدي بلکه په ډیرو موارد وکې ئې د مصرف لِسَت هم خپله الله عزّوجلّ ورکړیدی ، داسې نه چه د حکومت مشران ئې په خپله خوښه یا په خپلو عیاشیو مصرف کړي ،

د مثال په ډول د زکوٰة او عشر د مستحقینو په هکله په قرآنکرِیم کې داسې صراحت شویدی : إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ

(۱) أصول الدعوة : ص۲۵۸ عبد الکریم ، زیدان ۰

عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝ (۱)

ترجمه : دا صدقات حق دی صرف د فقیرانو، مسکینانو ، او په صدقاتو کښې د کار کونکو ، او د هغو لپاره چه د زړونو مائل کېدل ئې مطلوب وی ، او د مکاتب د آزادولو لپاره ، د قرضدارانو پوروړو لپاره ، د الله د لارې د مجاهدینو لپاره ، او مسافرو لپاره :

په پورتنی آیت کې الله عزّ وجلّ وخپل رسول حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلّم ته د صدقاتو د مصرف مکمل لِسّت ورکړی چه له هغه سره ئې سم ویشی او د هیچا د غوښتنی تابع نشی ، په یو حدیث کی رسول الله فرمائلی دی چه الله عزّ وجلّ د صدقاتو د ویشلو اختیار نبي یا غیر نبي ته ندی پرې ایښی بلکه بالذات ئې پخپله د هغه د مصرف اولکښت ځایونه ټاکلی دی چه هغه نوموړی اته ځایونه دی ۰ (۲)

د آیت تحقیق = نوموړی آیت د (إِنَّمَا) په کلمه سره شروع شویدی ، دا لفظ په عربی ژبه کی د حصر او انحصار لپاره

(۱) سورة التوبة : آية ۶۰ :(۲) تفسیر کابلي : ج - دوهم ص ۱۱۹۸

إستعماليږي ، معنیٰ ئې داده چه د صدقاتو چه کوم مصرفونه بیانیږي نو لي واجبي صدقې صرف او خاص په دوی صرفول ضروري دي ، ددې نه علاوه په بل نیك كار كي لكه مسجد او مدرسه جوړول يا نورو عام الفائده شيانو په جوړولو كي واجبي صدقې نشي مصرف كيدای ؛

د آيت دويم لفظ صَدَقَاتُ دی ، د صَدَقَةٌ جمع ده ، په لغت كي هغه مال ته ويل كيږي چه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره كي خرڅ كيږي ؛

إمام راغب رح په مفردات القرآن كي فرمائي چه د الله په لاره كي خرچ كيدونكي مال ته صدقه ځكه وائي چه ددې وركونكي گوياد دعوه كوی چه زه په خپل قول او فعل كي صادق یم ، ددې په خرڅ كولو كي زما هيڅ د دنيا غرض نشته صرف د الله د رضاء لپاره ئې خرڅ كوم ؛

د صَدَقَة لفظ د خپلي أصلي معنیٰ له نظره عام دی ، نفلي او فرضي دواړو ته ويل كيږي ، لكه څرنگه چه الله عزوجل د فرضي صَدَقو په هكله فرمائي ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً ﴾ ۰

په پورتنی آيتكي د إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ څخه د إمام قرطبي رح د تحقيق پر بنياد فرضي

صدقې مراد دی :

دریم لفظ (لِلْفُقَرَاءِ) دی ، دلته یوه مُهمه باریکي داده چه د للفقراء پر لفظ باندی (لام) داخل شویدی چه په عربي ژبه کي د تخصیص لپاره استعمالیږي ، یو ځل د آیت په شروع کی (إنّما) راوړل شو چه د حصر لپاره دی او بیا دلته (لام) راوړل شو چه د تخصیص لپاره دی نو ځکه د جملې معنیٰ داشوه چه ټولي فرضي صدقې صِرف د هغو خلګو حق دی کوم چه په آیت کي ذکر شویدی ، نو کله چه الله ج په خپله په دومره تأکید ، حصر او تخصیص سره فرمائي چه د مصرف ځایونه يې دغه اته دی نو د دې نه علاوه به په بل ځای یا بل چا باندی صرفول څرنګه جائز وی ؟ د الله ج د قول په مقابل کي به د بل چا ؟ قول دومره أهمیت ولری چه د هغه پر بنیاد دې په بل ځای کي مصرفول جائز شي ؟

* د نوموړو اته قسمه مستحقینو تفصیل :-

١ * فقراء ، جمع د فقیر ده - هغه چاته ویل کیږی چه د هغه سره هیڅ شی نه وی .

٢ * مساکین ، جمع د مسکین ده - هغه چاته ویل کیږی چه

دهغه سره د ضرورې حاجتونو شی نه وی ، او یا داچه د هغه سره د نصاب نه کم شی وی ، یعنی هغه څوك چه د ومره مال نلری چه زکوٰة پر فرض شی نوده ته فرضي صدقه اخستل جائز دی ،

هغه څوك چه د نصاب خاوند نه وی لکن تند رست جوړ ، قوي او د کټی قابل وی او دیوې ورځې د کډ ازې خرڅ ورسره موجود وی که څه هم زکوٰة ورکول جائز دی خو دا ورته جائز ندی چه گرځي او د خلکو څخه سؤال کوی ، په دې هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څو احادیثو ته اِشاره کوم : عَنْ أَبِي هُرَيرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم قالَ والَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلٰى ظَهرِهٖ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلًا فَيَسْأَلُهُ أَعْطَاهُ اَوْمَنَعَهُ . (۱)

ترجمه : د حضرت أبوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل : زما دی قسم په هغه ذات وی چه زما نفس د هغه په قبضه کی دی چه یو ستاسو څخه خپله رسی را واخلی او پر خپله شا باندی لرگی راوړی (خرڅ ئې کړي)

(۱) مختصر صحیح البخاری ج۲ : حدیث ۷۴۸ ص ۱۷۳

داده لپاره خیر دی تردې چه راسي دې چا څخه سؤال کوی اوهغه ورکړي یا ورنه کړي ۰

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال ... قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مَا يزالُ الرَّجلُ يسألُ النَّاسَ حتّىٰ يأتيَ يومَ القيمةِ ليسَ في وَجْهِهِ مزعةٌ : الحديث ۰ (١)

ترجمه : دحضرت عبد الله بن عمر رض څخه روایت دی چه نبي کریم صلى الله عليه وسلم وفرمائل : همیشه یو څوك دخلکو څخه سؤال کوی ترڅو دقیامت په ورځ داسی راشي چه پرمخ باندی يې غوښې نه وی) بلکه صرف هډوکي به پاته وی ؛ په دې حدیث کی داسې إشاره ده چه دسخت ضرورت نه پرته دخلکو څخه سؤال کول جائز ندی ۰

عن أبي هريرةَ رضي الله عنه أنَّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ لَيسَ الْمِسْكِينُ الَّذِی يطُوفُ علَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقمةُ و اللُّقمتانِ والتمرةُ والتمرتانِ ولٰكنَّ الْمسكينَ الَّذِي لا يَجِدُ غِنىً يُغْنِيهِ وَلا يَقُومُ فيسأَلُ النَّاسَ ۰ (٢)

ترجمه : دحضرت أبوهريره رض څخه روایت دی چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم

---

(١) (٢) مختصر صحیح البخاري ؛ حدیث ٧٥٢ - ٧٥٣ ص ١٧٣

وفرمائيل : هغه څوك مسكين ندى چه پر خلكو باندى گرځي (سؤال كوى) اوهغه يوه گوله يادوې گولې ، يا يوه خرما يادوې خرماوى وركوى .. بلكه مسكين هغه څوك دى چه د كفاف په اندازه شى نلرى او پر خلكو باندى سؤال هم نه كوى . په دې هكله خلك ډېره بې پرواهي كوى ، دداسې خلكو لپاره سؤال كول حرام دى :

داچه نن په إسلامي ټولنه كى مسكنت اوفقر زيات شويدى اويا داچه كداگران اوسؤالكران زيات شويدى ددې يوازنۍ وجه داده چه ددوى پر إسلامي او إنساني حق باندى نورو - داكه وهلې ده ، په يوه نامه اوبل نامه ئې غير مستحقين خلك اخلى ، په إسلامي ټولنه كى د زكوٰة او عُشر نظام كمزورې شويدى اويا دا نظام د إسلامي حكومت د كنټرول څخه وتلى دى ، اويا إسلامي حكومت خپله وظيفه پرې اېښى ده هغه داچه د غنيانو څخه زكوٰة او عُشر واخلى او پر مسكينانو ئې تقسيم كړې ، كه اوس هم د هر كلي يا محلې زكوٰة او عُشر راټول شى اود هغه كلي يا محلې پر مسكينانو تقسيم شى د إسلامي ټولنې څخه د كداگرانو يا سؤال كونكو شمېر به

ډېره اندازه ختمېږي ..

داسلامي قانون له نظره فرضي صدقه يوازې مسلمانانو فقيرانو او مسكينانو ته ورکول کيږي ، البته نفلي صدقې اوخيراتونه وغيرمسلمينو ته هم ورکول کېدايشي ، ځکه د نبي کريم صلّى الله عليه وسلّم إرشاد دی : تَصَدَّقُوا عَلٰى أَهْلِ الْأَدْيَانِ كُلِّهَا : (۱)

يعنې پر هرمذهب والا باندې خيرات کوی ، او يو بل حديث کی راځی : عَنْ أسماء رضي الله عنها قلتُ يارسولَ الله إنّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وهي رَاغِمَةٌ مشرِكَةٌ أَفَأَصِلُهَا قال نعَمْ نَصِلِیٓ أُمَّكِ ؛ (۲)

ترجمه : دحضرت أسماء رض څخه روايت دی چه ما نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته وويل : ای رسول الله ! زما مور ماته راغلې ده او دا مشرکه ده آيا زه د دې سره صله رحمي وکړم ؟ بنی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائل هو ! خپل د مور سره صله رحمي وکړه .

د پورتنيو حديثونو څخه معلومه شوه چه نفلي خيرات کافر ته هم ورکول کېدايشي .

(۱) معارف القرآن پښتو ترجمه : ج ـ ص ۲۳۱ محرم (۲) أبوداؤد ج ص ۵۵ طبع مکتبة قاسمية

۳ * عاملين عليها ، دلته د عاملين څخه هغه خلك مراد دي چه د إسلامي حكومت لخوا د خلكو څخه د صدقاتو راټولو او په بيت المال كې د جمع كولو لپاره مقرر شوي وي ، څرنګه چه دا خلك خپل وخت په دې خدمت كې صرفوي نو ځكه دوى ته د صدقاتو څخه د ورځنى (يوميه) أجرة (مزدوري) په اندازه ورکول کیږي .

دلته بايد ووايو چه د إسلام له نظره د صدقاتو راټولول د إسلامي ټولني د أمير وظيفه او فريضه ده ، ځكه الله عزوجل ونبي كريم صلى الله عليه وسلم ته أمر كوى او فرمائي : خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً : (۱)

يعنى ته د مسلمانانو د مالونو څخه صدقه وصول كړه : دا ښكاره خبره ده چه أمير پخپله دا كار په ټول ملك كې د كومك كونكو نه بغير نشي ترسره كولاى نو د دې مددګارانو ذكرئي په دې آيت كې د (والعاملين عليها) په ألفاظو سره وكړ ، په دې آيتونه باندې د عمل كولو لپاره نبي كريم صلى الله عليه وسلم ډېر صحابه كرام رض د صدقو د وصول كولو كاركونكى مقرر كړل

(۱) سورة التوبة : آية ۱۰۳ .

اود ملك ومختلفو حصوته ئي ولېږل اودې آيت مطابق ئې د صدقو د مالونو څخه دوی ته د خدمت حق الزحمه ورکړل

او په يو حديث کی راځي عَنْ عطاءِ بنِ يسارٍ رضي الله عنه أنَّ رسولَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ، لِغَازٍ فِي سبيلِ اللّٰهِ، اولِعَامِلٍ عَلَيْهَا، اَوْلِغَارِمٍ، اَوْلِرَجُلٍ إشتراهَا بِمَالِهِ، اَوْلرجلٍ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ فَأَهْدٰى الْمِسْكِينُ لِلْغَنِيِّ ۰ (۱)

د عطاء بن يسار رض څخه روايت دی چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائل : فرضي صدقه غني (مالدار) ته جائز يا حلاله نده ، بغير د پنځو کسانو ، يو هغه سړي چه د جهاد لپاره تللی وی او هلته دده سره په قدر د ضرورت مال نه وی که څه هم دی په کور کی مالدار وی ، دوهم د صدقو راټولونکی ، دريم هغه سړي چه ترخپل مال زيات پوروړی وی ، څلورم هغه سړي چه د مسکين څخه د صدقې مال په پيسو رانيسی ، پنځم هغه سړي چه مسکين همسايه ئې وده ته د تحفې په ډول ورکړی ۰

(۱) الموطأ للإمام مالك ج اول ص ۲۶۸

البته عامل ته د صدقو څخه د تنخوا په ډول ورکول کېږي خو دا تنخوا به د راټول کړه شوي مال ترنیمائي زیات نه وي یعني که یو عامل دومره د زکوٰة یا عُشر مال راجمع کړي ؤ که د ده تنخوا څنې ورکړل شي باقي مال ترنیمائي کم پاته کېدی نو په دې صورت کی باید د ده تنخوا کمه شي ، داځکه که هر یو عامل دومره مال راوړي چه هغه د ده ته په تنخوا کي ورکړل شي یا کم پاته شي نو بیا به د ټولني ومسکینانو او فقیرانو ته شئ پاته نشي ، په دې هکله د أحنافو د فقه یو ډېر معتمد کتاب رد المحتار داسې لیکي ﴿ وَعاملٌ یعمّ الساعِي والعاشر فیُعْطیٰ ولوغنیًا بقدرعمله ما یکفیه وأعوانه بالوسَطِ لکن لایزید علیٰ نصفِ ما یقبضُه ﴾ ، (۱)

ترجمه : عامل عام ساعي او عُشر اخستونکی د واړو ته ویل کېږي ود ده ته ورکول کیږي که څه هم غني وي دومره اندازه چه په میانه ډول د ده او د ده د ملګرو کفایت کوي لکن د هغه ترنیمائی به زیات نه وی کوم چه دی ئې قبض کوي یا راټولوي .

او په تفسیر مظهري کې داسي وائي : وقال أبوحنیفة رح و

(۱) رد المحتار : ج دوم ص۸۱ طبع مصري

أكثر الأئمة يُعطى له كفاية بقدر عمله فإن عمل يومًا يُعطى له كفاية يومٍ وإن عمل سنةً يُعطى له كفاية سنةٍ لأنه ليس للغني حقٌ في الزكوٰة وإنما يُعطى العامل أجر عمله الذي وجب على الفقراء فيُعطى ذلك القدر من مال الزكوٰة الذى هو حقهم ولا يجوز دفع جميع مال الزكوٰة إلى العامل إجماعًا وإن إستغرقت كفاية جميع مال الصدقة بل حينئذٍ يُعطى له النصف لا يُزادُ عليه إذ لو يُعطى أكثر من النصف وللأكثر حكم الكل يكون هو عاملًا لنفسه لا للفقراء فيفوت المقصودُ. (١)

ترجمه : حضرت إمام أبوحنيفة رحمة الله عليه او أكثرو إمامانو ويلي دى چه وعامل ته دده دكار په اندازه كفايت وركول كيږى ، كه ئې يوه ورځ كار كړې وُ ديوې ورځې كفايت او كه ئې يو كال كار كړې وُ ديوه كال كفايت وركول كيږي داځكه چه دغني په صدقاتو كې هيڅ حق نشته ، داچه عامل ته وركول كيږى دا دده دهغه كار مزدورى ده كوم چه بايد فقيرانو په خپله كړې واى نوځكه عامل ته دهغه

---

(١) التفسير المظهري : ص ٢٣٣ / ٤ القاضي محمد ثناء الله العثماني

مالِ زکوٰة څخه اُجرة ورکول کیږی چه هغه حق د دوی (فقراؤ) دی، او وعامل ته د زکوٰة ټول مال ورکول جائز نه دی د ټولو إمامانو په إجماع سره که څه هم د ده کفایت په ټوله مال کیږی بلکه په دغه وخت کی به د راجمع شوي مال نیمائي ورکول کیږی، تر نیمائي به زیات نه ورکول کیږی دځکه که تر نیمائي زیات ورکول شی او حال داچه تر نیمائي زیات حکم د ټوله لری نو په دې وخت کی ګواکې دی د خپل ځان لپاره کارکونکی دی نه د فقیرانو لپاره نو اُصل مقصود فوتیږی (هغه داچه زکات باید د فقیرانو لپاره راټول شی داچه هرعامل د ومره مال راټول کړی چه هغه ټوله دی یوسي نو فقیرانو ته بیا هیڅ نه پاته کیږی) نو ځکه د ده پوره مزدوری هم نه واجبیږی.

مکرمتاأسفانه نن په ډېرو إسلامي ملکونو کی عادت داسي جوړ شوی دی چه هر یو محلې یا کلي ځانته یو ملا إمام درولی دی او هغه ته ټوله زکاتونه او عشرونه ورکوی او ملا إمام هم دغِنیٰ سره سره دغه زکاتونه اخلی، نو چه کله ځنی پوښتنه وشی چه ملاصاحب ته خو غني ئې

تا ته خو جائز نه دی ، زکوٰة خو خپل د مصرف ځایونه لري :
نو ځینی ملایان دا وائي چه زه خو عامل یم ، ما خو ته له کال
دلته مصرف کړېدی : نو ده ته باید د پورتنیو دلائلو په رڼا کي
دا وویل شي چه اول خو عامل د حاکم لخوا ټاکل کیږی او ته
خو...... او دوهم دا چه وعامل ته هم ټول زکات د خپل ځان
لپاره اخستل د هیڅ یو مجتهد په نزد جائز نه دی ، ته خو ټوله
د خپل ځان لپاره اخلي ،

د پورتنی تحقیق څخه دا هم معلومه شوه چه غني عامل
یا راټولونکی ته د زکوٰة څخه چه څومره ورکول کیږی
هغه په دې وجه جائز دی چه دا د خدمت بدل دی او دی د
فقیرانو وکیل یا مزدور دی ، ورنه زکات خو هغه مال ته
ویل کیږی چه فقیر ته بیله عوضه ورکړه شي ، که یو چا
د فقیر څخه د زکوٰة په بدله کی لږ څه واخستی هغه زکات
ته نه زکات نه ویل کیږی او نه ئې فرضي زکات اداء کیږی :
په دې هکله که د بر زیات تفصیل غواړې د معارف
القرآن (پښتو ترجمه) ص ۲۲٦/۲ تر ص ۲۵۳/۲ پوری
مطالعه کړه چه ډیری مهمي فائدې پکښې دی .

٤ * مؤلّفة القلوب ، مؤلّفة القلوب هغه خلك دي چه د إسلام سره د دوی د زړونو د ألفت پیدا کولو په خاطر د صدقو څخه څه ورکول کیږی ،

دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی څه داسی خلك وه چه هغوی ته به د زکات د مال څخه په کال کی څه حصه ورکول کیدل چه د علماؤ د وینا مطابق په لاندی څلورو ډلوکی خلاصه کیږی :

ا = هغه خلك چه نوی مسلمانان شوی وه او پر اسلام باندی د ټینګولو په خاطر ورکول کیدل .

ب = هغه خلك چه پخپله خو ټینګ او پاخه مسلمانان وه مګر دوی ته د دې لپاره ورکول کیدل چه د دوی په ذریعه د دوی قوم إسلام ته راشي .

ج = هغه کفار وه چه د دوی د شره څخه د ساللو په منظور ورکول کیدل .

د = هغه کفار وه چه په دعوت او تبلیغ به إسلام ته نه راتلل بلکه په إحسان او ښه سلوك سره به متأثره کیدله .

نو موړي څلور قسمونه ټول په مؤلّفة القلوب کی داخل دي ؛

داچه مؤلفة القلوب اوس هم د زكات د مصارفو څخه دی اوکه نه ؟ په دې هکله ځينې علماء لکه حسن بصري ، إمام شعبي ، إمام أبوحنيفة او نور.... وائي چه دا حکم اوس منسوخ دی ځکه نبي كريم صلى الله عليه وسلم دا ديو خاص مصلحت لپاره کاوه ، کله چه إسلام او مسلمانان قوي شول نو د دې ضرورت نشو پاته هم او وجه ده چه د نبی کريم صلى الله عليه وسلم تر رحلت وروسته د حضرت أبوبكر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما په دور حکومت کې د غو خلکو ته د زړه نود سالو لپاره څه نه ورکول کېدل ،

د نورو علماؤ د مذهب مطابق اوس د زكات مصارف د مؤلفة القلوب په إستثناء سره باقي اوه قسمه پاته دی :

او ځينې علماء لکه إمام زهري ، إمام شافعي ، إمام أحمد بن حنبل او ابن عربي وائي چه دا حکم منسوخ ندی ځکه د قرآنکريم حکم بيله قرآنکريم څخه په بل شی نشی منسوخ کېدای او په قرآنکريم کی بل داسی آيت نشته چه د دې آيت ناسخ وی ، البته دا خبره صحيح ده چه دا د مصلحت لپاره دی ، کله چه مصلحت ختم شی نو بيا دی نه

ورکول کیږي ، اوس هم که ضرورت او مصلحت وي د اسلامي تولنې أمير کولای شي چه د تأليف قلب لپاره د زکوٰة د مالونو څخه څه حصه د داسې خلکو لپاره تعين کړي مګر کافرته يې نشي ورکولای ځکه په تفسير مظهري کې يې ليکلي دي چه دانده ثابته شوې چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم وکافرته د تأليف قلب لپاره د زکات د مال څخه څه ورکړي وي ، اوکه يې ورکړي وي هغه به يې د بل مدرك څخه ورکړي وي ،

او بل دا چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته به د وحي په ذريعه مصلحت معلوميدی ، اوس چه وحي قطع شويدي نو دانشي معلوميدلای چه کافر به د مال په ذريعه إسلام ته داخل شي.

۵ ✱ وفي الرقاب ، رقاب د رقبة جمع ده ، او رقبة په عربي ژبه غاړې ته ويل کيږي چه عموماً ځني مراد غلامان (مريان) وي ، په مريانو کې يو قسم هغه دي چه ورته مکاتب وائي ، مکاتب هغه مريې دي چه د خپل مالك سره داسې کتابت (نوشته او قرار داد) وکړي چه دي به مالك ته يو معين مقدار مال تر يو ټاکلي وخت پورې ورکوي او هغه

به دی آزاد وی ؛

دلته جمهور (ډېر) علماء وائي چه د ﴿وفي الرقاب﴾ څخه یوازې دغه ډول مریان مراد دی ، یعنی مکاتب مریي ته د زکات د مال څخه څه ورکول کېدای شي چه هغه خپل ځان په آزاد کړي ، صرف د امام مالک" څخه یو قول را نقل شوی دی چه هغه وائي عام مریان هم د آزادولو لپاره په رانیول کېدای شي ؛

دلته یوه مهمه خبره دا ثابتیږي چه اسلام د ټولنې څخه د غلامۍ ورکولو لپاره مستقله پانګه ایښې ده ترڅو د اسلامي ټولنې څخه غلامي ختمه شي .

٦ ﴿الغارمین﴾ ، غارمین د غارم جمع ده ، معنیٰ ئې ده قرضدار یا پوروړی ، مطلب دا چه یو مسلمان پوروړی وي او دومره مال نلري چه پور په اداء کړي نو هغه ته هم د زکات د مال څخه ورکول کېدای شي چه خپل پور په آداء کړي خصوصاً هغه کسان چه مَهر پر باندې وي تر هر چا نه زیات حقدار دی ؛ .

ځینو اماما نو دا شرط هم لګولی دی چه دا پور به د حرام کار

یا فاسد رواج د پوره کولو لپاره نه وی ، او که د حرام کار یا فاسد رواج لپاره ئې پور کړی وی هغه ته نه ورکول کیږي.

۷ * في سبيل الله (د الله په لار کې) ، د دې څخه یو هغه غازي مجاهد مراد دی چه دی جهاد ته ځي خو د جنګ سامان ورسره نه وی او نه ئې د رانیولو لپاره مال لري ، او بل هغه سړي دی چه پر ده یو ځلی حج فرض شي خو بیا د ده سره مال نه وی چه حج په وکړي ، دریم هغه څوك دی چه د علم د زده کړې لپاره ځي خو د ده سره مال نه وی ، څلورم هغه څوك دی چه د دین د تبلیغ او دعوت لپاره ځي او مال ورسره نه وی ، د غه کسان تر هر چا مخکی حقدار دی ځکه په دې کی د یو خوا د غریب او مسکین سره کومك کول دي د بلې خوا دا کار و نه خالص دیني خدمت او عبادت دی .

تنبیه * د (في سبيل الله) لفظي معنیٰ ډېره عامه ده یعنی هر هغه کار چه د الله د رضاء لپاره کیږي هغه ته في سبيل الله ویل کیږي :

ځینې خلك دلته لویه غلطي کوی ، د زکات مال په عام المنفعت ځایونو کي لکه مسجد ، مدرسه ، څاه ، سړك ، پول ،

شفاخانه ، مسافرخانه اوداسې نورو ځايونو کې مصرفوي په
دې معنئ چه داهم په في سبيل الله کې داخل دي ، په دې
هکله که دصحابه کرامو، تابعينو ، إمامانو اوفقهاؤ
تفسيرونه وکتل شي اوځان بنسه په پوه کړل شي نودا معلومېږي
چه نوموړو ځايونوته که څه هم في سبيل الله ويل کېدايشي
خوبياهم دزکات مال په داسې ځايونوکې نشي مصرف کېدای
ځکه إمام ابن جرير او ابن کثير دفي سبيل الله تفسير
صِرف په مجاهد اوحاجي سره کړيدی ، اوپه يوحديث کې راځي
چه يوسړي خپله اوښه في سبيل الله وقف کړې، وه نونبي
کريم صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل چه دا اوښه دحاجيانو
دسفرلپاره استعمال وه :
ځينو علماؤ چه طالبعلمان هم پکښې داخل کړيدي دهغه
صِرف داوجه ده چه دغه خلک په مسکينان وي خو بيله هغه
هم دوی دزکوٰة دمصرف أهل دي ، دغه دعوت اوطلب العلم
به يې وجه دترجيح وي :
اوبل داکه دفي سبيل الله معنئ په دې آيت کې هم موږ دومره
عامه واخلو چه هرنيک کار دزکات مصرف وبولو نوبيا به په

قرآن کریم کې ددې اتو مصرفونو بیان (معاذالله) بالکل بې فائدې شي. (۱)

ددې زیات تفصیل دی په پښتو ترجمه شوي معارف القرآن کي وکتل شي.

۸ * ابن سبیل، د سبیل معنیٰ ده لاره او دابن لفظ په اصل کې د زوی په معنیٰ دی، خو په عربي محاوره کې هغه چا ته هم ابن ویل کیږي چه دیو شي سره زیاته علاقه او تعلق ولري ددې محاورې مطابق ابن سبیل لاري تلونکي مسافرته وائي ځکه دده زیات تعلق او علاقه دلاري د قطع کولو او منزل مقصود ته د رسیدلو سره ده، او د زکات په مصارفو کې ځنی مراد هغه مسافر دی د چا سره چه په سفر کي د ضرورت په اندازه مال نه وي که څه هم په وطن کي مال ولري، داسی مسافرته د زکات د مال څخه دومره اندازه مال ورکول کیدای شي چه دی د خپل سفر ضرورتونه په پوره او خپل وطن ته ولاړ شي.

تردې ځایه پورې د هغو اتو مصرفونو بیان پوره شو کوم چه په ذکر شوی آیت کې د صدقو او زکات لپاره بیان شوي وه،

(۱) معارف القرآن، پښتو ترجمه: ص ۲۴۷ ج ۴

د صدقو په آیت کې چه ئې څومره مصرفونه ذکر کړیدی که ښه فکر پکښې وکړو هر یو لفظ پخپله پردې دلالت کوی چه دوی د فقر او حاجتمندۍ په لحاظ مستحق دی ځکه په لفظ د فقیر او مسکین کښې خو داښکاره ده او د رقاب ، غارمین ، فی سبیل الله او ابن سبیل ألفاظ هم دې طرف ته إشاره کوی چه د دوی د حاجت د پوره کولو پر بناء دوی ته ورکول کیږی ، البته عاملینو ته په طور د معاوضې د خدمت ورکول کیږی ،

معلومه شوه چه إسلام په تولنه کې ترهر څه نه زیات د غریب ، فقیر او حاجتمند حمایت کوي ، که ئې د دنیا د نورو - أدیانو او نظامونو سره مقابله وکړو فرق به ئې ښه په واضح ډول وینو ..

د داغه آیت په آخر کې الله عزّ وجلّ فرمائي ﴿ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ﴾ تفسیر المراغي د دې جملې په تفسیر کې لیکی : ای إنما الصَّدقاتُ لمن ذُکر من أصناف المحتاجین ، و فیما ذُکِر من مصالح الأمة فریضة من الله لهم أوجبها علیکم . (۱)

(۱) تفسیر المراغي : ج ۴ ـ ص ۱۴۶ أحمد مصطفی المراغي .

ترجمه : بېشکه د فرضي صدقو مصرف د محتاجانو هغه صنفونه دي چه په آيت کي ذکر شويدي او د أمت په هغو مصالحو کي چه ذکر شويدي فرض دي د الله د طرفه د دوی لپاره واجب کړي لې دي د غه صدقې پرتاسو باندې :

دهغه ځایه څخه إمام شافعيؒ او نور څه علماء دليل واخلي چه پر زکات ورکونکي باندي دا فرض ده چه ودغه ټولو أصنافوته څخه ورکړي ، د إمام أبو حنيفهؒ ، إمام مالكؒ او څه نورو علماؤ په نزد که يو سړي خپل ټول زکات د دغه اتو صنفونو څخه يوه ته ورکړي هم جائز دي . (١)

او الله عزّ وجلّ د آيت په آخر کي فرمائي ﴿ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ يعنی الله عزّ وجلّ ښه خبر دی دخلګو په أحوالو او د دوئ د حاجت په مقدار ، او ښه حکمت والا دی په هغه څه کي چه د دوی لپاره ئې مشروع کړيدي ، يعنی دغه فريضه او دغه وېش دراسي چا لخوا شويدي چه هغه د دغو خلګو خالق او د دوی په ضرورتونو ښه خبر دی ، او همدا ټول ئې دخپل حکمت په تقاضا کړيدي نو ځکه په دغه کي و بندګانو ته د رد او بدل کولو هيڅ اختيار

(١) تفسير فتح القدير : ج-٢ ص-٣٧٢ محمد بن علي بن محمد الشوكاني :

نښته .

✱ دغنیمت د مصرف ځایونه ✱

لکه څرنګه چه موو ویل د إسلامي بیت المال د موارد و څخه یو مال غنیمت دی ، د دې د مصرف ځایونه هم الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی په دې ډول ښودلي دي : وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝ (١)

ترجمه : او پوه شی ای مسلمانانو ، بیشکه هرهغه شئ چه په غنیمت واخست تاسی له کفارو په غلبې سره له یو شئ نه نو بیشکه الله لره دی حکم کول په خمس دهغه کې ، اودغه خمس ثابت دی لپاره د رسول د الله او لپاره د خپلوانو د رسول الله او لپاره د یتیمانو او لپاره د مسکینانو محتاجانو او لپاره د مسافرانو (او باقی څلور برخې دی لپاره د غازیانو) او صبر وکړئ پر دغه تقسیم ای مقاتلانو که ایمان لرئ په الله

(١) سورة الأنفال : آیة ٤١

او په هغه آیتونو یا ملائکو یا نصرت چه نازل کړیدی موږ پر بندګانو خپل په ورځ د فیصلې کی د حق له باطل څخه (چه د بدر ورځ وه) هغه ورځ چه سره مخامخ شولې دواړه جمعی ډلې، او الله پر هرشی چه اراده وفرمائی بنه قادر دی (چه څینې لږ ډلې ته ئې غلبه د لږو پر ډیر ور وده)

تفسیر: د دې سورت په ابتداء کی ئې فرمائلی دی: يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ ۖ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ ۚ

ترجمه: پوښتنه کوی دوی له تانه ای محمده! له حکمه د غنائمو څخه، ووایه دوی ته چه اموال د غنیمتونو خاص الله لره دی او رسول د الله لره دی.

انفال جمع د نَفَل ده او غنائمو ته ویل کیږی، دې ته ځکه نفل وائي چه دا د رب العزة د فضل او مرحمت محض عطاء ده،

په دا ورو ستنی آیت کي الله عزّ وجلّ فرمائي چه مالِ غنیمت ټول د الله او د هغه د رسول دی ځکه چه مسلمانانو ته غلبه ورکول او کفار مغلوب کول صِرف د الله کار دی نو ددې په نتیجه کی چه کوم مال لاس ته راځی نو هغه هم د الله حق دی، کله چه دا ثابته شوه چه غنیمت د الله حق دی نو بیا په هغه لمړنی آیت کې

الله عزّ وجلّ د هغه تقسیم وکړي چه مالِ غنیمت پنځه حصې کیږي ، څلور حصې د غازیانو او جنګ کوونکو حق دی او یوه پنځمه حصه به په دې ډول تقسیموی کوم چه الله عزّ وجلّ په لمړنی آیت کي په تفصیل سره بیان کړېدی ، هغه دا چه پنځمه برخه دالله نیاز دی چه رسول الله ته د پاک الله د نائب په حیث رسیږي اودی ئې پر دغه پنځو مصرفونو لګوي ، ۱ = په خپل ځان باندي ۲ = پر خپلو خپلوانو باندی چه بني هاشم او بني عبد المطلب دی چه له پخوا څخه دوی دالله تعالیٰ په لاره کي کار اود رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نصرت او امداد کړېدی ، اود اسلام له خاطره یا پوازي د قرابت او خپلوۍ له وجهي ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مرستي کړېدی اود زکات اخستل پر دوی باندی حرام شویدی ، ۳ = پر یتیمانو پلار مړیو باندی ، ۴ = پر محتاجانو مسلمانانو باندی ، ۵ = پر محتاجو مسافرانو باندی :

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د خمس د دغو پنځو مصارفو څخه زموږ حنفیانو په نزد یوازی یتیمان ، محتاجان او مسافران پاته دی ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم

له وفات څخه وروسته د دوی د ذات مصارف نه دی پاته
او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهل قرابت هغه برخه
پاتی شوه چه دوی ته د رسول الله ﷺ د پخوانی امداد او نصرت په
بناء ورکول کېده ، هو ! د مساکینو او محتاجانو له هغو برخو
څخه چه دوی ته مقرری دی د رسول الله مبارک مساکین
او أهل الحاجت خپلوان بنائي مقدم وګڼل شی ،
د ځینو علماؤ په نزد د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته د أمیر
المؤمنین د مصارفو لپاره بنائي چه خمس الخمس ورکړل شی
والله أعلم . (۱)
د أحنافو د مذهب په یوه معتمد کتاب الهدایة کی په دې
هکله داسي لیکی : وأما الخُمُس فيقسمُ على ثلاثة أسهُم
سَهمٌ لليتامى وسهمٌ للمساكين وسهمٌ لإبن السبيل يدخُلُ
فُقرآء ذوي القربى فيهم ويُقدَّمون ولا يدفع إلى أغنيائهم
او د دلیل په توګه لیکی ، ولنا أنَّ الخلفاء الأربعة الراشدين
قسَّموه على ثلاثة أسهُمٍ على نحو ما قلناه . (۲)
ترجمه : کوم چه خمس د غنیمت دی په دریو حصو ویشل

(۱) تفسیر کابلی : ص ۱۱۰۴ / ج - ۲ (۲) الهدایة : ص ۲۷۰ / ج - ۲

کیږي، یوه حصه دیتیمانو، یوه حصه د مسکینانو او یوه حصه د محتاجانو مسافرانو لپاره ده، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم فقیران قریبان په همدغو فقیرانو کې شامل دي او د أغنیاؤ ته یې نه ورکول کیږي، او وائي چه زمونږ لپاره دلیل د خلفاء راشدینو تقسیم دی چه هغوی هم پردغه درو ډلو ویش کړیدی لکه څرنګه چه مونږ وایو؛

په پوره توګه ډول د غنیمت د خُمس د مصرف کولو بیان په پوره ډول وشو، دا چه هغه پاتی څلور برخې د غانمینو په مینځ کی څه ډول تقسیمیږي د هغه تفصیل د فقهي په کتابونو کې لیکل شویدي د ضرورت په وخت کی دي هغوته مراجعه وشي:

❋ د فيئ د مصرف ځایونه ❋

دا چه د بیت المال د موارد و څخه یو فيئ دی او د هغه تعریف او ترجمه د موارد و په بحث کي و لیکل شوه د دغه مال تقسیم هم خپله الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی په دې ډول کړیدی:

مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتَامٰى وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ . سورة الحشر: آية ٧

ترجمه : هغه شئ چه راکړځولئ دی الله پر رسول خپل باندی له مالونو د أهل د قريو (کليو) بې له جنګه نو هغه دی الله لره او رسول د الله لره ، او دغه مالونه دی خپلوانو د رسول الله لره ، او دغه مالونه دی يتيمانو لره ، او مسکينانو لره او مسافرانو لره ، مقرر کړيدی الله دا قسمت لپاره د دې چه ونه ګرځی دغه أموال د ولت په مېنځ د غنيانو کښی له تاسی ځنه چه له خپله حقه څخه زيات واخلی او فقراوُ ته لږ ورکړی

دفئ مالونه تول لکه دغنيمت د مالونو د پنځمی حصې په شان په پنځه صنفه مستحقينو باندی تقسيم کيږی ،

دا چه دغنيمت د آيت او د دې آيت په سر کی لفظ لله راغلی دی صِرف د دې ته إشاره ده چه دا ټول مال په أصل کی د الله تعالیٰ دی ، د ده له طرفه مستحقينو ته ورکول کيږی دا د چا لخوا صدقه او خيرات ندی ، او مصرفونه ئې هم الله تعالیٰ په خپله د اپنځه بيان کړه ، ۱ = خپله رسول صلی الله عليه وسلم ۲ = د رسول الله صلی الله عليه وسلم قريبان ، ۳ = يتيمان ۴ = مسکينان ، ۵ = محتاج مسافران ،

خو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم تر رحلت وروسته د مسلمانانو

امیر کولا یشی چه د ا مــال هم د غنیمت په شان د رو صنفونو لکه یتیمان ، مسکینان او محتاج مسافرانو ته ورکړي ؛

الله عزّ وجلّ د امصارف ځکه راښوولي دی چه مسلمانان تل د پلار مړیو (یتیمانو) او مجبورو بې کسانو او عامو مسلمانانو په پالنه او پوښتنه کې متوجه اوسی او تل د اسلامي عمومي ضروریاتو خیال وکړي ځکه چه د اسی مالونه د بډایانو د ولتمندانو راکړه ورکړه او نورو کهتود پاره نه دی او نه ښائي چه هغه د هغوی د مخصوص جایداد په منزله وګرځي او یواځي بډایان پرې مزې وکړي او خوند ونه ترې واخلی او غریبان له لوږی څخه ومري یا عمومي مصالح خراب او ویجاړ پراته وی . (۱)

خلاصه دا چه د اسلامي حکومت د مصارفو او د بیت المال د موارد و لپاره څلور خزانې یا شعبې جوړیږي چه د هرې یوې موارد او مصارف په دې ډول دی ؛

۱ = د زکاتونو او عشرو نو خزانه - په دې خزانه کي به صرف زکاتونه او عشرونه راټولیږی او بیا په هغو مصارفو لګول کیږی کوم چه الله عزّ وجلّ ښودلی دی چه هغه فقیران ، مسکینان ، عاملان

(۱) تفسیر کابلي ؛ $\frac{ص ۱۳۸۹}{ج - ۲}$ دوه جلده والا .

پور ورکړي ، دالله دلیارې مجاهدین او محتاج مسافران ؛

ب = د مالِ غنیمت ، فیئ او د رکاز یا کانو د خمس خزانه - په دې کې د غنیمت ، فیئ او رکاز مالونه جمع کیږي او بیا پر درو صنفونو ویشل کیږي لکه یتیمان ، مسکینان او محتاج مسافران ؛

ج = هغه خزانه ده چه په هغه کې خراج ، جزیه ، د غیر مسلمینو تاجرانو څخه لاس ته راغلی محصول ، ضرائب او کراء الأرض جمع کیږي او د دې څخه د دولتي مامورینو معاشات ، حکومتي دوائرو او داسې نورو مصارف کیږي ؛

د = د أموالِ موروثه او متروکه ، أموالِ ضائعه ، د غیر مسلمینو د هدایاوو او وقفي مالونو خزانه - د دې څخه به د لیارو ، پولونو ، بندونو او داسې نورو شیانو د جوړولو مصارف کیږي ؛

څه فقهاء داسې هم وائي چه أمیرالمؤمنین د ضرورت په وخت کې د یوې خزانې څخه د بلې خزانې د مصارفو لپاره څه په قرض اخستلای شي ؛

نتیجه دا چه اِسلامي حکومت به د قرآني آیتونو او نبوي احادیثو په

رښاکي ټول تصرفات په ډېر احتياط اوتدبير سره کوي ، داسې نه لکه اوسنۍ حکومتونو چه بيت المال په خپل شوق دابو په شان مصرفوي ۰ (۱)

که داسلامي بيت المال په مواردو اومصارفو کې په غور فکر وشي نو دهغه لوی لوی موارد لکه عُشر ، زکات ، غنيمت ، فيئ داټول پرهغو کسانو مصرفيږي چه هغوی فقيران ، مسکينان يتيمان ، محتاجان اوپور وړي دي ، ترڅو په اسلامي ټولنه کي غريب اوغربت ختم شي ؛ که نن هم په اسلامي ټولنه کې اسلامي بيت المال جوړشي اود اسلام په بنود ل شوي طريقه مصرف شي ترډيره حده يقين کېدايشي چه دغربت اوګداګرۍ مخه نيول کېدايشي اوبه اسلامي ټولنه کې بيا هيڅ نظريه دغريب پرنامه خلګو ته دوکه ورنکړي اونه به يې کښې کاميابه شي ؛

خوبايد په ډېر افسوس سره ووايو دکومه وخته چه پراسلامي ملکونو باندې دملل متحد لخوا سيکولر يالادينه نظام مسلط کړل شويدي داسلامي ټولنې اوملکونو نظام ماليات هم دنورو نظامونو په شان دسيکولرزم په اورکباب شو چه نن موږ وينو چه په

(۱) [illegible] ص۱۹۳-۱۹۴ [illegible] محمد نواز خان :

تولو إسلامي ملکونو کي د پورتني إسلامي نظام ماليات هيڅ علامه نه ليدل کيږي .

*** پر اسلامي نظام ماليات باندې د سکولرزم منفي أثرات ***

کله چې د ملل متحد يوې إدارې (بين الأقوامي أنجمن ماليات) په سنه ۱۹۵۷ م کي په خپلو کارونو پېل وکړې و تولو هغو ملکونو ته چې ملل متحد پر قانون باندې ئې لاسليک کړی و دې شانته نظام ماليات ورکړې تر څو د تولو ملکونو تر مينځ معامله کول آسانه شي ،

اول ئې د بين الأقوامي مالياتي فنډ په نامه يوه إداره جوړه کړه چې دا إداره به بين الأقوامي مالي او إقتصادي تعاون کوی او دا إداره به وعالمي تجارت ته وسعت ورکوی او د غير ملکي زرمبادلې څخه به بنديزونه ليرې کوی کوم چې د دې عالمي تجارتي نظام په مخ کي خنډ دی . (۱)

کېدای شي چه د پورتنيو مقاصدو په شان ئې نور مقاصد هم وی ، خو دا مالياتي نظام که د هر دين او مذهب سره چليدای شي ولې د إسلامي تولنې د نظام ماليات سره هيڅ کله

(۱) بين الأقوامی تنظيميں ، ص ۱۳۶ ايس ، ايم شاهد ؛

نشي چلېداى ، داځکه چه په إسلام کې نظامِ مالیات هم د
هغه د نورو نظامونو په شان د مذهب او دین پر أصولو
ولاړ دى ، د هغه څخه مخالفت کول روا نه دى :
نو د همدغه وخته څخه وینو چه په نظامِ مالیات کې هم د
إسلامي او غیر إسلامي ټولنو ترمینځ توپیر او فرق ورک
شو ، د مثال په ډول :
۱ = د مځکې عُشر په مالیه بدل شو ، ۲ = د نقد و پیسو زکات
په ګمرکي محصول بدل شو ، ۳ = خزانې او کانونه ټول
دولتي سرمایه وګرځېدله ، ۴ = جزیه او خراج له مینځه
ولاړل ، ۵ = ټولې خزانې دولت د خپل شخصي مال په څېر
په خپله خوښه مصرفوې ، ٦ = په إسلامي ټولنه کې
د مسکینانو حقوق نورو قبضه کړل ، ۷ = إسلامي ملکونه
د پردیو پور ورکې قرضداره شول ، ۸ = سود چه په إسلام
کې تر هرڅه نه أشد حرام دى عام رواج خوړه بلکه په ملکي
معاملاتو کې قانوني جواز لري ، ۹ = سور صلیب چه چپله
د ظلم نښان دى نن په إسلامي ټولنه کې د عدل او سولې نښان
ګرځېدلى دى ، ۱۰ = نن د إسلامي ټولنې د مسکینانو لپاره

سو رصلیب او کمیونزم غمخور بلل کیږی ، اسلامي حکومتونه ددې لپاره هیڅ تخصیص بودیجه نلری ، الا غیر اسلامی هیوادونه دې روزګاری آلاونس په نامه دخپلو بې وزلو خلکو لپاره مستقله بودیجه لری او دهغې لاری خپل دې وزلو او معیوبو خلکو خدمت کوي .

خو کله چه په اسلامي ټولنه کې سیکولرزم مسلط شو او اسلامي نظام مالیات کمزوری شو په عشراو زکات باندي غیر مستحقینو قبضه وکړه نو په اسلامي ټولنه کې کداګري سوال زیات شو ، مسکینه طبقه زیاته شوله ، سره صلیب او کمیونزم ته دفعالیت کولو زمینه برابره شوله ترڅو د اسلام په خلاف خپل پوچ تبلیغات وکړي ، او دخپلو پوچو نعرو او څو پیسو او امداد په مقابل د مسلمانانو ذهنونه د اسلامی نظام په هکله خراب کړي او هغه دښمنی چه قرآن کریم ومسلمانانو ته بنوذلې ده چه د کفارو سره باید په څومره اندازه وی ، یعنی همیشه باید دوی ته د مغضوب علیهم او ضالین په نظر وکتل شی او یادا چه د صلیبی جنګونو په دوران کې صلیبیانو څومره مسلمانان د صلیب تر بیرغ لاندې

ووژل هغه ته ولي د ښمنۍ نن په دوستۍ بدلې شویدي
یعنی د لا إله إلا الله محمد رسول الله بیرغ نن د دښمنۍ
او ترورزم نښان او د سره صلیب بیرغ د أمن او أخوت نښان
ګرځیدلی دی ،
دا ټوله د کفارو د فعالیت او د مسلمانانو د غفلت په نتیجه کې
وشول ، که اوس هم مسلمانان په خپل إلهي قانون منګولې
ولګوي او د الله عزوجل رالیږودل شوی نظام خپل کړي او پر
خپلو ځانو او ملك ئې نافذ کړي بیا هم کیدای شي چې
مسلمانان او إسلامي ملکونه د پردیو د ظلم ، د ربد ریو ، پوړونو
او غلامۍ څخه خلاص شي او د دنیا او آخرت کامیابي او نیکمرغي
ئې په نصیب شي .
دا څه منفي أثرات مې صرف د مثال په توګه ولیکل ، هسې خو
که موږ خپل د ژوندانه هر اړخ ته ګورو که شخصي وي او که
إجتماعي ، فردي وي که ټولنیز ، کورنی وي که د باندنی
یعنی داخلي پالیسي وي که خارجي ، ذرائع إبلاغ لکه إخبار
رادیو ، ټلویژون او که سفارتکاري ده ، دا هر یو د غومره
بحث کولو ته ضرورت لري : لکن دا ډیره ښکاره او هرڅوك

په پوهېږي چه د مسلمانانو او یا إسلامي هېوادونو ذرائع إبلاغ ټول د پردیو په خدمت کي دی او د إسلامي نظریې په خلاف بوخت دی .

* إسلام او سکولرزم *

لکه څرنګه چه مخکي مو وویل چه سکولرزم د یوه سیاسي نظام په حیث د ټولو أقسامو سره که د هر یې ټولنې یا دین یا نظام سره یو ځای چلېدلای شي خو د إسلامي ټولنې یا نظام سره هیڅکله نشي چلېدلای ، ځکه إسلام دین او دولت دواړه دی ، نه یوازی دا بلکه حکم او سیاست د إسلامي دین جزء او مأموربه دی :

البته ددې نظر په إثبات کی چه إسلام هم دین او هم دولت دی قرآن کریم ، حدیث نبوي ، د أمت إجماع ، إجتهاد ، رښتنی تاریخ او بېخپله د إسلام طبعي کرېلارې ته د دلائلو په توګه مراجعه کوو ترڅو پې خبره او ویده خلک د غفلت له خوبه ویښ شي او د دغه زاړه ښامار (سکولرزم) مقابله وکړي اوما ته خوړلي عناصر لکه یهودیت او نصرانیت بېرته خپل فطري حالت ته وګرځي .

٭ دحکومت إثبات دقرآن لہ نظرہ ٭

لمړی پدې هکله چہ پہ إسلامی تولنہ کې بہ یو مسلمان دأمیراوحاکم پہ حیث موجود وی اودهغہ بہ هم داسي إطاعت اوفرمانبرداری کیږی لکہ دالله اودهغہ درسول : الله عزوجلّ داسی فرمائي :
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ، (١)

ترجمہ : ای هغہ کسانو چہ إیمان مو راوړیدی حکم ومنی تاسو دالله اوحکم ومنی تاسو دالله درسول اوحکم ومنی دخاوندانو دحکم لہ تاسي مسلمانانو ، یعنی دحاکمانو اومشرانو .

فائدہ : دپورتنی آیت څخہ دوه شیان ښکاره معلومیږی ، یو دا چہ مسلمانان بہ یو امیراوحاکم لري ، اوبل دا چہ دهغہ بہ داسي اطاعت کیږی

(١) سورة النساء : آية ۵۹

لکه دالله ج اودهغه د رسول ص ، يعني د اسلامي حاکم او دهغه د وزيرانو، حاکمانو، قاضيانو، لښکري مشرانو اونورو واکدارانو حکم منل ضروري دي ترڅوچه دوی د الله ج اود رسول ص له احکامو څخه مخالف حکم ونکړي . (۱)

دوهم ، د دې لپاره چه د دغه حاکم لپاره بايد يو قانون وي ، ترڅو دهغه قانون له مخې پر خلکو باندې حکم وکړي اودهغوی په مينځ کې د شخړو فيصلې وکړي ؛

داچه داسلام له نظره ټول انسانان د الله ج مخلوق دی اوپر دوی باندې د خالق قانون نافذ شي الله عزوجل وخپل رسول اودهغه نه پس راتلونکو حاکمانوته داسې امر کوي ،

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ

(۱) تفسير کابلي ؛ ص ۵۲۰ / ج - اول

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۤءَهُمْ عَمَّا جَاۤءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؛ (۱)

ترجمه ؛ نازل کړی (لیږلی) دی موږ تاته ای محمده کتاب (قرآن) په حق سره چه مصدق (حق کښونکی) دی دهغه چه نازل شوی دي په مخکي دده لرکتابونو څخه او ساتونکی دی پرمضامینو دهغه، یعنی شاهد دی په حقانیت دجنس دهغه کتاب، نو حُکم کوه ای محمده په مینځ دد غو کتابیانو کی په هغه شی سره چه لیږلی دی الله ﷻ تاته، او مه کوه متابعت دآرزوګانو ددوی، او مه اوړه له هغه شئ څخه چه راغلی دی تاته له حق څخه ؛

دریم ؛ ددې لپاره چه دغه حاکمان او مشران دانسانانو په مینځ کي ظلم ونکړي، پدې آیت کي ئې په عدل کولو امر کوی ؛

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰۤى

(۱) سُورَةُ المائدة ، آية ۴۸

أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا
بِالْعَدْلِ ط إِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ط إِنَّ اللّٰهَ
كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ، (۱)

ترجمه: بېشکه الله ج امر کوی په تاسو
ای مؤمنانو دې چه وسپاری تاسې امانتونه
اهل د امانا تو ته ، او کله چه حُکم کوی تاسې
ای قاضيانو! حاکمانو! په مېنځ د خلکو
کی نو امر کوي الله ج چه حکم وکړی په انصاف
سره ، بېشکه الله ج ښه شی چه پند ، نصيحت
دی در کوی تاسو ته په هغه سره چه دامانتونو
اداء او په عدل سره حُکم کول دی ، بېشکه الله
دی ښه اورېدونکی د ټولو اقوالو ، ښه ليدونکی
عالِم دی په ټولو ښکارو .

تفسير: يعنی الله تعالیٰ چه تاسو ته د آمانا تو
په اداء او عدل سره حکم فرمائي د غه

(۱) سورة النساء: آية ۵۸

تاسی ته بیخی مفید دی، او الله تعالیٰ ته
ستاسی پټی او ښکاره، او سنی او راتلونکی
خبري ښې معلومې دي ؛ نوکه او س چیری
تاسی ته د أمانت أداء کول یا عدل کول
مفید معلوم نشي نو دالهی حکم په مقابل کې به
هغه څه إعتبار و نلری . (۱) ځلورم
ددې لپاره چه تولو إنسانانو ته په عامه
توګه او دغه دین رسول ته په خاصه
توګه وروښیې چه په دغه دین کی هرڅه
شته او ستاسو نورو قوانینو او افکارو
ته ضرورت نشته، الله عزّوجلّ فرمائي :
وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى
وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ؛ (۲)
ترجمه ؛ او نازل کړی (لیږلی) دی موږ
په تا ای محمده کتاب چه قرآن دی بیان

(۱) تفسیر کابلي ص ۵۱۹ ج - اول (۲) سُورة النحل ؛ آیة ۸۹

واضح دپاره د هر دینی شيء، او هدایت حق
ته، او رحمت له عذابه، او زیری په جنت سره
خاص مسلمانانو ته.

تفسیر: یعنی قرآن کریم د ټولو علومو
او د دین د اصولو او د دارینو د فلاح لپاره
کافی هدایت او د ټولو امورو او ضروري
موادو د پاره کامل لار ښوونکی دی او
هدایت حق ته دی او رحمت له عذابه او زیری په
جنت سره دی خاص مسلمانانو ته، یعنی
دغه کتاب د ټول جهان لپاره سرتر پایه
هدایت او رحمت دی حکم منونکو بندګانو
ته د ښه مستقبل زیری ورکوی. (۱)

او د دې لپاره چه الله تعالیٰ بیا په ورځ د قیامت
د دې کتاب او د عدل په باره کي پوښتونکی
دی، راسی نه چه تېر شو هغه هېر شو، الله

(۱) تفسیر کابلی ص ۱۹۶۸ ج - دریم

راسي فرمائي :

فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ : (۱)

ترجمه : نوخامخا وبه پوښتو هرو مرو مغه امتونه چه ليږلى شويدى دوى ته رسولان چه اجابت او اطاعت ئې وكړى ، او خامخا به وپوښتو هرو مرو رسولان هم له اداء د رسالت او له ابلاغه د احكامو او دې چه ستاسى امتونو څرنګه اجابت او اطاعت وكړى .

شپږم : الله عزّ وجلّ د خپل پراخ رحمت په بنياد وخپلو بندګانو ته د مغه كسانو حكم هم بيانوى او خپله ئې فيصله كوى كوم چه د غه كتاب نه منى او يائې ناقص بولي ، فرمائي :

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ (۲)

ترجمه : او هر هغه څوك چه په هغه څه چه

(۱) سُورة الأعراف ، آية ٦ (۲) سورة المائدة ، آية ٤٤

الله جلّ جلالهُ رالیږلی دي حکم ونکړي نو هغه ډله کافران دي .

یعنی که یوڅوك یا یوه تولنه په داسي حال کي چه علم هم لري چه داکتاب د الله تعالیٰ کتاب دی او دانسانانو د دنیا او آخرت دلارښوونې او هدایت لپاره راغلی دی ، د الله جلّ جلالهُ حکم ونه مني او ووائي چه دین په دولت ، سیاست حکومت ، اقتصاد ، زراعت ، معاملات ، تجارت او داسي نورو دڅوند مربوطو اړخونو پوري اړه نلري ، صِرف دیوڅو معتقداتو او عباداتو مجموعه ده او یا صرف په عبادت خانو کي کیدایشي د داسي کسانو په هکله خپله الله په قرآنکریم کي پوره تنی فیصله صادره کړه او فرمائي چه داکسان د اسلامي قانون له نظره کافران دی : او په لاندني آیت کي ئې د دوی لپاره د دنیا او آخرت سزا او عذاب هم تعین کړیدی او فرمائي :

اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْکِتَابِ وَتَکْفُرُوْنَ

بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰى اَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ؛ (۱)

ترجمه ؛ آيا تاسی ايمان راوړی پرځينو احکامو دقرآن اوکافران کيږی په ځينو نورو احکامو دقرآن کريم ، پس نده سزا د هغه چا چه کوی دا کارونه مګرخو رسوائي ده په ژوند د دنيا کی او په ورځ دقيامت کی ګرځول کيږی ډيرسخت عذاب د دوزخ ته ، اونده الله ج غافل له هغه څه چه کوی يې تاسو .

تفسير ؛ يعنی داسی کوی چه ځينی احکام منی اوله ځينی احکاموڅخه انکار کوی ، نو ددې لپاره چه ايمان تجزيه نه قبلوی نوځکه دځينو احکامو منکرهم مطلق کافر بلل کيږي اودځينو احکامو په منلو باندي چا ته هيڅ

(۱) سُورة البقرة ؛ آية ۸۵

ایمان نه په برخه کیږي ؛
له دې مبارك آیت څخه په ښکاره ډول معلومه شوه که یو سړی ځینې شرعي احکام مني او په متابعت کې ئې بوخت وي مګر د ځینو هغو احکامو له منلو څخه چه د ده له طبیعت یا عادت یا مقاصدو څخه مخالف وي انکار کوي نو د هغو ځینو احکامو متابعت ده ته څه فائده نشي رسولای . (۱)
که څه هم دا آیت د یهودو د عمل په شان کي نازل شوی دی خو د اصول تفسیر د دې اصل مطابق چه د قرآن کریم مورد خاص او حکم ئې عام دی ویلای شو چه دا سي عمل اصلاً د یهودو کار دی په اسلام پورې هیڅ اړه نلري ؛ او بل دا چه دا سلام دین په خپله صریحه فیصله سره دا سي کسانو د دین څخه د اخراج فیصله کړېده کوم چه په اسلامی ټولنه کې د سکولرزم یا لادینیت

(۱) تفسیر کابلي ؛ ص ٦٤ ج - اول

نعرې وهي اويا ئې تحريك چلوي په شعوري توګه اويا په غيرشعوري توګه.
داچه په اسلامي تولنه کي ځيني کسان دځه وقتي اويا شخصي مصالحو په خاطر د سکولر حکومتونو اويا تنظيمونو سره مرسته کوي اويا عام خلک پدې خطاء کوي چه اوس ئې وخت ندی اويا موږ له دوی ځخه کار اخلو دداسي کسانو په هکله الله ج فرمائي :
وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْ بَعْضِ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ : (۱)
ترجمه : او حکم کوه اې محمده ص اويا امتي دمحمده په مينځ کي ددوی په هغه شي چه نازل کړيدی الله ج ، او مه کوه متابعت دآرزوګانو ددوی ، او وويريږه (ځان وساته) له دوی نه چه

(۱) سورة المائدة ، آيت ۴۹

وانه روي (ونه کړځوي) تاله ځینی هغه شی
څخه چه نازل کړيدی الله ج تاته ای محمده،
تفسیر : یعنی یوتربله په اختلافاتوکي
که څه هم تول دنیا سره لاس اوګریوان شي
خوتاسی ته همدا حکم دی چه سم د ما انزل الله
سره حکم کوی او دهیچا د ویلو او د اورولو
هیڅ پروا مه کوی . (۱)
پورتنی آیت د هغه فاسدو او ناروغو اذهانو
لپاره کافي علاج دی چه وائی نن په تول قرانکریم
باندي عمل کول ممکن نه دی اویا داچه دخارجی
دنیا سره ارتباط نشو ساتلای اویاداچه د غه کار
چه مو روان کړیدی بیا دغه هم نشو کولای، او
یا د څه مصلحتونو په خاطر څه کوو : د قرآن
صریحه فیصله ده چه د چا د خواهشاتو په خاطر
به د الله ج حکم په هیڅ صورت نه پریښودی .

(۱) تفسیر کابلی ص ۶۹۲
ج - دوهم

الله عزّ وجلّ غیر د اسلام څخه نور ټول قوانین حکمونه او نظامونه د جاهلیت حکمونه بللی دي لکه چه فرمائي :

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ : (۱)

ترجمه : آیا پس حکم د جاهلیت غواړي او د الله ج د حکمونو څخه بغل کاږي ، او څوك ډیر ښه پوهیږي له الله ج څخه له جهته د حکم هغه قوم ته چه یقین لري په الله . یعني هیڅوك ندی .

تفسیر : یعني هغه کسان چه د الله تعالیٰ په مالکیت او شهنشاهي او کامل رحمت او محیط علم باندي کامل یقین لري د دوی په نزد په دنیا کي د هیچا حکم د الله تعالیٰ د حکم په مقابل کي د التفات وړ نشي کیدای : نو بیا ولي د اخلك د الله تعالیٰ د احکامو د ړنا له راتللو څخه وروسته

(۱) سورة المائدة : آیت ۵۰

دکمانونو او اهواؤ او آراؤ او کفراو جاهلیت
د تیارو په لوري تلل خوښوي . (۱)
د پورتنۍ قرآني آیاتونو په رڼا کي دا دې ثابت کولو
کوښښ وشو چه په اسلام کي حکومت شته
حاکم شته قانون شته ، د دنیا او آخرت د ژوند
مربوط تول نظامونه شته ، او اسلام یو کامل
دین دی چه په هغه کي د سکولرزم او لادینیت هیځ
ځای نشته :
که څوك په اسلام او یا اسلامي تولنه کي د دین او
دولت د جلا کولو کوښښ کوی او یا ئې تطبیق
نه کوي هغه د پورتنۍ آیتونو له مخې کافر بلل
کیږي او دا د جاهلیت پر لار روان بولي ، او په اسلامي
تولنه کی د ده هیڅ ځای نشته او نه د ده اعمال
او اقوال د اسلام څخه ترجماني کولای شي .

---

(۱) تفسیر کابلی ؛ ص ۶۹۳ / ج ـ دوهم

* د حکومت إثبات د حدیث له نظره *

دا د إسلام د حقیقت او د ایمان د کمال سره منافي ده چه مسلمان څه په ټولنیزه ول او څه په ځانګړې توګه د اسلام د ټولنیز حکمونو څخه اړیکي وشلوي، او مازې پدې هیله چه مسلمان ته له دنیا نه همدا کافي ده چه صِرف دیو څو معتقداتو عباداتو او اذکارو په وسیله له خپل خداې سره اړیکي ونیسي او د مسلمانانو د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او داسي نورو چارو تنظیم وهغو خلګو ته وسپاري چه د امت له هیڅ توهین او سپکاوي څخه ځان نه ژغوري، او د اسلامي اُمت پر ټاټوبي باندي د استبداد، تیري او ګمراهي تور بیرغ وریپوي :

په شعوري یا غیر شعوري توګه د سکولرستانو او بې دینانو سره دا نغرې بدرګه کوي چه په اسلام کې نظام حکومت نشته، او یا دا چه

سیاست د مسلمان کار ندي او وائی چه زمانی

د سیاست سره څه اود اسي نور ،

اود خپل پیغمبر محمد مصطفیٰ احمد مُجتبیٰ (ص)

دا زرین اقوال ئی هیرکړیدی لکه چه فرمائي ،

لایحِلّ لثلاثةٍ یکونون بفلاةٍ من الارضِ

اِلّا اَمَّرُوا اَحَدَهم ؛ (۱)

یعنی هغه دروکسانو ته جائز نده چه د ځمکی

په یوه تکړه کي سره اوسیږی مګر نه راچه یو

د دوی څخه به امیر کوي ،

او په بل حدیث کی فرمائی ،

اذا خرج ثلاثة یکونون في سفرٍ فلیؤمّروا

أحدهم ؛ (۲)

یعنی که دری کسان په سفرکي سره ووتل دخپل

مینځ څخه دی یونفرامیر وټاکي ؛

د پورتنیو دوو حدیثو څخه معلومه شوه چه

(۱) مسند الإمام أحمد عن عبد الله بن عمر (رض) (۲) سنن أبی داوٗد عن أبی سعید (رض)

د اسلام پیغمبر(ص) د پیروکوچنیو ټولنولپاره هم دیوامیر ټاکنه ضروری بللې ده ، نو دلوی ټولنې لپاره خوترهغه نه زیات ضروری ده .

داچه پر اسلام او اسلامی ټولنه کی حاکم او حکومت څومره مُهم دی ، ددې اندازه دلاندنیو حدیثو څخه ډیره ښه معلومیږی :

عن ابن عُمر(رض) قال سمعتُ رسول الله صلّی الله علیه وسلّمَ یقول : من خلع یدًا مِنْ طاعةٍ لقِیَ الله یوم القیامةِ ولا حُجّةَ له . (۱)

د حضرت عبدالله بن عمر(رض) څخه روایت دی : وایې مادرسول الله(ص) څخه اوریدلي دي : چه ویل ئې که چاخپل لاس دامیر له اطاعت څخه وایستی یعنی دځان لپاره ئې هیڅ امیر نه درلودی ؛ نو دی به دقیامت په ورځ دالله عزّوجلّ سره داسي مُلاقی کیږي چه هیڅ دلیل به نلری .

(۱) صحیح مسلم : ص ۱۲۸ ج - ۲ طبع قدیمی کتب خانه کراچی .

اوبیا بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمائي :

ومن مات ولیس في عنقه بیعة مات میتة الجاهلیة؛ (١)

ترجمه : اوکه څوك مړ شي او دده په غاړه کی دامام یاحاکم سره بیعت نه وی دده مړینه داسی دی لکه دیوداسی جاهل چه بیخی ئې اسلام نه وی راوړی .

اوبیا بل حدیث شریف کې فرمائي : مَنْ مَاتَ ولیس عَلَیه إمامٌ فمیته میتة الجاهلیة ، (٢)

ددې حدیث مطلب هم دپورتنی حدیث په شان دی، البته په دې حدیث کی لفظ دامام صراحةً ذکر شویدی ، کیداشي چه دهغو کسانو لپاره بنه جواب وي کوم چه دبیعت څخه بیعت دیوه پیر اخلی ، اوبل دامعلومه شوه چه سیاست او حکومت ، امیردول اوامارت کول داسلام یو جزء دی ؛ ځکه ددین یوانفرادي اړخ دی اوبل اجتماعي ، که داسلام دیوه جزء څخه یوڅوك

(١) رواه مسلم عن أبي هریرة رض (٢) رواه البزار والطبراني ؛

منکرشي هغه د پورتنيو حديثونو په مضمون راسی جاهل بلل کيږی لکه اسلام چه ئې بيخی نه وي راوړی ؛ هم دا وجه ده چه حضرت شاه ولی الله (رح) دخلافت داسی تعريف کړيدی ؛

هی الرياسة العامة لإقامة الدين بإحياء العلوم الدينية وإقامة أركان الإسلام والقيام بالجهاد ومايتعلق به من ترتيب الجيوش للمقاتلة واعطائهم من الفئ والقيام بالقضاء وإقامة الحدود ورفع المظالم والأمر بالمعروف والنهی عن المنكر نيابةً عن النبی صلی الله تعالیٰ عليه وسلّم ؛ (۱)

ترجمه ؛ خلافت هغه عام رياست دی چه په هغه کي د علوموديني په ژوندي کولو سره دين قائميږي اود اسلام احکام پرځای کول ، جهاد اود هغه متعلق امور، لکه د فوځ برابرول اود غنائمو توزيع کول اوداسی نور ترتيب کول ، اوقضاء کول ، د حدودو

(۱) إزالة الخفاء عن خلافة الخلفاء ؛

پرځای کول ، او د مظلوم څخه ظلم پورته کول په ښو باندي أمر کول او د بدو څخه منع کول داټول د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د یو نائب په ډول سرته رسول دي .

نبی کریم صلی الله علیه وسلم د آمر یا حاکم د اطاعت حد هم معلوم کړېدی : فرمائي ؛

﴿ السمع والطاعة حقٌ على المرءِ المسلم فيما أحبّ وكرِهَ مالم يُؤمَر بمعصيةٍ ، فإذا أُمِرَ بمعصيةٍ فلاسمعَ ولاطاعةَ ﴾ (۱)

یعنی پر هر مسلمان اوریدل او اطاعت کول په هر خوښ او ناخوښ کی واجب دی ، ترڅو چه په ګناه باندی امر سوی نه وی ؛ او که په ګناه کولو امر سو بیا اوریدل او اطاعت کول واجب ندی . لکه څرنګه چه پدې حدیث کی صریح فرمائي ؛

﴿ لاطاعةَ للمخلوقِ في معصيةِ الخالقِ ﴾ (۲)

---

(۱) رواه أحمد والستة عن ابن عمر (رض) (۲) أخرجه أبوداؤد والنسائي ؛

داحدیث عام دی، یعنی په ګناه کی د هیچا اطاعت پر هیچا واجب ندی.

ددې په شان داحادیثو په کتابو کی ډیر حدیثونه ستته؛

او که داسلام د پیغمبر محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم سیرت او تاریخ مطالعه کړو، وینو چه اسلامي حکومت لمړی دده ترقیادت لاندي جوړ شو، او بل داچه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه یوازی داچه د محراب امام وُو بلکه داسی قاضی هم وُو چه دخلګو په مسائلوا وشخړو کي به ئې حکمونه کول، داسی نظامی قومندان وُو چه د شرك او ګمراهی پر ضد جګړو کی به ئې په پوره قهرماني سره برخه اخیستله، او همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی سیاست دان وُو چه دامت داخلی او خارجي چارې به ئې په ډیره ښه توګه اداره کولې؛ دده مبارك سیرت شاهدي ورکوی چه هغه جناب به کله دمسلمانانو او مشرکانو په مینځ کی تړونونه کوله، لکه دحُدیبیې جوړه: او کله به

ئې د مسلمانانو او یهودانو ترمینځ دا کار کاوه : لکه د خندق د غزا نه یو څه موده مخکې کله چې د مشرکانو مختلفې ډلې د مسلمانانو پر ضد د جنګ لپاره راټولې شوې وې . یو جوړه د مسلمانانو او یهودانو ترمینځ وشوه او دا سې نور مثالونه .

او کله چې د خلفاء راشدینو او صحابه کرامو تاریخ مطالعه کړو معلومیږي چې ټول و دین ، سیاست او حکومت کارونه ټوله پخپله کوله ، همدا وجه وه چې د دنیا کنج کنج ته ورسیدل : او د خلافت عثمانی تر ختمیدو پورې د مسلمانانو سیاست حکومت او قیادت د اسلامي علمانو او تقوی لرونکو اشخاصو په غاړه وو ،

او دا هم یو څرګند حقیقت دی چې تر هغوی به په دین باندې پوه او تقوی لرونکي څوک وه ؟ خو بیا هم څوک داسې نه ؤ چې اعتراض وکړي ، او یا ووائي چې دین او سیاست سره جدا شي دی : ځکه هغو داړوند جوړونکي دین په بنسټ توکه پیژندلی .

او درك كړي ؤ ، او پدې پوهيدل چه سياست او قيادت هم د اسلام يوجز دى، داځكه چه اسلام د مغوى په نظر يوازي د يوڅو ركعته لمونځ او دعاګانو مجموعه نه وه ، بلكه يوجهانى نظام ؤ چه د ژوند ټولي چاري به يې سنبالولي :

دا يومنل شوى حقيقت دى چه ټول مؤرخين حتى د اسلام دښمنان هم پرې متفق دي چه په اسلامي نظام كي د خليفه سره بيعت پدې شرط كيدى او كيږي چه هغه به په كتاب الله او نبوي سنت حكم كوي او تر مغوبه دده نه پلوي او فرمانبرداري كيږي چه د شريعت احكام تطبيق كوي ، او كه يې نه كوى نو نه يې خبره اوريدل كيږي او نه يې اطاعت كيږي داځكه چه هغه كار چه دالله د عصيان أسباب برابروي په هغه كي د مخلوق إطاعت شرعي جواز نه لري .

موږ د إسلام د تاريخ په اوږدو كي داوسنى مرحلې ته پر ته چه د يهودو او نصاراؤ روزل شوو ګوډاګيانو لخوا د دين څخه د دولت د بېلتون چيغي

پیل کړی دی ، داسې خبرې نه دي او ریدلې چه ځینو خلکو او یا ډلو دی د حکومت ، اقتصاد ، ښوونې او نظامی چارو د اسلام څخه د بېلتون غوښتنه کړې وی ، بلکه هغه څه چه موږ ته رسیدلی دی هغه دا چه خلکو د هغه حاکم او امیر پر ضد پاڅون کاوه کوم چه په ټولنه کې نې شرعي احکام نه تطبیق کول ، او یا خوبې یوه برخه ځنډوله :

که موږ د خپلو خلفاؤ راشدینو تاریخ مطالعه کړو معلومیږي چه هغوی ټولو د خلکو داسې بیعت غوښتی که ما د کتاب الله او سنت نبوی مطابق حکم کاوه نو تاسو زما خبره اورئ او زما اطاعت کوئ او که مې د دې مخالف حکم کاوه نو تاسو زما خبره مه اورئ او مه زما اطاعت کوئ :

او دا کار تر هغو دوام د رلودی تر څو چه دا ولجنګ جهان په جریان کې خلافت عثماني ړنګیدی او مسلمانان د نصراني نړۍ په زهرو لړل کیدل ، کله چه ځنی اسلامي هیوادونه د دوی تر رسمي استعمار

لا تدي راغله او يا ځنې اسلامي ځوانانو د غرب په
عيسائي پوهنتونو كي نصراني طرز سياست ووايه،
او د اسلامي طرز سياست څخه ناخبره وخپلو هيوادو
ته راوګرځيدل، نو دا نارې ئې شروع كړې چه دين
او سياست هيڅ اړه نه سره لري، ځکه ده هلته
د نصاراو د غه شعار زده كړيدى چه وائي (دَعْ ما
للهِ لله وَدَعْ ما لقيصر لقيصر) :
او د پښتو د دې متل مطابق چه څه كرې هغه به ريبي.

* د اسلامي سياست او سكولر سياستونو ترمينځ توپيراوفرق *

د اسلامي سياست او د دنيا د نورو سياستونو لکه
كمونيزم، امپرياليزم، سكولرزم، نيشنلزم او د اسي
نورو ترمينځ ډير څرګند او واضح فرق شته چه څه ئې به
مختصر ډول لاندې ليکم :
۱ = اسلام هغه سياست مدا ران چه د اسلامي سياست
دعوه كوي تر هر څه مخکي پدې امر كوي چه څه

غواړي هغه باید لمړی پرخپل ځان او بیا پرخپله کورنۍ عملي کړي لکه چه الله ج فرمایي :

﴿ وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ﴾ (۱)

ترجمه : او ووایه ای محمده (ص) ودوی ته تاسي عمل کوی دخه چه موږ غواړي، ډیر ژر به الله ج او د هغه رسول (ص) اوتول مؤمنان ستاسي عمل ووینی چه تاسی ترکومه ځایه پوري د صدق او استقامت عملي ثبوت ښودلی شئ، اودا چه د خپل عمل کولو نه وروسته يې امر کوی چه پرخپل کورنۍ او خپلوانو باندې يې عملي کړي فرمائی :

﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴾ (۲) ترجمه : وبیروه ای محمده (ص) ستا نژدې خپلوان :

د أصول تفسیر د دې أصل مطابق چه وائي، د قرانکریم مورد خاص خو حکم يې عام دی، نو ویلای شو چه

---

(۱) سورة التوبة ، آية ۱۰۵ (۲) سورة الشعراء آية ۲۱۴

داحکم و ټولو هغو کسانو ته دی چه د محمد ﷺ د حق
اتباع عقیده لري او د هغه سیاست تعقیبوي ، ځکه
په خیر غوښتلو کی د خپلوانو حق مقدم دی : او بل دا چه
د انسان صداقت او حقانیت د خپلوانو او اقاربو سره د
معاملې له مخې ازمیښت او سنجول کیږي چه هلته
د هغوی سره د ده څرنګه معامله ده ، د خپلې دعوې
مطابق ده که مخالف :

او د اسې عمل چه خپله ئې نه کوي او بل په امر کوي
الله ﷻ په قرآنکریم کې د بیهودانو عمل بللي دی او فرمائي
﴿ اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ
تَتْلُوْنَ الْكِتَابَ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴾ (۱)

ترجمه ، آیا تاسو نورو خلکو ته امر کوئ په نیکی
سره او خپل ځانو نه موهیر کړیدي ، حال دا چه تاسي
کتاب لولی (چه پکښي د قول او عمل په نه سمون وعید
دی) آیا تاسي نه پوهیږی د خپلو افعالو په بدی ؛

(۱) سورة البقرة : آیت نمبر (۴۴)

دیهود وځینې عالمانو به داسې کار کاوه چه نورو خلکو ته به ئې ویل چه د اسلام دین ښه دی او دوی به خپله نه مسلمانیدل ؛ ددې آیت کریمه مطلب دا دی چه واعظ ته ښائي چه په خپل وعظ باندې خامخا عمل وکړي ؛

اول دا چه اسلام د هغه کسانو د پاره چه قول او فعل ئې یو نوې ډیر سخت وعید بیان کړیدی ، لکه څرنګه چه الله ج په قرآنکریم کې فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ (۱)

ترجمه : ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدی ولې وایاست هغه څه چه نه ئې کوی ، ډیر لوی او سخت دی دالله ج عذاب په نزد ددې چه تاسو وایاست هغه څه چه عمل ئې نه کوئ ؛ یعنی هر بنده ته ښائي چه دلویولا پو وهلو او ناحقه دعوې څخه ووېرېږي :

(۱) سورة الصف آیت نمبر (۲ ـ ۳)

د پورتـنی مختصر تحقیق څخـه معلومـه شوه چـه د اِسلامي سیاست بنیاد د قول او فعـل پر والی دی، او پر هغـه باندی پخپله عمل کول، او په خپله کورنۍ کي عملي کول، او بیا په نورو کي دعوت کول دي:

نو کولای شو چـه د دنیا ټول سیاست مداران په دغـه ترازو باندی وتلو او وګورو چـه په هغوی کی ترکومي اندازي پیدا کیدای شي، د مثال په توګـه د کمونیزم مساوات ته ګورو چـه د هغوی د لوړ او کښتـه تنخوا په یوه اندازه ده؟ او نور د ژوند نظام ئې په یوه ډول دی؟: او د قوم پرستانو نارو ته وګورو چـه د هغوی د خپل قوم سره علاقې په یوه ډول دی؟ او داسی نور:

او دا چـه ځیني کسان د اسلام د مقدس نامـه څخـه استفاده کوی وهغوی ته هم د دغـه پورتـنی قرآني آیاتونو په هنداره کي ګورو چـه هغوی ترکومی اندازي اسلام پر ځان، کورنۍ او خپلوانو عملی کړیدی؟:

۲ = اسلام حکومت او سیاست یو امانت بولی: لکه

ځرنګه چه د اسلام پیغمبر فرمائي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ فَضَرَبَ عَلٰى مَنْكِبِيْ ثُمَّ قَالَ يَا اَبَا ذَرٍّ اِنَّكَ ضَعِيْفٌ وَاِنَّهَا اَمَانَةٌ وَاِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَّنَدَامَةٌ اِلَّا مَنْ اَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَاَدَّى الَّذِيْ عَلَيْهِ فِيْهَا: (۱)

د حضرت ابی ذرؓ څخه روایت دی چه دی وائي، ما وویل ای رسول اللهﷺ آیا ما نه امیر کوې په یوځای باندې، رسول اللهﷺ زه په اوږه باندې ووهلم، او بیا ئې راته وویل ای اباذره ته ضعیف ئې او دا یو امانت دی او د قیامت په ورځ نقصان او پښیمانتیا ده، مګر نه د هغو کسانو د پاره چه په حق ئې واخلي او حق ئې اداء کړي:

د پورتني حدیث څخه معلومه شوه چه حکومت او سیاست یو امانت دی، او د امانت په هکله اللهﷻ په قرآنکریم کي داسې فرمائي ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ

(۱) رواه مسلم عن ابن عباسٍ رضی الله تعالی عنهما،

تُؤَدُّوا الْاَمَانَاتِ اِلٰی اَهْلِهَا ﴿ (۱)

ترجمه : بېشکه الله (ج) امر کوي په تاسې اې مؤمنانو ددې چه وسپارئ امانتونه اهل د امانتو ته :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (رض) عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اِسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلٰی عِصَابَةٍ وَفِيْ تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُوَ اَرْضٰی مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللّٰهَ وَخَانَ رَسُوْلَهٗ وَخَانَ الْمُؤْمِنِيْنَ : (۲)

حضرت ابن عباس (رض) روایت کوي د رسول الله (ص) څخه چه فرمائي که چا یو سړی د انسانانو پر یوه ټولګه باندی امیر کړ او په دغه ټولګه کی ترده بنه سړي وُو نو ده د الله (ج) سره خیانت کړیدی او د الله (ج) د رسول (ص) سره يې خیانت کړیدی او د مؤمنانو سره يې خیانت کړیدی :

عَنْ اَبِيْ بَكْرٍ (رض) عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَدِيْثِ : وَمَنْ وَلِيَ مِنْ اَمْرِ الْمُسْلِمِيْنَ شَيْئًا

(۱) سورة النساء ، آية ۵۸ (۲) رواه الحاکم

فَأَمَّرَ عَلَيْهِ أَحَدًا مُحَابَاةً فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا حَتّٰى يُدْخِلَهُ جَهَنَّمَ ؛ (۱)

حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي که یو چا ته د مسلمانانو امارت ورکړه شو او هغه بیا د خپل شخصي محبت او تعلقاتو پر بنیاد کښته والیان او امیران مقرر کړل، پر ده با تدی د الله لعنت دی او الله د ده هیڅ قسم تصرف د عدل او د ظلم نه قبلوی ترڅو چه دی جهنم ته داخلوی ؛

که د اسلام د دغه زرینو اصولو په رڼا کې د اوسني عصر سیاست پوهانو او تحریکونو ته وګورو وینو چه دوی سیاست او حکومت د خپلو ځانو حق بولي، یا د أکثریت پر بنیاد یا په میراثي توګه او یا د قدرت او غلبې پر أساس، که څه هم د دوی دغه غوښتنه د سلاح په زور او انسان وژنه سره کیدای شي هم نې پروانه کوي او نه هم خپل

(۱) رواه أحمد والحاکم ؛

ځانونه پر ناحقه بولي، که څه هم دوی په ټولنه کي غیرمطلوب او ناخوښه شخصیتونه وي.

۳ = په ځپله خوله نه غوښتل: د دې د پاره چه په إسلامي ټولنه کي د نورو ټولنو په شان د قدرت پر سر جنګ او جدل شروع نشي، وقت او قوت ئې په ځپلو مینځوکي ضائع نشي، د إسلام پیغمبر(ص) وخپل امت ته داسي هدایت کوي او فرمائي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بنِ سَمُرَةَ (رض) قَالَ قَالَ لِی رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْأَلِ الْاِمَارَةَ فَاِنَّكَ اِنْ اُعْطِیْتَهَا عَنْ مَسْئَلَةٍ وُكِلْتَ اِلَیْهَا وَاِنْ اُعْطِیْتَهَا عَنْ غَیْرِمَسْئَلَةٍ اُعِنْتَ عَلَیْهَا ؛ (۱)

حضرت عبد الرحمٰن بن سمرة (رض) وائي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته وویل چه د حکومت امارت غوښتنه مه کوه که ستا د غوښتني په صورت کي د حکومت امارت درکړه شو ستا سره به د الله (ج) نصرت نه وي، تو او

(۱) متفق علیه ؛ مشکوٰة صفحه ۳۲۰

خپل ځان به سره پاته شي اوکه بغیرد غوښتنې درکړه شو الله (ج) به ستا نصرت اوکومك کوي ، په یوبل حدیث کې فرمایي :

عَنْ أَبِيْ مُوْسٰی (رض) قَالَ دَخَلْتُ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَا وَ رَجُلَانِ مِنْ بَنِيْ عَمِّيْ فَقَالَ اَحَدُهُمَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمِّرْنَا عَلٰی بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللّٰهُ وَقَالَ الْاٰخَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ اِنَّا وَاللّٰهِ لَا نُوَلِّيْ عَلٰی هٰذَا الْعَمَلِ اَحَدًا سَأَلَهُ وَلَا اَحَدًا اَحْرَصَ عَلَیْهِ ، (۱)

حضرت أبوموسی (رض) وائي چه زه نبی علیه السلام ته راغلم زما سره دوه زما دا کا زامن وه ، یوه د دوی ځنی ووېل ای رسول الله (ص) ما پر یوځای امیر وکړځوه اوهغه بل هم داسي ووېل ، نبي علیه الصلوة والسلام ووېل قسم په الله (ج) موږ داسي چا ته ولایت اوامارت نه ورکوو چه هغه يې غوښتنه کوي او نه يې هغه چا ته ورکوو چه پر دغه کار حریص وي .

(۱) متفق علیه ، مشکوة صفحه ۳۲۰

د پورتنیو حدیثونو د مضمون په شان د دغه آیت د
مضمون څخه هم دا مطلب اخستل کیږي ، الله (ج)
فرمائي :
تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي
الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾ (۱)
ترجمه : دغه کور د آخرت (جنت) ورکوو موږ
هغه کسانو ته چه نلري اراده د لوئي او تکبر په
مځکه کي او نه فساد چه ظلم کوي پر خلګو باندي
او عاقبت (ښه خاتمه) د پرهیزګارانو ده :
تفسیر : د آخرت ښیګڼي لاس ته راوړل لوی خوش
قسمتي ده ، او دغه ښیګڼه د هغو کسانو لپاره ده
چه د الله (ج) په ملك کي شرارت او فساد کول نه غواړي
او په دغه فکر کي له سره نوي چه خپل ځان د تولو
څخه لوی او لوړ بولي ، بلکه د تواضع او پرهیزګاری
لار ځان ته اختیار وي ، د دوی زیار او کوښښ د دي

(۱) سورة القصص ، آیة ۸۳

پرځای چه خپل ځان لوړ او لوی ښکاره کړي تل په دې کې وي چه خپل دین لوړ کړي او د کلمة الله په اعلاء کې کوښښ وکړي او خپل مسلمان قوم ویښ او سرلوړی کړي ، دوی د دنیا حریصان ندی بلکه پر آخرت عاشقان دی او دنیا پخپله د دوی تر پښو لاندی لغړې ،

نو اوس تاسې پخپله فکر وکړئ چه آیا د دنیا مطلوب د دنیا له طالب څخه ښه ندی ؟ (۱)

او بیا رحمة للعلمین صلی الله علیه وسلم د حکومت أمارت غوښتونکي حریصان د دغې غوښتنې د آخرنی انجام څخه خبر وی او فرمائی ، عَنْ أبي هريرة رضي الله عنه عَنِ النبيِّ صلى الله عليه وسلّم قال إنّكُم ستَحْرِصُون على الأمَارة وستكون ندامةً يومَ القيامَةِ فنعم المُرْضِعَةُ وبئستِ الفاطمة ، (۲)

حضرت أبوهريرة رض روایت کوي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چه ده وویل ژر به تاسې پر حکومت او أمارت باندي حرص کوی او ژر به تاسی د قیامت په ورځ پر دغه پښیمانه

(۱) تفسیر کابلی : ص ۲۹۲۳-۲۹۲۴ ج ۴ (۲) رواه البخاری ، مشکوة ص ۳۲۰

شي ، بنه ده تې ورکونکې او بده ده دې څخه پرېکونکې ؛

دلته ئې أمارت مشابه کړېدی د هغه مور سره چه څه مُده کوچنی ته تې (شېدې) ورکوي او بیائې ځنې بندی کړي یعنی که څه هم أمارت د څه وخت لپاره منافع او عزت یو څه درکوی خوکله چه بیا ځنې لېرې شی بیا ډېر افسوس او حسرت کوئ او دا به ستاسې د ډېرې پښیمانتیا سبب ګرځی کله چه تاسې د قیامت په ورځ والله ته د ټولو رعایاؤ د حقوقو حساب ورکوی ؛

د پورتنی مختصر معلومات څخه پس کولای شو چه د اوسنی زمانې د ټولو سیاسی نظامونو او تنظیمونو په غور مطالعه وکړو چه هغوی د قدرت د حصول لپاره څه ډول هلې ځلې کوی او د هیڅ قسم قتل ، ظلم او فساد څخه ډډه نکوی هغه ملت چه دوی والې مومي د هغوئ د خدمت لپاره مبارزه کوو د هغوی سره څه چلن کوي ، و قدرت ته تر رسېدلو له مخه د هغوی مالونه لوټ کېږی اولادونه ئې وژل کېږی کورونه ئې خرابیږی ، اوکله چه بیا قدرت ته ورسیږی صرف د خپل نژدې خپلوانو د عیاشی لپاره زمینه برابروی او خپل د تنظیم أفراد او أرکان بېله کوم تشخیصه پر دغه ملت حاکمان ګرځوی او د خارجی هېوادو

څخه دخپلو عیاشیو د پوره کولو لپاره د دغه ملت د وینو په پور په سود قرضونه اخلي او بس ، د افسوس خبره دا ده چه ځینی تنظیمونه د اسلام د نامه څخه په بده استفاده سره پورتنی لاره تعقیبوی .

* خــــاتمــــه *

لکه څرنګه چه مو مخکی ویلی دی چه اسلام د انسانانو د ژوندانه لپاره یو مکمل قانون او نظام دی چه خپل ځانته ځانګړي عبادات او ځانګړی د ژوندانه ټول نظامونه لری که د اسلامي قانون ټول نظامونه خپل کړو شی او یو انسان خپل ټول ژوند د هغه مطابق کړي نو بیا هغه ته مکمل مسلمان ویل کیدایشی ، په اسلام کی دا دې هیڅ ځای نشته چه عبادات به د مسلمانانو کوم خو معاملات به د اسلام په خلاف وی ځکه اسلام دیو څو معتقداتو نوم نه بلکه د یو مکمل نظام او قانون نوم دی ، دا چه څوک وائي اسلام زموږ دین دی او سوشلیزم زموږ معیشت دی هغه دا خبره هېره کړېده چه اسلام خپل معاشی نظام لری او یا دا چه دی د اسلامي دین په معنی او مطلب نه پوهیږی ، دا ځکه که څوک د سوشلیزم معاشي أصول راوړي او په اسلامي ټولنه کي

ئې عملي کوی نو ضرور به إسلامي أصول معاشيات ليري
کوی ، او یا د بل اِزَمْ نظامِ سیاست یا نظامِ تعلیم راوړی او
په إسلامي ټولنه کی ئې پیاده کوي نو ضرور به إسلامي أصول
لیری کوی ځکه دواړه یو ځای نشی سره چلیدای ، داسی
څوك صِرف خپل ځان او د ټولنی نورو خلکو ته دوکه او فریب
ورکوی چه وائی إسلام زموږ دین او کمیونزم یا سوشلزم زموږ
نظام دی ، دا ځکه چه إسلام یو مکمّل دین دی تجزیه
نه قبلوی ځکه الله عزّ وجلّ په قرآن کریم کی د داسی خلکو
په هکله فرمائي : أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ
بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ
الدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ
بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ۝٨٥ البقرة .

ترجمه : آیا منئ او إیمان راوړی تاسی پر ځینو أحکامو
د کتاب چه قرآن کریم دی، او کافران کیږی په ځینو
نورو أحکامو، پس نه ده سزا د هغه چا چه کوی دا کار ونه
له تاسی څخه مګر خو رسوائی ده په ژوند د دُنیا کې او په
ورځ د قیامت کی ګرځول کیږی دوئ د پر سخت عذاب

د دوزخ ته ، او نه دی الله غافل له هغه څه چه کوی يئ تاسی

تفسير * يعنی داسی کوی چه ځينی أحكام منئ او له ځينو

څخه إنکار کوی ، نو ددې لپاره چه د إيمان تجزيه ممکنه

نه ده نو ځکه د ځينو أحكامو منکر هم مطلق کافر کانه شی او

د ځينو أحكامو په منلو باندی چا ته هيڅ إيمان نه په برخه کيږی

ددې مبارك آيت څخه ښکاره په ول معلومه شوه که کوم

سړی ځينی شرعي أحكام منی او په متابعت کی يئ بوخت وي

مګر د ځينو هغو أحكامو له منلو څخه چه دده له طبيعت يا

عادت يا مقاصد و څخه مخالف وی إنکار کوی نو د هغو ځينو

أحكامو متابعت ده ته څه فائده نشی رسولی . (۱)

دا آيت که څه هم د يهودانو په هکله نازل شويدی خو د أصول

تفسير د قواعدو له مخي ويلای شو چه د آيت مورد خاص او حکم

يئ عام دی ، که دا عذاب د يهودانو لپاره کيدايشی خو د

مسلمانانو لپاره هم کيدايشی ، ځکه قرآن د مسلمانانو مکمل

قانون دی دا چه څه يئ منی او څه يئ نه منی د هغوئ لپاره هم

په دنيا کی رسوائي ذلت دی او هم په آخرت کی سخت عذاب دی

(۱) تفسير کابلي : ص ۱۲ ج - اول

داچه نن مسلمانان په ټول دنیاکې د رسوائۍ او
ذلت سره مخ دي کېدلیشي چه هغه وعید او عذاب ورته
متوجه وي، ځکه کړیهودوته الله عزّوجلّ داسې سزا ورکولیشي
نومسلمانانوته ئې هم ورکولیشي ځکه سزا خو دعمل پر بنیاد
وي ددغې سزا ور عمل چه هرڅوك وکړي هغه ته باید داغه
سزا ورکول شي :
دیومسلمان په حیث زموږ دا فرض دی چه ټول اسلامي أحکام
پرڅان، کورنۍ او ټولنه باندې نافذ کړو، هغه سیاست
وي که معاملات، تعلیم وي که إقتصاد، تجارت وي که زراعت
ساینس وي که طب، کورنۍ تعلقات وي که بهرنۍ، د دوستانو
سره وي که د دښمنانو سره، داځکه چه دا ټوله په إسلامي دین
کې په ډېره مفصله توګه ښودل شویدي او دوئ یوله بله هیڅ
نشي سره جلا کېدای، که د دې څخه یوڅه جلا کوي او پرڅای
ئې د بل قانون أصول عملي کوي نو بیا داسې عقیده پیدا کیږي
چه د إسلام دین (نعوذ بالله) ناقص دی، دا عقیده په خپله
کفر ده او په إسلام کې هیڅ ځای نلري، د مثال په ډول
که ووایو چه إسلام زموږ دین دی خو معاشي نظام موسوسیالزم

دی ، دسوسیالزم ټول معاشی نظام پرسود ولاړدی اوسود
په إسلام کی ډېره بد ترینه ګناه بلل شوېده ، الله عزّ وجلّ
فرمائي ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ
الرِّبَا إِنْ كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۝ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ
مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ
وَلَا تُظْلَمُونَ ۝ ۲۷۸ - ۲۷۹ ؛ البقرة .

ترجمه : ای هغه کسانوچه إيمان ئې راوړی دی ووېرېږی
له الله نه او پرېږدی هغه چه پاتی شوېدی له سوده که ئې تاسي
مؤمنان يقين لرونکی په شریعت په ربښتیا سره ، پس که ونکړی
تاسی دا کار نو آګاه شی اوځان تیار کړی تاسی په جنګ له
طرفه د الله او رسول دده ، اوکه توبه ګار شی تاسی له اخستلو
دسوده نو شته تاسولره أصل دمالونوستاسی ، نه به کوی تاسی
ظلم (چه سود به هم غواړئ) اونه دی ظلم کاوه شی پرتاسی
(چه له رأس لمال څخه موخه ستون کړه شی)

تفسیر * یعنی پخواله دې ممانعت څخه سود موچه اخستی دی
بلا پسې خو وروسته له دې ممانعت هغه سود چه اوښتی
دی مه ئې اخلئ ؛ تفسیر کابلی ص۶۲ ج اول

اوکه نې د ممانعت وروسته هم سود کوي نو دا د الله او د
هغه د رسول سره د جنګ إعلان دی ، د سود د بندېدلو
په هکله تردې نه بل کوم قانون سخت کېدای شي .
هدا د إسلام د ښمنان دي چه په إسلامي ټولنه کې ئې سود رواج
کړیې او ټول إسلامي ملکونه ئې د عالمي بانك يا مالياتي فنډ
د سودونو په ذريعه ترخپل کنټرول لاندې ساتلي دي ، نن
که إسلامي هېوادونه خپل إسلامي قوانين عملي کوي نو دوی
ورته قسم قسم بهانې کوي کله ورته وائي چه دا د ملك انساني
حقوقو مخالفت کوي اوکله وائي ترورست دی ، اوکله وائي
بنياد پرست دی ، اوکله وائي د ملل متحد أصول نه مني
او بیا د هغه فريبي ټولنې لخوا باندې إقتصادي بنديزونه
لګول کیږي او يا ور باندې د هر قسم سلاح آزموينه کيږي .
إسلام يو داسي دين نه دی چه بس صِرف د بنده او د الله
ترمنځ يوه شخصي معامله ده ، که داسي وای نو د إسلام
قانون به صرف د إنسان تر شخصي ژوندانه پوري تعلق درلودلای
او هغه به صِرف ترمسجد پوری وای ، صِرف د روژې او لمانځه
حکمونه به ئې راښودلای د ژوندانه نور نظام به ئې ټول د

یهودو او نصاراو څخه اخستلای ، خو صورتِ حال داسې نه دی ، بلکه د قرآن کریم هر آیت او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هر حدیث د انسان د ژوندانه هر اړخیزه لارښوونه کوي هغه که شخصي وي او اجتماعي ، داچې یو څوك قرآن او حدیث نه مطالعه کوي او یا اسلام د نورو أدیانو په شان بولي هغه داسې دی لکه ختلی لمر چه نه وینی او په سپینه ورځ کې شمع لګولې وي

د اسلام د مکمل قانون سره سره که یو څوك بل نظام ځان ته غوره کړی او یا يې ورکړه وي هغه هیڅ د قبلېدو وړ نه دی لکه څرنګه چه الله عزّ وجلّ فرمائي ، وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾ آل عمران .

ترجمه : او هر څوك چه غوره کړي غیر له اسلامه بل دین نو له سره به ونه منل شي له ده نه حال داچه وي به دئ په آخرت کې له زیان کارانو (چه د اسلام د پرېښودلو په سبب به تل په دوزخ کې پاته کیږي).

تفسیر * یعنی هر کله چه د الله جلّ جلالهُ دین اسلام په خپل مکمل صورت سره راورسېدی نو وروسته له هغه هیڅوك د دروغو یا نامکمل دین نشي منلی .

په دې مضمون کې که هر څو مره ولیکل شي شاید پای ته به ونه رسیږي نو ځکه غواړم نور د امضمون په دې دعائیه کلماتو ختم کړم چه الله عزّ وجلّ دې ټول مسلمانان د دښمنانو او طاغوتانو د چلونو او فریبونو څخه خلاص کړي ، او الله عزّ وجلّ دې د مسلمانانو عزت ، وقار ، برم او شوکت بیا را ژوندی کړي او الله تعالیٰ دې په مسلمانانو کې یو داسې إسلامي فکر پیدا کړي چه د نړۍ د ټولو مسلمانانو پیوستون کې او عملي و فکري جهاد بخښونکی وي او الله جلّ جلاله دې پر ټول إسلام باندې د عمل کولو توفیق را کړي . ومن الله التوفیق *

إنه ولي التوفیق *

٭ مأخذونه ٭

كتاب	مؤلف
١٭ القرآن الكريم	
٢٭ الجامع لأحكام القرآن	أبوعبد الله محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي رح.
٣٭ التفسير الكابلي	مولانا شبير أحمد عثماني رح.
٤٭ التفسير المراغي	أحمد مصطفى المراغي رح.
٥٭ تفسير فتح القدير	محمد بن علي بن محمد الشوكاني رح.
٦٭ التفسير المظهري	القاضي محمد ثناء الله العثماني رح.
٧٭ معارف القرآن "پښتو ترجمه"	مولانا محمد شفيع صاحب رح.
٨٭ صحيح البخاري	الإمام أبوعبد الله محمد بن إسماعيل البخاري رح
٩٭ صحيح مسلم	الإمام أبوالحسين مسلم بن الحجاج القشيري رح
١٠٭ مشكوٰة المصابيح	الشيخ ولي الدين محمد بن عبد الله الخطيب التبريزي رح
١١٭ أبوداوٗد	أبوداوٗد سليمان بن الأشعث السجستاني رح.
١٢٭ ابن ماجة	أبوعبد الله محمد بن يزيد بن عبد الله بن ماجة القزويني رح.
١٣٭ النسائي	الإمام أبوعبد الرحمٰن أحمد بن شعيب النسائي رح
١٤٭ الموطأ	الإمام مالك بن أنس رح.
١٥٭ مسند الإمام أحمد	الإمام أبوعبد الله أحمد بن حنبل المروزي رح.

كتاب	مؤلف
١٦* بلوغ المرام	الحافظ أحمد بن علي بن محمد بن حجر العسقلانيؒ
١٧* سُبُل السلام	السيد الإمام محمد بن إسمٰعيلؒ .
١٨* نصب الراية	العلامة جمال الدين أبي محمد الزيلعيؒ .
١٩* الهداية	برهان الدين أبو الحسن علي بن أبي بكر الفرغاني المرغينانيؒ
٢٠* رد المحتار	العلامة محمد أمين الشهير بابن العابدين الشاميؒ
٢١* كنز الدقائق	أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود النسفيؒ
٢٢* فتح القدير	المحقق كمال بن الهمامؒ .
٢٣* فقه على المذاهب الأربعة	العلامة عبد الرحمٰن الجزيريؒ .
٢٤* لامذهبي دور كا تاريخي پس منظر	محمد تقي أمينؒ .
٢٥* إسلام اور مذاهب عالم	إسرار الرحمٰن بخاريؒ .
٢٦* انساني دنيا پر مسلمانوں كا عروج و زوال	أبو الحسن علي الندويؒ .
٢٧* بين الأقوامي تنظيمين	ايس ، ايم ، شاهدؒ .
٢٨* اردو اور سكولرزم	إقبال خانؒ .
٢٩* إسلامي معيشت	مهر محمد نواز خانؒ .
٣٠* أصول الدعوة	عبد الكريم زيدانؒ .
٣١* مباحث في الغزو الفكري	قنديل محمد قنديلؒ .
٣٢* إنقلابات عالم	مرتبہ إدارہ تاليف وتصنيف شيخ غلام علي

كتاب	مؤلف
٣٣* محاضرات في الثقافة الإسلامية	أحمد محمد جمال ؒ.
٣٤* إسلام كاسياسي نظام	إسرار الرحمن بخاري ؒ.
٣٥* معجم الوسيط	مجمع اللغة العربية.
٣٦* لسان العرب	العلامة بن منظور ؒ.

تقریظ : فضیلة الشیخ العالم العبقري الفاضل مولینا عبد العلي الدیوبندي حفظه الله من کل مکروه ۔

[...]نه د کرمه تبارک و تعالی ! بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلي علی رسوله الکریم : حمد او ثنا ؟
[...]لیا ده د الله جل وعلا دا لیم چې په هر عصر او په هر زمان کښې یې حق بیان او حق پرست حضرات
[...]علمای کرام پیدا کړي دي چې هغوی علماوو ۔ د اسلام ضد عناصرو دسیسې او فریبونه
[...]ښکاره او بربنډ کړي دي او د خپل سپیڅلي اسلامي دین څخه یې دفاع کړې ده
[...]د هغوی د لې څخه جناب محترم الحاج مولینا مطیع الله آخندزاده صاحب دلوی عالم حضرت
[...]مولینا الحاج ملا عبد الحی اخندزاده صاحب اسحاقي رحمه الله تعالی خوی ارجمند
[...]دی . چې هغه کتاب د اسلام او سیکولرزم ایې جمع او تدوین کړی
[...]دی .

[...]نو موړی کتاب د کافرانو د اومونه، دسیسې او چلونه او د اسلام د دښمنانو
[...]نکارتیه د ځکې، او فریبونه یې نیمه ره ره بربلوالونه څخه تنند کړي دي او د مسلمانانو څخه
[...]یې د غفلت حجاب پورته او د دوی د ښکارۀ یې ور خلاص کړي دي . ځکه زه هم څان هم
[...]هغه کتاب مطالعه کړ . حقیقت د اسلام او حقیقت د اسلام او استقلال د
[...]نظام اسلامي او حیثیت او د حکومت اسلامي یې په کلمه وجه نقلاً او عقلاً توضیح کړی ده
[...]علماو او مفکرانو یې د عمده کتابونو نه په ډیر ښه ډول اثر را وړی ده .

جزاه الله خیر الجزاء .

وانا العبد الضعیف عبد العلي الدیوبندي عفي عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

تقريظ شيخ الحديث حافظ القرآن فقيه العصر مولوی محمد عبد الأحد قاسمی الديوبندی حفظه الله وابقاه.

الحمد لله وحده والصلوة على من لا نبي بعده:

عرض مې دا دی چې ما دغه رساله قیمته او مولفه شریفه المسماة باسلام او سیکولرزم چې جناب مولوی شفیع الله وحید حفظه الله تعالی ای باهتمامه ترتیب کړې ده په غایت توجه او امعان نظر مطالعه کړه. زما په فکر او نظر دا رساله په خپل موضوع کښې بې مثله او بې نظیره ده او زه منم چې مولف په خپل زیار او کوښښ کښې ددې تالیف انتهائي کامیاب دی.

الله تبارک وتعالی دې دغه سعی او عرق ریزی په خپل دربار کښې مقبوله او مشکوره وګرځوي او سبب د هدایت او رهنمائي د اهل اسلام او مسلمانانو وګرځوي او خدای تعالی دې وکړي چې ټول اهل نظر ددې لمر څخه رڼا واخلي. او باری تعالی دې دا رساله د مولف موصوف لپاره صدقه جاریه وګرځوي او صحت ته دې مزید توفیق ورته برخه کړي چې د اسلام مقدس دین خدمت جاري وساتي.

اللهم اجعل سعي المؤلف مشكوراً وعمله مبروراً وصنيعه ماجوراً آمين يا رب العالمين.

العبد الافقر محمد عبد الاحد قاسمي عفي عنه
نزيل رحمن هاوسنگ سکيم خطيب جامع
عمر بن الخطاب

تقریظ :

محترم قاضي مولوي نظر محمد صاحب دام فضله :-

بسم الله الرحمن الرحيم : الحمد لله وحده والصلوة على اهلها اما بعد : څرنګه چې ما په لنډ
وخت کښې د "اسلام او سیکولرزم" کتاب ځای په ځای مطالعه کړه او دا راته معلومه شوه
چه دا کتاب د موضوعاتو د پوره تحقیق او لیکوال د خیرې [illegible] مطالعې
او موضوعات وریاندی قیاس کړل او زه دا ګمان کوم چه هم دارنګه [illegible]
شو دا چې دغه کتاب په لوستلو او په مضمون پوهیدو سره [illegible] چې پوهه دي
وظیفه تکمیل کیږي بلکه د عصر او زمانې د اهم ضرورت تکمیل کیږي په تیره بیا
زموږ د ښوونځي او [illegible] لپاره ځکه چې دوی [illegible] او د غربي او شرقي
استعماري [illegible] نظریاتو او د بین الملل اداري په نامه د باطلو مفکورو او شیطاني
فرضیو سره مخامخ او لاس په ګریوان دي.

او دغه کتاب د تحقیق او [illegible] پوره شان سره د موضوعاتو تسلسل
د وسعت په [illegible] عام مسلمانان او خصوصاً [illegible]
[illegible] دي [illegible] چې په [illegible] او دقت سره [illegible] ترڅو د —
[illegible] او علمي [illegible] توجه د اهمیت [illegible] تر لاسه کړي. او زه [illegible]
د حق طالبانو ته هم د [illegible] کوم چې دغه کتاب مخلصانه زړه سره توجه
وکړي ځکه چې دغه کتاب به ان شاء الله تعالى د مسلمانانو د ديني علماو
او [illegible] په باب [illegible] ثابت شي او د [illegible] د [illegible]
به کامل [illegible] شي.

كفى وشفى ما في الصدور فلم يدع
لذي اربة في القول جدا ولا هزلا .

[illegible] د ... دي د مولف
محترم [illegible] دغه [illegible] کوشش لوی
[illegible] د مسلمانانو [illegible] مستفید
وکړو [illegible]

الداعي مولوي نظام الدين [illegible]
عفى عنه [illegible] ۱۳۷۴/۱۱/[illegible]

MADERSAH
IMAM ABU YOUSUF
GARAX MUSLIM COLONY, HAKSBAY ROAD
MARI PUR, KARACHI-24

مدرسه امام ابو یوسف رح
گرکس مسلم کالونی، ہاکس بے روڈ، ماری پور، کراچی نمبر ۲۴

Date: ....

تاریخ: —

باسمہ تعالیٰ

حامداً و مصلیاً   بنده لسلطان الدین شامزی د دی کتاب مؤلف محترم داکتر چې الله شاکر د
اسلام او سیکولرزم نومی کتاب د کتنو مسوده په لاس راکړه
نو ځکه چه په پښتوانه زمانه کښې د اسلام خلاف مختلفو فتنو سر راپورته کړے
ده او د امت علماؤ په هغه وخت کښې د هغو فتنو د سرکوبۍ د پاره
قلمی او لسانی جهادونه او هڅې کړی دی او زه هم داریګی په دې زمانه
کښې چه د اسلام او مسلمانانو خلاف کوم فتنې راپورته شوی دی
الله تعالی رحمت. علماؤ ته هم د دغه فتنو د سرکوبۍ توفیق ورکړے دے
د پښتنو په علاقو کښې او خصوصاً په افغانستان کښې د سیکولرزم او کمونزم
او قوم پرستئ فتنې د ډیر وخت راسې موجوده دی او هم د دغه فتنو د اسم
افغانستان ته ډیر زیان رسیدلے او په مکونو مسلمانانو تعداد شهید
البته دې وخت کښې د افغانستان د علماؤ او طالبانو د تحریک نه د اسلامی
بیدارئ شوی ده چه په افغانستان کښې د صحیح اسلامی حکومت د قیام د امید
قائم شوے لیکن بیا هم په عالمی اداره تحریک میدان کښې ضرورت ده چه
د هغه د پاره د دې فتنو تمام قسمونو ګرځه شي
الله تعالی د افغانستان نیک ګرده او د زمانه د هغه نوونه با خبره عالم الحضرة
مولانا مطیع الله عاقل صاحب ته توفیق ورکړے او هغه په دې موضوع باندې

قلم اوچت کړه او په دې موضوع يې ښه سير حاصل علمي بحث وکړه
او ډېر قيمتي مواد يې را جمع کړه

الله تعالی دې مولوي صاحب موصوف له نور هم توفيق ورکړي او د دوی دا کتاب به
او نور کتابونه چه په جديدو موضوعاتو باندې ئې ليکلي دي چه قبيل
د دربار الهي کښې قبول کړي او د امت ته د دې نه نفع ورسي
آمين

د نظام الدين شامزي
استاذ حديث ومشرف تخصص في الفقه الاسلامي
جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاؤن کراچي ۵
١٠ شوال سنه ١٤١٦ ه